www.nanafghan.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د قرآن کریم اعجاز

مؤلف: هارون یحیی

ژباړن: [illegible]حمد [illegible]فیظ (([illegible]پال))

Ketabton.com

۱۳۸۷هجری شمسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله لرم د پښتو ژباړې په اړوندخپلې نظریې اووړاندیزونه په دې پته راولیږی:
shafiq.haqpal@Gmail.com

دکتاب نوم: د قرآن اعجاز
مؤلف: هارون یحیی
ژباړن: محمدشفیق «حقپال»
طرح او ډیزاین: شهریارکاکړ
کال:۱۳۸۷
یادونه: دغه کتاب له انګریزی څخه ډاکتر فرید آسمند دری ژبې ته ژباړلی چې پښتو ژباړه یې له دری نه   شوې.
کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


د قرآن اعجاز ........ 1
دقرآن کريم علمی معجزې ........ 2
دکايناتو يانړۍ پيدايښت ........ 2
دکايناتو پراختيا ........ 3
دنړۍ پای اوسترانقباض ........ 4
له تاوده لوګي نه خلقت ........ 5
دځمکې اوآسمانونو جلا کيدل ........ 5
د داروين د تکامل د نظريې تيروتنه ........ 6
په نړۍ کې مطلق تعادل ........ 6
په نړۍ کې لطيف ميزان ........ 7
دسترې چاودنې چټکتيا ........ 8
دآسمانی جسمونو په مينځ کې واټن ........ 8
دستورو ، لمر اوسپوږمۍ په مينځ کې دجوړښت توپير ........ 10
النَّجْمُ الثَّاقِبُ ........ 11
مدارونه اوڅرخيدونکې نړۍ ........ 11
دلمر تکلوری ........ 12
دسپوږمۍ مدار ........ 12
دقمری يا سپوږمېزکال محاسبه ........ 14
دثقل قوه اوخوځښتونه په مدارونو کې ........ 14
کروی(ګرده ) ځمکه ........ 15
دځمکې دڅرخيدو لوری ........ 15
دځمکې شکل Geoid ........ 15
دځمکې قطرونه اوخلأ ........ 16
دځمکې دچاپيريا ل پوړونهAtmosphere ........ 16
ساتونکی چت ........ 17
ستنيدونکی آسمان ........ 18
دځمکې طبقې يا پوړونه ........ 18
دځمکې دچارچونو کانګې ........ 19
دغرونو دندې ........ 19
دغرونو خوځښتونه ........ 20
دلمرختو اولويدو بيلابيل ځايونه ........ 21

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپای له ټکو نه دځمکې لنډول ........ 21
ځیرې کیدونکې یا چاودېدونکې ځمکه ........ 22
د اوسپنې معجزه ........ 23
د پطرولوجوړښت ........ 24
د وخت نسبیت ........ 24
په شپږوورځو کې پیداکیدل ........ 24
دتقدیر حقیقت ........ 25
د زوجونو یا جوړو پیدایښت ........ 26
د اتومونو ذرې ........ 26
تیاره یا تور سوری ........ 27
نبضانی ستوری ........ 28
د شعری ستوریSirius ........ 28
تیاره اوروښنایی ........ 29
پرته له اورنه احتراق یا سوزیدنه ........ 29
د وریځو دروند والی ........ 30
د باران اندول ........ 30
د باران جوړښت ........ 31
باران مړه ځمکه راژوندی کوی ........ 32
د ږلۍ ، تالندې اوبرېښنا جوړیدل ........ 33
بار(حمل) ورکوونکی بادونه ........ 34
دباد دجوړېدو پړاوونه ........ 34
فوتو سنتیزڅه ډول سهار مهال پیلېږی ........ 35
سمندرونه یو له بله سره نه ګډېږی ........ 36
په سمندرونه کې تیاره اوکورنۍ څپې ........ 36
هغه ځای چې زموږ خوځښت کنټرولوی ........ 36
دالله (ج) په یاد سره زړونه آرام مومی ........ 38
عبادت شفا موندنه چټکوی ........ 39
د دین دنه مراعات له کبله روانی فشار اوخپګان ........ 40
د انسان پیدایښت ........ 42
د منی څاڅکی Semen : ........ 42
له اوبونه د انسان پیدایښت ........ 46
له خټې نه جوړښت ........ 46
د جنینو تنظیم Gene ........ 47
حیض Menstruation ........ 48
د ماشوم د غړو د ودې ترتیب ........ 48
د شېدو جوړښت ........ 48

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مورشېدې یوه معجزه زېږونکی مخلوط ........ 49
د تل تازه خوړو په هکله حقیقتونه: ........ 49
دګوتې د نښې له مخې پېژندنه ........ 50
د انګبېنو موچۍ ........ 51
د انګبینو معجزه ........ 51
کجوره(خرما ) اوګټې يې ........ 52
اینځر یوه فوق العاده مېوه ........ 54
کب دخوړو یوه ښه منبع ........ 54
د خوك د غوښې روغتیایی زیانونه ........ 55
زیتون یوروغتیا بخښونکی نبات ........ 56
دزړه اونورو رګونو لپاره یی ګټې : ........ 56
د زړه د رګونو عملیات ........ 57
د خوځښت ، وینځلو اوڅښلو روغتیایی ګټې ........ 57
مکروسکوپیك ژوند ........ 57
د حیواناتو(ژوو ) تولنې ........ 58
له حیات نه تقلید: د طرحو لپاره د ژوو له جوړښت نه الهام اخستل ........ 58
د ملخانو ډلې ........ 59
د مېږیانو د اړیکو سیستم ........ 60
د خوړو دوران ........ 60
په خوب کې د غوړونو فعالیت ........ 61
د خوب په وخت کې د خوځښت اهمیت ........ 61
په شپه کې د خوځښت کمښت ........ 62
په لوړو سیموکې د سینې انقباض ........ 62
د قرآن وراندوېنې ........ 63
د روم بری ........ 63
د فرعون د بدن ساتنه ........ 64
د مکې فتحه ........ 64
دبنی اسراییلو قوم به ډیر کبرجن شی ........ 65
خلایی څېړنې ........ 66
د سپوږمۍ سفر ........ 66
د لېږد رالېږد عصری وسایل ........ 67
د الوتکې ټکنالوژی ........ 68
د تصویر لېږد ........ 68
د بوی لېږد ........ 68
له برېښنا نه ګټه ........ 69
د ارتیزن څاه ........ 69

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټکنالوژۍ کې د مېړيانو لښکر ........ 70
اتومي انرژۍ اوانشقاق ........ 71
د قرآن تاريخي اعجاز ........ 72
هامان او د مصر اهرام ........ 73
موسی(ع) او د سمندردوه ځایه کول ........ 73
هغه ستونزې چې فرعون اود ده ملکری ورسره مخامخ شول ........ 76
په قرآن کې د فرعون کلمه ........ 77
د نوح(ع) توپان ........ 77
د نوح(ع) د توپان لرغوني نښې ........ 78
د ارم ښار ........ 80
د سدوم او گموره ښارونه ........ 81
د سباخلک او د عرم سېلاو ........ 82
دحجرخلک ........ 84
په قرآن کې د رياضي معجزې ........ 84
په قرآن کې دکلمو تکرار ........ 84
د څمکې د وچې او اوبو انډول ........ 85
په قرآن کې د ابجدشمېرې ........ 86
په قرآن کې د نولس عدد معجزه ........ 87
د ادبياتو له اړخه د قرآن کمالد قرآن د تقليد ناشونتيا ........ 91
د قرآن د تقليد ناشونتيا ........ 92
په قرآن کې د قافيو عالي ماهيت ........ 92
قرآن د الله (ج) کلام دی ........ 95

**د مؤلف په اړوند:**

هارون يحيی د عدنان اوختار مستعار نوم دی هغه په کال ۱۹۵۶ز کې دترکېې په پلازمينه انقره کې زېږيدلی دی هغه په انقره کې لومړی د هنرونو پوهنځۍ اوبيا يی دفلسفې پوهنځۍ لوستی. ده دماترياليستی فلسفې د ردولو په هکله يی ډېر کتابونه ليکلی.

له ۱۹۸۰ کال نه راپه ديخوايی ډېر شمېر کتابونه دسياست ، ساينس اوعقايدو په هکله ليکلی. ده د داروين د پړوايزتکامل د نظريی په رد کې هم مهم کتابونه ليکلی.

د ده مستعارنوم د دووپيغمبرانو له نامه يعنی هارون اويحيی نه اخستل شوی چې د بې عقيدتۍ په وړاندې يی کلکه مبارزه کړې.

دهارون يحی کتابونه دنړۍ په ډېرو ژبو له هغې ډلې نه په عربی ، انگرېزی ، فرانسوی ، پرتگالی ، اردو ، فارسی ، پښتو ، ايتالوی ، جرمنی ، البانوی ، روسی ، يونانی ، ترکی اواندونيزيايی ژباړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده کارونه په نړۍ کې ستایل شوی اود ډېر شمېر خلکو د ایمان راوړلو لامل ګرځېدلی .
د دې لیکوال دکتابونو شمېر دهمدې کتاب تر لیکلو پورې ۱۲۳ علمی اودینی کتابونو ته رسېدلی.

www.harunyahya.com

## سپیڅلی قران تلپاتې معجزه

(د قرآن کریم اعجاز) د هغه علمي درانه او ارزښتناك اثر نوم دی چې ترکي لیکوال هارون یحیی لیکلی او ګران او فاضل ورور محمد شفیق (حقپال) پر پښتو ژباړلی دی.

زموږ پرمحبوب او درانه پیغمبر (ص) را نازل شوی د ستر پالونکی جل جلا له وروستی کتاب (قرآنکریم) په ریښتینې معنا یوه تلپاتې داسې معجزه ده چې د سپیڅلي پیغمبر له رحلت څخه ۱۴ سوه کاله وروسته یې اوس ساینس او تکنالوژي پر حقانیت او ریښتینولی ګواهي ورکوي.

(د قرآن کریم اعجاز) د خدای د سپیڅلي کلام په باب د ساینس او تکنالوژۍ پر همدې ګواهیو بحث کوي. څه ډول ۱۴ سوه کاله پخوا خدای په خپل برحق کلام کې بشریت ته هدایات را استولي او د کایناتو له رازونو یې خبر ورکړی چې اوس یې ساینس ټکي پر ټکي ریښتیا ثابتوي.

قرانکریم د ستر پالونکی رب له لوري بشریت ته د لارښوونې او هدایت وروستی کتاب دی چې تر قیامته به د ټولو زمانو او انسانانو لپاره وي ، آیا تر دې بله لویه معجزه کیدای شي چې قرآن د پرون انسان ته هم د وخت او حالاتو سره سم پیغام درلود او نن چې بشریت فضا تسخیر کړې او ساینس حیرانوونکی پرمختګ کړی دی قرآن بیا هم د تلپاتې او روښانه پیغام په توګه د بشریت هرې پوښتنې ، هرې اندیښنې او هرې ستونزې ته مناسب ، معقول او د فهم وړ ځواب او پیغام لري ؟

په دغه درانه اثر کې به لوستونکي د قرآن کریم پر همدې عظمت په زړه پورې بحث لولي ، د فتنو او مادي ځل بل په دغه دوران کې د داسې درانه او ارزښتناك اثر لیکل او دهغو ژباړه ډېر لوی خدمت او معنوي کار دی ، زه یې لیکوال په تیره درانه ورور (حقپال صیب) ته د ژباړې مبارکي وایم او له ستر پروردګار څخه یې قلم لاتاند ، پیاوړی او په همدغسې ارزښتناکو لیکنو بوخت غواړم ، همدغسې درانه لوستونکي ددې سپیڅلي اثر لوستلو ته را بولم تر څو معنوي فیض ترې واخلي.

په مینه اودرنښت
محمد زبیر شفیقي د 1387 لمریز
د تلې 15 مه- کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپښتوژباړن څوخبرې

عظیم الشأن قرآن هغه کتاب دی چې په هکله یې خبرې له انسانی فکر اوذهن نه دبړې اوچتې دی خوبیاهم پوهان دخپل ذهن اوفکر په کچه ددې ستر کتاب په هکله ځېنې ویناوې لری اوله دې پراخ سمندرنه ځاځکی رااخلی اوربناپرې اچوی .

قرآن دې ته اړتیا نه لری چې علمی اوساینسی پرمختیاوې یې یې حقانیت ثابت کړې اوبیا دمنلو وړشی ځکه خپله قرآن برحقه کتاب دی اودکایناتو دخالق کلام دی چې مسلمان باید هیڅ شک پرې ونه کړی دا قرآن دی چې علمی تاریخی ... وړاندوینې کوی او هغه رد یا تایید وی .

د قرآن متن ، دقرآن بیان د قرآن ترتیب د قرآن هره سوره هرآیت هریو دمقطعاتو توری اوهر ټکی یې اعجازدی . څوارلس پیړې وړاندی په دې وسعت سره کلام چې دیوه نالوستی پیغمبر له لارې نړۍ ته رسول شوی خپله یوه معجزه ده. دقرآن نه منونکی که قرآن نه منی خو هیڅکله اوپه هېڅ توان سره یې دهغه دیوې خبرې د ردولو توان هم نه لری . دبېلګې په ډول که قرآن ۱۴ پیړۍ مخکې وایی چې (هرنفس دمړینې څښونکی دی بیا تاسو زما لورته راګرځی) .العنکبوت ۵۷.

ددې آیت له نزول نه دادی بیا سوونه کاله تیر شول اودومره پرمختګونه وشول نه چا مرګ له منځه یووړ نه هم داچا ثابته کړای شوه چې دخدای محاسبې ته ورتلل نشته اونه به په راتلونکی کې علمی پرمختګونه اونه هم پرته له خدایه بل کوم څواک وتوانېږی چې یا مړینه ختمه کړی یاهم څوک دخدای (ج) له محاسبې نه وژغورل شی. قرآن داسې معجزه ده چې هربی ایمانه که یوڅه عقل هم ورسره وی باید ایمان پرې راوړی اوهغه دخپل ژوند لارښود وګرځوی .

د قران د علمی ، ساینسی اوتاریخې اونورو اړخونو دویناوو اواړوندو برخو روښانول زموږ پوهه دقرآن په اړوند لازیاتوی اوددې هراړخیز اوعلمی کتاب عظمت لاهم روښانوی.

د"قرآن اعجاز" دهمدغو لېکنو اوڅېړنو یوه بېلګه ګڼلی شو چې ترکی پوه هارون یحیی لیکلی دی. نوموړی کتاب داکتر فرید آسمند په خپل زیار په درې ژباړلی . کله چې دغه کتاب دژباړن له خوا ماته راکړل شو له لوستلو وروسته ډیرراته په زړه پورې ؤ اوپه خپل ډول کې له نادرو کتابونو نه ګڼل کېږی. سره له دې چې دکتاب دلیکلو له وخته یوڅه موده تیره شوې هارون یحیی صاحب په هغه کې څه زیاتونې هم راوستی چې موږ په دې متن کې هغه ځای نه کړای شوې خو بیایی هم همغه پخوانۍ لیکنی ډیری ګټورې اوپه زړه پورې دی ، نو ځکه مې دغه کتاب له فارسۍ نه پښتوته وژباړلو اونږدې یو کا ل یې په ژباړه اوکمپیوټر کولو بوخت وم . خدای د وکړی چې زما دغه هڅه سره له هغو کمزورتیاوو چې دژباړې په برخه کې یې شته دپښتوژبوویونکو ته ګټوره وی اوله دوی نه ددعا غوښتونکی یم. الله (ج) دې موږ ټول دقرآن عظیم الشأن رېښتینی لارویان وګرځوی.

په درنښت

**محمد شفیق "حقپال"**

د۱۴۲۹ ق. کال درمضان المبارک د مباشتې ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن اعجاز

**سریزه:**

څوارلس پیړۍ مخکې الله(ج) قرآن راولیږه ، دغه کتاب انساني عقل دحق لوری ته سیخوی اوټول بشریت ته تعلیم ورکوی څوچې دسپیڅلې وحې په ارزښتونو پوه شی. دوحې له وخته تر قیامته پوری به دغه کتاب دانسان دلارښوني لپاره دیوې بې ساری وسیلې په توګه پاتې شی.

په دغه کتاب کې الله (ج) فرمایی:

وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ

اونه دی دغه (قرآن) مګرپند لپاره د عالمیانو(القلم ٥2)

له هغه وخته چې قران راليږل شوی دیوې ساده اوآسانې ژبې اولهجې نه برخمن دی ، اودټولولپاره دپوهیدووړدی. الله (ج) په دې هکله فرمایی:

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

آسانه موکړ دغه قرآن لپاره د پند اخستلو ، آیا کوم پندمنونکی شته ؟(القمر ٢٢)

دقرآن دژبې ادبی کمال ، اوپه محتوا کی یی بیساری شیوه اوعالی پوهه ددې ثبوت دی چې دغه دالله کلام دی.

برسیره پردې قرآن په هره کلمه کی داسې معجزې لری چې ثابتوی دا د الله (ج) کلام دی. له هغو څخه ډیر شمیر علمی حقایق دی چې په دې سپیڅلی کتاب کی ځای شوی. په دی کتاب کی چې یوزروڅلورسوه کاله مخکی په محمد (ص) باندې نازل شوی ډیر شمیر معلومات شته چې په یویشتمه میلادی پیړۍ کې کشف شوی دی.

قرآن دعلمی موضوعاتو ترڅنګ ، په اصل کی یو اخلاقی اودمعنوی لارښوونوڅخه ډک کتاب دی. په یوویشتمه پیړۍ کې یواځې یوشمیر علمی معلومات چی قران کې موجود ؤدټکنالوژۍ په مټ کشف شوی دی ، چې دقرآن شریف دنازلیدو په وخت کې خلکوته لانه ؤ څرګند شوی اوهغوی ته دپوهیدو وړنه وو چې داپه خپله ددې ستر کتاب دحقانیت اوداچې دالله (ج) کتاب دی ثبوت ګڼل کیږی .

دقرآن عظیم الشأن دعلمی اعجازدپوهیدلپاره لومړی باید پوه شوچې هغه وخت علم څومره پرمختګ کړی ؤ ، دهغه په پوهیدوسره به موږ ته څرګنده شی چې دغه کتاب څومره خارق العاده او ارزښتناک دی.

په اوومه میلادی پیړۍ کې کله چې قرآنی آیتونه نازلیدل ، دعربو خلک په اوهامواوخرافی خیالونو کی کی غرق ول. دټکنالوژۍ اودطبیعت د پیژندنې په هکله لږه اونیمګړې پوهه ددی لامل ګرځیدلی وه چې اعراب په هغو تحریف شویو نکلونو اوافسانو ، پرته له پوښتنې باوروکړی چې له مخکی نسلونو څخه دوی ته پاتې وې. دبیلګې په ډول هغوی فکر کاوه چې داغرونه دی چې آسمان یی اوچت ساتلی ، اوغرونه هغه ستړې ستنې دی چې آسمان بې لکه دیوه چت غوندې پر ځمکه نیولی دی. په داسې یوه چاپیریال کې قرآن نازل شو ،چې د غفلت اوبې علمی پرځای یی عقیده ، ایمان اوسمی لارښوونې راوړې. دقرآن یو آیت وایی:

اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا

الله (ج) هغه ذات دی چې آسمان یی پرته له ستنو پورته کړی . (الرعد ٢)

دغه آیت هغه نظریه چې ګواکې آسمان دغرونو پرستنو ولاړدی ردکړه. قران له هغو حقیقتونوډک دی چې داسې وخت کې راښکاره شو چې خلکو یی دپوهیدو لپاره کومه وسیله نه درلوده. قران په داسې وخت کې نازل شوی چې خلکو له فزیک ، بیولوژۍ اونجوم څخه هیڅ کره معلومات نه درلودل ، خو دغه کتاب دبیګلې په توګه دعالم د جوړښت اوپیداکیدو ، له جنینی حالت څخه بیا ترزړښته پوری دانسان د پیدایښت اوودې ، دځمکې دماحول جوړښت(Atmosphere)، اوهغه توازن چې دځمکې په سره زموږ دژوندانه ضامن دی معلومات ښکاره اوبیان کړل.

دځینو دغو بېلګودتفصیل دپوهیدولپاره راځی چې دغه کتاب ولولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دقرآن کریم علمی معجزې

## دکایناتو یانړۍ پیدایښت

دشلمې پیړۍ ترمنځنیو کلونوپورې په اصطلاح ځینو علمی ټولنو کې داسې انګیرل کیده چې دغه نړۍ لایتنهایی اوبې پایه دتل لپاره موجوده ده اوتل به وجود ولری. ددغې فرضیې پربنسټ داسې ګڼل کیده چې کاینات ثابت Static Universe دی پیل اوپای نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې په پام کی نیولو سره چې نړۍ دثابتو اونه بدلیدونکو موادو ټولګه ده دمادی فلسفې بنسټ کیښودل شو ، چې په پایله کې  دخالق له وجود څخه ددغې فلسفې قبلوونکو انکار وکړ.په داسې حال کی چې په را وروسته موده کې ساینس اوټکنالوژۍ  دثابتوکایناتوفرضیه ردکړه.

اوس چې موږ په یوویشتمه پیړۍ کې یو اونوې څرکونه زموږ په انتظارکې دی. تراوسه ډېرشمیر تجربې ، څېړنې اومحاسبې دنړۍ دفزیک پوهانو اوڅېړونکو له خوا ترسره شوی اوثابته شوې چې نړۍ یو پیل درلود اوپه لنډه شیبه کی دیوې ځواکمنې چاودنې په پایله کې له هیڅ څخه رامینځته شوې. برسیره پردې اوس دماتریالیستانو دنظریې پرخلاف داثابته شوی چې دنیا ثابته اومعینه نه ده.

پرخلاف ددې نړۍ تل دحرکت  ، بدلون اوپراختیا په حال کې ده. داحقیقتونه نوی موندل شوی چې دمادی پرستانو دنظریی پرتابوت وروستی میخونه ټکوهی.علمی نړۍ اوس دغه علمی حقیقت منلی دی.

قرآن دکایناتو پیل داسې بیانوی:

بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ

(الله) دځمکې اوآسمانونو پیداکونکی دی. (الانعام ۱۰۱).

چې دپوهانو یادې شوی نوې موندنې دقرآن له دغې وینا سره مطابقت لری.

څه ډول چې مځکې وویل شول فزیک پوهان دې پایلې ته رسیدلی چې ټول کاینات له خپلو ټولو مادی اوزمانی ابعادو سره دیوې سترې چاودنې په اثر ډېره موده مځکې مینځته راغلی چې دغه پیښه دسترې چاودنې یاBig Bang  په نامه یادیږی چې له هیڅ څخه دکایناتو دپیداښت دنظریی  تاییدوونکی ګڼل کیږی.

څه ډول چې ټول پوهان اوس دې موافقې ته رسیدلی چې دغه چاودنه پنځلس میلیارده کاله مځکې له یوه ټکی نه صادره شوی.

اومځکې له دغې سترې چاودنې څخه دمادې په نوم څشی وجود نه درلود. دنیستی له حالت څخه چې نه مادې نه انرژۍ او ان وخت یا زمان موجود نه ؤ رامنځ ته شول. دغه مسأله چې په دې وروستیو کې څرګنده شوې څوارلس پیړۍ مخکې قران یاده کړې.

دامریکې دخلأ اوالوتنو ادارې  یاNASA په کال ۱۹۹۲ کی په خلأ کی دسترې چاودنې پاتې شونې وموندلې. دغه ستر کشف ډېر ښه مدرک دی چې له هیڅ څخه دکایناتو درامنځته کیدوحقیقت روښانوی.

## دکایناتو پراختیا

قرآن  څوارلس پیړۍ مخکی  چې هغه وخت لادساینس اونجوم پوهې لومړنی ښه درلوده د کایناتود پراختیا  په هکله داسې فرمایلی:

وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ

اوآسمان مو په خپل قدرت سره ودراوه اوهغه ته پراخوالی ورکوو(الذاریات ۴۷).

څه ډول چې په دې آیت کې لیدل کیږی د سماء کلمه چې آسمان ژباړل شوی دقرآن په ډېر ځای کې راغلی . سماء  په فضا اوپراخو کایناتو باندې دلالت کوی. اوپه دی ځای کی هم همدا مانا لری. یعنی چې کاینات پراخوالی مومی د(انا لموسعون) کلمه دا مانالری چې ( موږچې هغه ته مدام پراخوالی ورکوو). موسعون د وسعه له ریښې څخه اخستل شوې یعنی پراختیا ورکول اودله مانا یعنی ډېر دی. بنا پردې دغه جمله وایی چې: موږ آسمان یاکایناتوته ډېرپراخوالی ورکوو. داهغه پایله ده چې اوسنی پوهان پری پوهیدلی.

دشلمې پیړۍ ترپیله پوهان په دې اند ول چې کاینات ثابت طبیعت لری اوتل موجود دی. په داسی حال کی چې نویوڅېړنو  ، شواهدو اومحاسبو دمعاصری ټکنالوژۍ په مټ دا وښوده چې کایناتو پیل درلودلی اوتل به پراخیږی.

دشلمې پیړۍ په پیل کی روسی فزیک پوه الکساندر فریدمن اوبلجیمی ستوری پیژندوکی جورج لمیتر محاسبه وکړه چې کاینات تل دحرکت اوپراخوالی په حال کی دی. دغه خبرونه اومعلومات د۱۹۲۹ کال په لیدنو اوڅېړنو کی تایید شوی. ادوین هوبل امریکایی ستوری پیژندونکی دتلسکوپ له لاری ولیدل چې ستوری اوکهکشانونه تل یوله بل څخه لرې کیدو په حال کی وی. چې دغه لیدنه اوڅېړنه دستوری پیژندنې په پوهه کی ستره پرمختیا وه. هوبل وموندہ چې دستوروپه مینځ کې دفاصلی په زیاتیدو سره دهغو روښنایی سره کیږی. څکه چې دنوری فزیک له قانون سره سم هغه نور چې دلیدلو دټکی په لور راځی بنفش رنګ نیسی اوکله چې دلیدو له ټکی څخه فاصله نیسی ډېرسور رنګی کیږی. لنډه داچې دهوبل دمشاهداتو سره سم ستوری اوکهکشانونه هره شیبه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بله دلری کیدو په حال کې دی . هغه نړی چې هرڅه په هغه کې یو له بل څخه لری کیږی داسی نړۍ وی چې تل پراخوالی مومی. ددې موضوع دلاروښانتیا لپاره فرض وکړۍ چې نړۍ د پوقانې دسطحې په شان ده ، هرڅومره چې دغه پوقانه ډېره پو شی په همغې کچې یی دسطحې دمخ ټکی یوله بل څخه لرې کیږی. آسمانې کرې هم کله چې یوله بل نه لری کیږې نو نړۍ پراخوالی مومی. دغه موضوع په نظری توګه دشلمې پیړۍ دوتلی پوه البرت انیشتین له خوا کشف شوه ، خو ددې له امله چې دثابتې نړۍ دنظری پلویان ډیر ول انیشتین په خپلې دغې موندنې ډیر ټینګار ونه کړ ،چې وروسته ده خپله دغه کړنه دخپل ژوندانه یوهستره تیروتنه وبلله.

دغه موضوع قرآن هغه وخت ښودلی وه چې تلسکوپ اواوسنۍ ټکنالوژی لا نه وه ، داځکه چې قرآن دټول عالم دخالق کلام دی.

## دنړۍ پای اوسترانقباض

څه ډول مو چې مخکې وویل دنړی خلقت له یوې سترې چاودنې پیل شو ، اوله همغه ټکی نه نړۍ تل مخ پر پراخیدو ده. پوهان وایی کله چې دنړۍ کتله په کافی کچه لویه شی په پای کې به دغه پراخیدنه تمامه شی ، ځکه دثقل قوه به یی په خپل ځان کی داضمحلال سبب شی. عقیده پردی ده چې نړۍ به دیوه ستر انقباض **یا** Big Crunch پر مخ درومی ، چې دابه دژوند انه داوسنۍ څیرې پای وی. اناتا کوش اواندرې لیند دسانفورد پوهنتون فروفیسران داسې لیکی:

نړی به انقباض وکړی اوله مینځه به ولاړه شی ، ټول هغه شیان چې موږ یی وینو یا یی نه شو لیدلی هغه به انقباض وکړی اوله پروتون څخه به دیوه کوچنی ټکی په شان شی ، کټ مټ په دی شان به لکه موږچې په یوه تور سوری کې واوسو. دوی وایی چې موږ پردی پوه شوو چې انرژی به په تدریجی توګه منفی شی اونړی به دبی ثباتی ، انقباض اوپه پای کی دله مینځه تلو سره مخ شی.فزیک پوهان پوهیږی چې تیاره انرژی کولای شی منفی شی اونړی به په یوه لږې راتلونکی کې مضمحله شی. اوس کیدای شی موږ دنړی دژوندانه په پیل کې نه بلکې په منځنیو وختو کې واوسو. Big Crunch یا دستر انقباض نظریه وایی هغی نړۍ چې پراختیا موندلې په چټکۍ سره به مضمحله شی ترهغو چې خپله ټوله کتله له لاسه ورکړی اوپه یوه واحد ټکی به دلایتناهی کثافت سره واوړی. دغه موضوع په پاک قرآن کې داسې راغلې:

يَوْمَ نَطْوِي ٱلسَّمَآءَ كَطَيِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا
بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَـٰعِلِينَ

هغه ورځ چې آسمانونه دیوه طومار په شکل تاوراتاوکړو اوهغه لومړنی حالت ته به یی راوګرځوو چی لومړی ځل مو پیداکړی وو دغه وعده ده چې سرته به یی ورسوو. (الانبیاء ۱۰۴).

اوپه یو بل آیت کی داسې ویل شوی:دقیامت په ورځ به ځمکه دده په قبضه کی وی اوآسمانونه به تاوراتاو دده په ښی لاس کی وی. (الزمر ۶۷).

وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَٱلسَّمَـٰوَٰتُ مَطْوِيَّـٰتٌۢ بِيَمِينِهِۦ ۚ

دBig Crunch دفرضیی مطابق نړۍ په تدریجی ډول اوپه کراره مضمحله کیږی اوشاته درومی. په پای کی به نړی دیوه لایتناهی کثافت درلودونکی شی اوبی حده به توده اوکوچنی شی. دساینس دغه فرضیه له قرانی توضیحاتو سره مطابقت لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له تاوده لوګی نه خلقت

نن پوهان کولای چی له سرو اوګرمو وریځونه دستورو جوړیدل ووینی. دغه راز نړۍ هم له دګازاتو له یوې ګرمې کتلې څخه جوړه شوې چې قران کریم دپوهانو دغه کشف تاییدوی.

اوکله یی چې آسمانونو ته پام وکړ لوګی ؤ. (فصلت ۱۱).

لوګی ته په عربی کی دخان وایی چې په دغه آیت کی سور لوګی عالم ته ویل شوی. دغه مسأله په قرآن کی په یوه کلمه کی تشریح شوی ده ، ځکه چې لوګی دیوې حرارت لرونکی ګاز کتله وی چې یوله بل سره تړلو کوچنیو ذرونه جوړشوی. په دغه ځای کې قرآن دعربی ډیره ښه کلمه دکایناتو دهغه پړاو دجوړیدو لپاره کارولې. باید یادونه وشی چې یواځې په شلمه پیړۍ کې پوهان په دې

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ

وپوهیدل چې نړۍ له تودوخې لرونکو ګازونوڅخه دلوګی په شکل جوړه شوې. چې دغه معلومات دقرآن له معجزو څخه شمېرل کیږی.

---

## دځمکې اوآسمانونو جلا کیدل

دآسمانونو دجوړیدو په هکله یو بل آیت داسې وایی:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَنَّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَـٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا
مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ

آیا کافرانو ونه لیدل چې آسمانونه اوځمکه سره تړلی وو ، هغه مو پرانستل اوسره جلاموکړل اوله اوبو نه مو هرڅه راژوندی کړل ، بیا نو ولی ایمان نه راوړی.

(الانبیا ۳۰)

د "رتق" کلمه چې یوله بل سره دګنډلی مانا ورکوی په عربی سیمه یزه ژبه کی دګډ یا مخلوط په مانا هم کاریږی. فتقه چې عربی کلمه ده دیو له بله دشلیدو اودهغو څیزونو تخریب چې یو له بل سره ګنډلی وی اویا هم له ځمکې څخه دځوانکۍ دسروهلو په ماناهم کاریږی.

اوس بیا که دی آیت ته ځیر شو مانا داسی ده چې ځمکه او آسمانونه یو له بل سره تړلی یا ګنډلی وو اوهغوی مو له یو بل نه بیل کړل. په همدغه ترتیب دپوهانو نظرداسې دی چې لومړی ټوله نړۍ یو ټکی وه ، یعنی چې ځمکه آوسمانونه ټول په یوه حال یوپه بل کی نغښتی وو اووروسته دغو ټکو ستره چاودنه وکړه اوټوټی یی یوله بله جلا شوې.

### دهغه څه

په قرآن کریم کې ډیر داسې آیتونه شته چې دځمکې آسمانونو اوهغه څه. چې دهغو په مینځ کی دی هغه بیانوی.

لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ

هرڅه چې په آسمانونو اوځمکه اودهغوی په مینځ کی اودخاورو لاندی موجود دی ټول دهغه ملک دی. (طه ۶).

پوهان وایی چې لومړی دهغه ګرم لوګی کتله مخ په زیاتیدوشوه. وروسته دغه کتله ټوټه ټوټه شوه چې آسمانی آجسام ، ستوری اوسیارې یی جوړې کړې. په بل عبارت ځمکه اوستوری ټول هغه ټوټې دی چې د ګازونو له یو ې واحدې کتلې څخه مینځته راغلی .ځینې دغه ټوټې په لمر اوستورو بدل شول اوپه دی ترتیب سره شمسی منظومې اوکهکشانونه مینځته راغلل. دویش په بهیر کې یوشمېر اضافه ذرو چې نوې له دغو جسمونو نه جوړې شوې وې فضایی جوړه کړه. پوهانو دغه اضافی ذرې دستورو اوکهکشانو په مینځ کی ماده یاده کړه. دغه ماده له شپیتو په سلو کې هایدروجن ، اته دیرش په سلوکې هیلیوم اودوه په سلوکې نوروڅېزونونه جوړه شوې. نهه نوی په سلوکې دغه ماده ګاز اویو په سلوکی هغه ګرد دی چې دجامداتو له وړو زرو نه چې قطر یی یو پرزرو تر لس زروملی متره ده جوړشوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ذرې دومره ورې دی چې د لوګي یا ګازو په څير ليدل کيږی. خو کله چې په بشپړه توګه وليدل شی په فضا کی دټولو کهکشانونونه دلویی کتلی استازيتوب کوی. دکهکشانونو په مينځ کی ماده په کال ۱۹۲۰ کې کشف شوه خو موجوديت يی په سلګونو کاله مخکې عظيم الشأن قران بيان کړی.

## د داروين د تکامل  د نظريی تيروتنه

قرانکريم دموجوداتو آنی خلقت له هيڅ نه په لاندې آيتونو کې روښانوی::
آل عمران 47 ، مريم 35 ، البقره117 ، نحل40 ، يس82 و غافر68:
**إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ**
کله چې ديو شی اراده وکړی وايی چی وشه بيا کيږی. (يس ۸۲)

دداروين دفرضيی پربنا ، حيات دپرله پسی پيښو له کبله خود په خوده تکامل موندلی .اود ژونديو موجوداتوتکامل له ساده شکلونو نه پيچلو شکلونو ته صورت نيولی. اصلی پوښتنه دلته ده چې چې آيا ژوندی موجودات په اتفاقی توګه ديو ساده طبيعی بهيرله لارې مينځ ته راغلی اويا داچې دهغوی وجود ديوه پوه اوباخبره خلقت له لوری شوی ؟

دتکامل نظريه ادعا کوی چې بې سا شيان دډيرو پيښو په پايله کی ديو بل ترڅنګ راټول شوی اوبيا په بل ګام کې دتصادفاتو په پايله کې دطبيعی پيښو تر اغيز لاندې لومړی دحيات يا ژوند اصلی اوبنسټيزې ستنې اوبيا خپله حيات يی مينځته راوړی. په دې ډول زمان ياوخت ، ماده اواتفاقونه دجوړونکی څواک په توګه پيژندل شوی.
دتصادف اواتفاق ليد لوری چې دتکامل يا بشپړيدو په نظريه کی مطرح شوی  دعلم اوپوهې له خوا مردود ګڼل شوی . عملی موندنې له دغې ادعا سره په ښکاره تضاد کی دی چې وايی حيا ت دپرله پسی اتفاقاتو په نتيجه کی دطبعی عواملو تر اغيزې لاندی رامينځته شوی. څکه نن دژونديو موجوداتو په مينځ کې داسې بيلګې شته چې ډيرپيچلی جوړښت لری ، اوان چې يو حجره لرونکی موجودات هم حيرانوونکی اوپيچلی جوړښت لری چی داتفاق له مفهوم سره په بشپړه توګه تنا قض  لری.
هغه خارق العاده جوړښت اوطراحی چې په ژوندويو موجوداتو کې ليدل کيږی ، په ښکاره توګه داجوتوی چې ټول ژوند ديو ستر شعور له لوری چې همغه عالم اوکامل الله (ج) دی خلق شوی.
آيا ژوندی موجودات په احتمالی توګه کيدای شی چی يو له بله مينځته راغلی وی؟ نه هيڅکله هم داسې نه ده. علمی معلومات په تيره بيا فوسيلی موندنې اوپرتليزه اناتومی په بشپړه توګه ددې خبرې خلاف ده. په حقيقت کی هيڅ د ډاډ وړ دليل ددې په اړه چې دبشپړتيا بهير دځمکې په مخ اتفاقی ده وجود نه لری. فوسيلی موندنی داجوتوی چې دژوو بيلابيل ډولونه دتکامل له لارې قدم قدم په يو اوبل نه دی اوښتی بلکې ټول دغه ډولونه په بشپړه توګه له يو بل څخه بيل اوپرته له کومې ګډې لرغونتيا په يوځلی دخپلو ځانګړو جوړښتونو سره مينځته راغلی. نه الوتونکی له خوزيدونکو څخه مينځته راغلی اونه هم دوچې اوسيدونکی ژوی دکبانو دتکامل له لارې مينځته راغلی. هريوژوی په بيل ډول اوله خپلو ځانګړو اوانفرادی نښانو او ځانګړتياو سره پيدا شوی ، چې ان ددغې نظريی يعنې دتکامل دنظريی  ډيرو نوميالیو پلويانو هم دغه علمی واقيعت منلی اودوی اړشوی چې هغه دخلقت لپاره دشاهد په توګه په رسميت وپيژنی.
مارک چارنکی دتکامل دنظريی پلوی اولرغون پيژندوکی وايی چې : دتکامل دنظريی داثبات وړاندې  ستره مانع فوسيلی موندنې دی. په دغو موندنوکی دداروين دنظريی هيڅ يوه تاييدونکی بيلګه نه ليدل کيږی. دژوو ډولونه په نابره توګه مينځ ته راځی اوهم په نابره توګه له مينځه ځی.
هغه پرمختګونه او اوموندنې چې په وروستيو ۵۰ کلونو کی په تيره بيا دلرغون پيژندنې ، ميکرولوژی ، جنيتيک اودآناتومی په برخه کی شوی ددې څرګندويی کوی چې دتکامل په اصطلاح نظريه سمه نه ده. ژوندی موجودات په ننی بڼه او له يو بله څخه په جلا توګه دځمکې په سره څرګند شوی. الله (ج) هريو دغه  ژوندی موجودات د(( کن فيکون)) په امر په جلا جلاتوګه پيدا کړی اودايو قطعی او څرګند حقيقت دی.
.

## په نړۍ کې مطلق تعادل

ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ۖ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې اووه آسمانه یی له منظمو پوړو سره پیداکړل. په ځیر سره ووینه چې آیا درحمن رب په خلقت کی به کومه بې نظمی اونقصان ومومی ؟(الملک ۳).

په میلیونونو ستوری اوکهکشانونه ددنیا دمطلق تعادل په حال کی په خپل تګلوری کی خوځنده دی. ستورې ، سیارې ، سپوږمی نه یواځې په خپل ځان راڅرخی بلکې یو ځای له یوبل سره دداسې یو سیسټم په شاوخوا څرخی چې دهغه برخه ګڼل کیږی.

کله هم له سلونه تر درې سوومیلیاردو پوری ستوری په متقاطع مسیرونوکی په حرکت کی وی. خو سره له هغه هم د حیرانتیا خبره دا ده چی هیڅ ټکر ددوی په مینځ کی چې دعالم دتخریب سبب شی نه واقع کیږی. داهغه ستره معجزه ده چې کولای شو موږ یی بیان کړو.

په نړۍ کې دچټکتیا یا سرعت مفهوم ډیر له هغه څه نه پراخ دی چې دځمکنیو مقیاسونو په واسطه اندازه شی. ستورې ، سیاری اوکهکشانونه چې په زرګونومیلیارده ټنه دروندوالی لری په فوق العاده چټکتیا سره په فضا کی په خوځښت کې دی.

لکه ځمکه چې ۱۶۷۰ کیلومتره په ساعت کی راڅرخی. په داسې حال کې چې هغه ډیره چټکه مرمی چې تر دې دمه جوړه شوی ۱۸۰۰ کیلومتره په ساعت کی چټکوالۍ لری. دځمکې دحجم اوکتلې دلوی والی سره سره وینو چې هغه په چټکۍ سره خوځښت لری.

دلمر په شاوخوا دځمکې راڅرخیدل شپیته ځلې دمرمی له چټکتیا نه زیات دی یعنی ۱۰۸۰۰۰ کیلومتره په ساعت کی. که په دی چټکتیا سره مو کوم موټر جوړولای شوای په دوه ویشت دقیقو کی به دځمکې په شاوخوا راڅرخیده.

په لمر پوری تړلی ارقام لانور خارق العاده دی. دشمسې منظومی چټکتیا زموږ له تصور نه اوچته ده. هرڅومره چې یو ه منظومه لویه وی په همغه کچه ډیره چټکتیا لری. دشمسی منظومی چټکتیا دکهکشان په مدار کی ۷۲۰۰۰۰ کیلومتره په ساعت کې ده. دشیرې لاری دکهکشان چې څه ناڅه له دوو سوو میلیاردو ستورو نه جوړشوی ۹۵۰۰۰۰کیلومتره په ساعت کی حرکت لری.

په داسې یوه مغلق اوچټک سیسټم کی دتصادم اوټکر احتمال ډیر زیات دی ، خو هیڅ داسی ټکر چې ددوی د نه پاییدو سبب شی صورت نه دی نیولی اوپه اصطلاح خپل کرار ژوندته دوام ورکوی. ځکه په نړۍ کې هرڅه دمطلق تعادل په حا ل کې فعالیت کوی چې هغه الله (ج) تنظیم کړی دی. اوڅه ډول چې په مبارک آیت کی لولوپه خلقت کی هیڅ ډول اختلاف موجود نه دی.

## په نړۍ کې لطیف میزان

بیا هم دالملک سورې ۳ آیت ته پام کوو چې وایی: هغه چې اووه آسمانه یی له منظمو پوړو سره پیدا کړل. په ځیر سره ووینه چې آیا درحمن رب په خلقت کی به کومه بې نظی اونقصان ومومی ؟

برسیره پردې:

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا

ټول موجودات یی پیدا کړل اوپه خپل کامل حکمت سره یی دهرڅه لپاره حد اوقدر ټاکلی(الفرقان ۲).

دماتریالیزم فلسفې ادعا وکړه چې ټول سیسټمونه په طبیعت اونړۍ کې لکه اتومات ماشینونه کارکوی ودهغوی نظم یوه تصادفی پدیده ده. په داسې حال کی چې نن دماتریالیزم دروغجن طبیعت اودداروین فرضیه علماً ناسمه ثابته شوې ده.

دنجوم اوبیولوژی په علم کې دشلمې پیړۍ موندنو وښوده چې نړۍ اوحیات دواړه پیداشوی دی. دداروین فرضیه شاته ولاړه او دسترې چاودنې فرضیی ثابته کړه چې نړۍ له هیڅ نه پیدا شوې. وروستیو موندنو وښوده چې په مادی نړۍ کې یو لطیف توازن شته چې دماتریالیسم بې بنسټه طبیعت اوفلسفه ردوی.

دژوندانه لپاره دلازمو شرایطو دلیدو په خاطر وینو چې یواځې ځمکه ددی شرایطو درلودونکې ده. دحیات دبقا لپاره بیشماره شرایط ضروری دی چی په یو وخت کې اوپرته له وقفې نه صورت نیسی. په داسې حال کی چې په سل ګونه میلیارده کهکشانونه اوپه هریوه کې په منځنۍ توګه سل میلیارده ستوری موجود دی اوپه احتمالی توګه په همدغه شمېر ستوری هم موجود دی. پس باید دې ته ځیر شو چې ولی په استثنأیی ډول یواځې په ځمکه کې دژوند شرایط چمتوشوی دی.

هرڅه چې په نړۍ کې شته زموږ دژوندانه شرایط یی برابر کړی ، له لومړنی یا سترې چاودنې نه دیوه اتم ترفزیکی ارزښتونو پوری ، داساسی قوولە څلورمې سویی نه دستوروپه مینځ کی تر کیمیاوی تعامله پوری ، دهغه نورنه نیولی چې له لمر څخه خپریږی دابو دغلظت تر درجې پوری ، دسپوږمی اوځمکې په مینځ کی له واټنه تر هغو ګازونو پوری چې دځمکی په سر شته ، دځمکې د مدارڅخه چې د لمر په شاوخوا راڅرخی تر هغې زاویی پوری چې هغه پرې راتاویږی ، دځمکې ددورانی سرعت څخه چې په خپل ځان راڅرخی دغرونو اوسمندرونو تر فعالیته پوری ، اونورو ټولو زموږ دژوندانه شرایط برابر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نني ساينس دغه ټول دانساني اصل اولطيف ميزان په توګه مطالعه کوی. دغه مفاهيم ددی ښکارندوی دی چې نړۍ دموادو يو تصادفی ، بې هدفه اوله کنټروله وتلی پديده نه ده بلکې ټوله په يوه ځانګړی دقت سره دانسان دژوند لپاره جوړه شوی ده.

په پورته ياد شوی مبارک آيت کی دخلقت دهماهنګی اودقدر يا ټاکلې اندازې موضوع په هکله پاملرنه وکړی چې دتقدير کلمه يعنې طرح ، اندازه اوله اندازه نيونې سره جوړونه په دغه آيت اوپه نورو آيتونو لکه دالفرقان دوهم آيت کې ذکرشوی.

دطباقا کلمه يعنی په نظم اوهماهنګی کې دالملک دسورې په دريم اونوح دسوری په پنځلسمو آيتونو کې کارول شوی اودتفاوت کلمه يعنې دعدم توافق اوبې نظمی ، نقصان ، مخالفت اوتخريب په مانا ده.

دلطيف ميزان يا Fine Tuning چې دشلمې پيړۍ په پای کې کارول شوی داحقيقت لانورهم روښانوی. په دې وروستيو کې يو شمېر زياتو پوهانو ،ليکوالانو اودنظرخاوندانو روښانه کړې چې نړۍ دتصادفاتو يو ه ټولګه نه ده. بلکې هرڅه ديوه منظمې طرحې له لارې کارکوی چې دانسان دژوند شرايط يې چمتو کړی.

ډاکتر کارل ګيرسن چې يو فزيکپوه دی وايی: په ۱۹۶۰ کال کې فزيک پوهان په دی پوه شول چې نړۍ دانسان دبقا لپاره په ډيرلطافت سره ميزان شوی.

انګيريزی ستوری پېژندونکې پروفيسور جورج اليس وايی: دقوانينو په مينځ کې حيرانوونکی لطيف توازن ددې نړۍ مېنځته راتلل ممکن کړی دی. دډيرې پيچلتيا دکچې په پوهيدو سره هغه څه چې سرته رسيدلی ډيره ستونزمنه ده چې دنړۍ هستی ته يوه معجزه ونه وايو.

وَلِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ۚ وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ

اوالله ته دی هغه څه چې په ځمکه اوآسمانونو کی دی. اوټولې چارې به الله ته وراندې کېږی. (آل عمران ۱۰۹).

## دسترې چاودنې چټکتيا

هغه توانمندی چې دسترې چاودنې نه رامينځته شوې او هم دنړۍ آنی جوړښت داثابتوی چې دعالم پيدايښت تصادفی نه دی. دنومیالی فزيکپوه پال ديويس دوينا مطابق که چيرې هغه اتساعی چټکتيا چې له ستر ې چاودنې څخه وروسته رامينځته شوه ديو پرمليارد ميليارد په اندازه_ ($1/10^{18}$) بدلون ومومی نړۍ به مينځته نه وای راغلې.

ستيفن هاکبن وايی که دغه دقيقوالی دنړۍ په اتساعی چټکتيا کې که چيرې ديو په سلو زروميليونو په اندازه هم لږ وای نړۍ به مضمحله شوی وای اوخپل اوسنی جسامت ته به نه وای رسيدلې.

### <u>څلورګونې قوې:</u>

په نړۍ کې ټول خوځښتونه دڅلورو قوو دتوازن اوکړنې مرهونه دی چې دمعاصر فزيک له خوا تثبيت شوی:

۱- دثقل قوه۲-الکترومقناطيسی قوه۳- ځواکمنه هستوی قوه

۴-کمزوری هستوی قوه چې داټول يوله بله جلا ارزښتونه لری. دبيولوژۍ نوميالی پوه ماليکولی ددې څلورو قوو په مينځ کې فوق العاده توازن په لاندې ډول بيانوی:

دبيلګې په ډول که دثقل قوه زر ميليارده واری قوی وای په هغه صورت کې به نړۍ ډيره کوچنۍ اودژوندانه موده به ډيره لنډه وای. په منځنۍ توګه به هرستوری زر ميلياردہ وارې له لمر نه کوچنی وای اوپواځې يو کال به يی عمر درلودلای. له بل پلوه که دثقل قوه کمزوری وای ، هيڅ يوکهکشانی ستوری به نه وای جوړشوای ، دغه راز نورې قوې هم ارزښتناکه دی ، که چيرې ځواکمنې قوې لږ کمزورې وای يواځنی ثابت موجود به هايدروجن وای اونورعنصرونه به موجود نه وای.که چېرې له الکترومقناطيسی قوی څخه لږ قوی وای ، په هغه صورت کې به داتومونو هستو يواځې دوه پروتونه درلودلای يعنې هايدروجن به په نړۍ کې وجود نه درلودلای. ستوری اوکهکشانونه به څه ډول چې اوس دی هسې به نه وای. په ښکاره توګه که چېرې يوې له دغو قوو څخه خپله دقيقه کچه نه درلودلای نه به کوم ستوری نه به کهکشان نه به اتوم اونه به ژوند وجود درلودلای.

## دآسمانی جسمونو په مينځ کې واټن

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خلاکې دآسماني جسمونو توزيع اوددوی په مينځ کې سترواټن دځمکې دوجود لپاره ډير اړين دی. دآسماني جسمونو په مينځ کې واټن داسې حساب شوی چې څو ځواکمنې قوې دځمکې په سر ژوند تأمينوی. مايکل دنتن دستورو اوثواقبو په مينځ کې دواټن په هکله وايي:

((دثواقبو اوستورو ترمنځ واټن ډير ارزښتناک دی. زموږ په کهکشان کې دستورو ترمنځ واټن ديرش ميليونه ميله دی ، که دغه واټن لږ څه هم لږ وای دستورمدارنو يوله بل سره لگيدل. اوکه دغه واټن لږڅه ډير وای ثواقب به داسی خپريدل چې دځمکې غوندې سيارې جوړيدلای نه شوې. نو دثواقبو وړانگې اوخلا په يوه دقيق نظم اوټاکلوواټونونو بايد ترسره شی څوچې دژوند بهير جاری پاتې شی.))

## دثقل قوه:

که دثقل قوه لږڅه ځواکمنه وای ، دځمکې په سربه ډير ميتان اوامونيا راټول شوی وای چې ژوند به يې ناممکن کړی وای.

## دځمکې اولمر په مينځ کې واټن:

دغه واټن که لږ څه ډير وای ځمکه به ډيره سړه وای ، داوبو دوران به له مينځه تللی وای اوټولې به کنگل شوې وای. اوکه چيرې ځمکه په ډيره لږه کچه لمر ته نږدې وای نوهرڅه به سوزيدلی وای.

## دځمکې د پوښ پريړوالی:

که دځمکې باندنی پوښ لږڅه پريړ وای له خلانه به يې ډيراکسيجن ځان ته جذب کړی وای . اوکه چيرې دځمکې باندنې پوښ لږ څه نازک وای نو اورغورځونې به ژوند دځمکې په سر ناممکنه کړی وای.

## دځمکې دڅرخيدو چټکتيا:

که چيرې دځمکې پر ځان راڅرخيدنې چټکتيا لږڅه لږ وای دشپې اوورځې په مينځ کې به دتودوخې درجې ډير توپير درلودلای اوکه چيرې لږ څه هم دغه چټکتيا ډيره وای نو دبادوونو چټکتيا به دومره ډيره وای چې توپانو اوبريبوکيو به ژوند ناممکنه کړی وای.

## دځمکې مقناطيسی ساحه:

که چيرې دځمکې مقناطيسی ساحه لږڅه ځواکمنه وای نو ستر الکترومقناطيسی توپانونه به رامينځته شوی وای. اوکه چيری دغه ساحه لږڅه کمزورې وای ځمکې به دهغو مضره ذراتو په وړاندې چې له لمر څخه خپريږی خپل محافظت له لاسه ورکړی وای. چې په دواړوصورتونو کې به ژوند ناممکنه شوی وای.

## د البدو اغيزه Albedo Effect:

دالبدواغېزه دهغې روښنايي دکچې داندول ياتناسب څخه عبارت دی چې دځمکې له لاری جذبيږی اوانعکاس ورکول کيږی.که دغه تناسب لږ څه ډير وی هرڅه به کنگل شوی وای اوکه يوڅه لږ وای نو هغه تولې واوارې اويخونه چې پر ځمکه شته ويلی شوی به وای اوهرڅه به يې لاندې کړی وای اوروسته به هرڅه سوځيدلی وای.

## پرځمکه داکسيجن او نايتروجن په مينځ کې اندول:

که دغه اندول ډير وای نو دژوند فعاليت به ډير چټک وای اوکه لږ وای دژوند فعاليت به ډير سست وای.

## دځمکې پر سر دکاربن دای اکسايد اواوبو په مينځ کې اندول:

که چيرې دغه اندول ډير وای هوا به ډيره توده وای اوکه چيرې لږ وای نو هوابه ډيره سړه وای.

## داوزون دپوړپريړوالی:

که چېر ی داوزن دپوړپريړوالی ډير وای دځمکې تودوخه به ډير لږ وای ، اوکه دغه پريړوالی لږ وای نو دځمکې تودوخه به ډيره زياته شوی وای اودلمر دزيان لرونکو وړانگوڅخه به هم مخنيوی نه شوای کيدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**<u>زلزله:</u>**

که چېرې زلزلې اودځمکې ښویدنې پېښې ډېرى واى ځمکه به تل دښوریدو په حال کې واى اوکه چیرې لړې واى نو په سمندرونو کې به ژووې له خوراکې توکوڅخه محرمومه پاتې شوى واى اوله مینځه به تللى واى اوله دى سره به دهغو ژوو لپاره دخوړو دتوکوکمښت رامینځته شوى واى چې هغوى له سمندرى خوړو نه ګټه اخلى.

**<u>د ځمکې د انحناْ زوایه</u>**

ځمکه دخپل مدار پر سر د۲۳ درجو زاویې په اندازه خمه شوى ده. چې داکړوپوالى دموسومونو دجوړیدولامل ګرځى . که چیرې دغې انحناْ لږ څه توپیر درلودلاى ددوبى تودخه اودژمى ساړه به له زغم څخه وتلى واى.

**<u>دلمر جسامت</u>**:

کوچنى لمر به دځمکې دکنګل وهلو لامل ګرځیدلاى واى اوکه لوى واى دسوځیدولامل به ګرځیدلاى واى.

**<u>دلمراوسپوږمى په مینځ کى دراکښلوقوه</u>**

که دغه قوه لږ څه ډېره واى ، دځمکې پر حرکت اودسمندرونو په جزرومد باندې به یى ژورې اغیزى اینښې واى ، اوکه دغه قوه لږه واى دځمکې پر تودوخه به یى ژورې اغیزې کړى واى چې دانسان ژوند به کې ناممکنه واى.

**<u>دځمکې اوسپوږمى په مینځ کې واټن:</u>**

که دغه واټن لږ څه لږ واى سپوږمى به لمر ته جذبه شوى واى اوله ځمکى سره به یى ټکر کړى واى اوکه دغه واټن ډېر واى نو سپوږمى به په خلأ کې سرګردانه واى اوله ځمکې څخه به بیله شوى واى. حتى که ډیر لږ هم دځمکې اوسپوږمى په مینځ کې واټن فرق کړى واى دډیرو خطرلرونکو جذراومد لامل به ګرځیدلاى واى اودځمکې ټولې ټیټې سطحې به تراوبو لاندې شوى واى . دسمندرونو دتودوخې درجه به لوړه شوې واى اوهغه ژوى چې هلته دى هغه به له مینځه تللى واى.

إِنَّ فِي خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ

دځمکې اوآسمانونو په پیدایښت کې اودشپې اوورځې په تفاوت کې دپوهې دخاوندانو لپاره روښانه دلیلونه شته (آل عمران ۱۹۰).

**<u>دځمکې دتودوخې درجه اودکاربن له برکته ژوند:</u>**

دکاربن شته والى چې دټولو ژوو اساس یا بنسټ جوړوى دځمکې دتودوخې له ټاکل شوې درجې سره اړیکه لرى ، کاربن دعضوى مالیکولونو لپاره حتمى برخه ده چې دژوندانه بنسټ جوړوى. نو له همدې کبله دځمکې تودوخه باید یواځې اویواځې همدااوسنى حالت ولرى.

هغه څه مو چې تراوسه وویل هغه یواځې یو لږ څه اړین توازونونه دى چې دژوندانه ددوام لپاره اړین ګڼل کیږى اوټول داجوتوى چې داپیدایښت یا خلقت دتصادف پربنا نه دى.

وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ

الله (ج) دآسمانونو اوځمکې خاوند دى ا و الله (ج) پر هرڅه توان لرى . (آل عمران ۱۸۹).

دستورو ، لمر اوسپوږمى په مینځ کې دجوړښت توپیر

اولمر مو لکه روښانه څراغ وګرځاوه (النباء ۱۳)

وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ډول چې څرګنده ده په شمسي ټولګه کې يواځنی روښانه سرچينه لمردی. دټکنالوژی په پرمختګ سره ستوری پيژندونکی په دې پوه شول چې سپوږمۍ دنورسرچينه نه ده اوخپله روښنايی له لمرڅخه ترلاسه کوی.اودسراج کلمه دڅراغ په مانا کنايه ده له لمرڅخه چې دروښنايی اوتودخې سرچينه ده.الله (ج) په قرآنکريم کی دلمر ،سپوږمۍ اوستورو لپاره بيلابيلې کلمې کارولی.اوپه دې توګه يی آسمانی جوړښتونو کې توپير روښانه کړی.

ااوسپوږمۍ يی نور اولمر يی روښانه څراغ وګرځاوه. (نوح۱۶).

په دغه آيت کی د "نور" کلمه دسپوږمۍ لپاره کارول شوې اود "سراج" يا څراغ کلمه دلمر لپاره. دسپوږمۍ ستايل په روښانه نور انعکاس موندونکی اوبی حرکته شوی اولمر يی په داسې توګه ښوولی اوستايلی لکه چې يوڅه سوزی .

وَجَعَلَ ٱلْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ ٱلشَّمْسَ سِرَاجًا

اوتل د روښنايی سرچينه وی. برسيره پردې دستوری لپاره دنجم عربی لغت کارول شوی چې دظاهريدونکی يا ښکاره کيدونکی مانا لری . بل لغت چې دستوری لپاره

کارول شوی ثاقب دی چې په خپله د سوزيدونکی څيز مانا لری ، چې دتيارو روښانوونکی اوځليدونکی هم ګڼل کيدای شی.

**النَّجْمُ الثَّاقِبُ**

هغه ځليدونکی ستوری چې په تيارو کې ځليږی . (الطارق ۳).

په اوسنی زمانه کې موږ پوهيږو چې سپوږمۍ له ځانه نور نه لری اوخپل نور له لمر څخه اخلی چې دسپوږمۍ په سر لويږی اوبيا هغه ته انعکاس ورکوی. اوهم پوهيږو چې لمر اوستوری خپله خپل ځانه نور ورکوی . دغه موضوع ګانې داسې وخت کې قرآن يادې کړی چې انسانانو ددې مسألی دپوهيدو لپاره څه په لاس کې نه درلودل.

## مدارونه اوڅرخيدونکې نړۍ

دنړۍ دتعادل يو مهم دليل په ټاکل شوو لورو دآسمانی جسمونو خوځښت دی . ستوری اوسپوږمی ټول په خپل محور او له هغه سيستم سره چې دوی په کې قرار لری. راڅرخی. نړۍ له يوه لطيف توازن سره تل خوځښت لری ، کټ مټ لکه ديو ماشين څرخ.
په نړۍ کې دليدو وړ له سلو ميلياردو ډير کهکشانونه شته چې هرکوچنی کهکشان په ځان کې ميلياردونه ستوری لری اولوی کهکشان له زرو ميلياردو زيات ستوری لری . ډيری دغه ستوری ځانته سياری لری اوسياری يی بيا سپوږمکی لری. آسمانی جسمونه ډير دقيق محاسبه شوی مدارونه او لوری وهی. اوپه ميلويونو کلونو په دغه لاره کې له نقصانه پرته اوپرته له دې چې په توازن کی يی څه بدلون راشی خوځښت لری. برسيره پردې ډير شمير لکۍ لرونکی ستوری هم په خپل ټاکلی لورخوځنده دی.
مسيرونه يا تګلوری څو آسمانی جسمونو ته نه وی محدود شوی ، لمريزه منظومه اونورکهکشانونه دنورو کهشکانونو په شاوخواهم راڅرخی. هرکال لمريزه منظومه اونورکهکشانونه له ځمکې سره يوځای پنځه سوه کيلومتره له خپل پخوانی ځای نه بيځايه کيږی. له دې نه څرګنديږې چې له اصلی لوری نه ډير لږ اوښتون دنړۍ دپای سبب کيدای شی. دبيلګې په توګه که چېرې ځمکه له خپل اصلی تګلوری نه يواځې دری ملی متره انحراف وکړی ډيرې بدی پايلې به ولری . ځمکه دلمر په شاوخواکی دخوځښت په وخت کې وروسته له هرو اتلسو ميلو نه ۲،۸ ملی متره له مستقيمې کرښې نه انحراف کوی څو چې يو بيضوی تګلوری ووهی ، که چېرې دغه انحراف ۳ ملی متره شی دتباهی لامل به شی. ان که دغه کوږوالی ددوه اعشاريه اتو پرځای دوه نيم ملی متره هم شی دځمکې دڅرخيدو مدار به ډير لوی شی او ټول به ساړه ووهی. که انحراف يا کوږوالی له درې ملی مترو نه ډير شی ټول ژوی به وسوځې اومړه به شی . قرآن په خپل محور باندی دآسمانی جسمونو خوځښت تاييدوی.

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجْعِ

قسم پر هغه آسمان چې راګرځيدونکی دی. (الطارق ۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دقران دنازلیدو په وخت کې خو ټکنالوژی دی حد کې نه وه چې یوله بل نه لری ول وويني. اوځوک نه توانیدل چې وپوهیږی خلا دمدارونو درلودونکی ده څه ډول چې په دې آیت کې راغلی:

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُكِ

قسم په هغه آسمان چې په هغه کې کږی وږی لارې دی.

(الذاریات ۷).

## دلمر تګلوری

په قرآن کی راغلی چې سپوږمی اولمرد ټاکلی تګلوری په خواحرکت کوی.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ

اوهغه (الله)دی چې شپه اوورځ لمر اوسپوږمی یی پیداکړل چې هریو په خپل ټاکلی مدار باندې خوځښت لری. (الانبیاء ۳۳).

دلمر نه سکون او په ځانګړی لوری یی خوځښت په بل آیت کی هم بیان شوی:

وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَهَا

اولمر په خپل مدار کی ځرخیږی. (یس ۳۸).

دغه یاد شوی حقیقتونه چې پخوا په قرآن کې ذکر شوی اوس اوس زمونږ په زمانه کی موندل شوی. دستوروپیژندونکو له شمېر سره سم لمر په یوه ډیر ګړندی خوځښت سره یعنی اووسوه شل زره کیلومتره په یو ساعت کی په حرکت کی دی. یعنی چې دورځی داووه لسو میلیونو کیلومترو په شاوخواکی مزل وهی اوله لمر سره سم ټولې سیارې اوارونده سپوږمی یی هم دا لاره وهی.

## دسپوږمی مدار

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ
لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library




اوهم مو دسپوږمۍ  خوځښت ټاکلو منزلونو ته مقررکړ څو چې دکجورې دنرۍ اوزړې ښاخې په څیر راوګرځی. نه لمر ته ښایی چې سپوږمۍ ته ورسیږی اوشپې اوورځې مخکې شی اوهریو په خپل ټاکلی مدارکې حرکت کوی. (یس 39-40).

سپوږمۍ لکه دستوروپه شان په یوه مستقیم مدار کې حرکت نه کوی. په داسې حال کې چې دځمکې په شاوخوا راځرخی ځینې وخت شاتګ کوی اوځینې وخت مخکې کیږی . ځکه چې په عین وخت کې له ځمکې سره یوځای دلمر په شاوخوا هم راځرخی اوخوځښت یی په فضا کې لکه دیوه منظم مارپیچ په شان ده چې دسپوږمۍ داډول حرکت په خلأ کې قرآن دکجورې یاخرما زړې ښاخې ته تشبیه کړی ده.

په خلأ کې دسپوږمۍ خوځښت





سپوږمۍ په خلاکې

دکجورې   وچه  شوې

ښاخه

له شک پرته چې دستوروپیژندونکولپاره هغه مهال کله چې قران نازلیده ناممکنه وه چې څوک دسپوږمۍ په دغه حرکت باندی پوه شی . په پاک قرآن کې دسپوږمۍ ددغه حرکت بیان چې دټکنالوژی له لاری  اوس اوس کشف شوی یوه معجزه ګنلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دقمری یا سپوږمېزکال محاسبه

هُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلشَّمْسَ ضِيَآءً وَٱلْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُۥ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا۟ عَدَدَ ٱلسِّنِينَ وَٱلْحِسَابَ

هغه دی چې لمر یی ځلیدونکی اوسپوږمۍ یی نورانی وګرځوله اودهغو لپاره یی منزلونه وټاکل څوچې ددغو شمېرو له لاری په کلونو اووخت باندی پوه شی. (یونس ۱۰).

په دغه آیت کی الله (ج) روښانه کړی ده چې دسپوږمۍ خوځښت دکلونو دشمېرلو لپاره یو وسیله ده دغه راز داجوتوی چې دوخت شمېرنه دسپوږمۍ دخپل ټاکلی موقیعت په لوری په تګلوری کې صورت نیسی . اوداځکه چې دسپوږمۍ اوځمکې اوسپوږمۍ اولمر په مینځ کې زاویه تل په بدلون کی ده ، سپوږمۍ په بیلابیلو وختونو کې په ډول ډول څېرې سره ګورو کله کوچنۍ اوکله هم غټه . برسیره پردې موږ سپوږمۍ ځکه لیدلای شوچې دلمر روښنایی ته انعکاس ورکوی. په هغه کچه نور چې له سپوږمۍ نه موږ ته رارسی هرشپه بدلون مومی دهمدی بدلونونو له مخې موږ کولای شو په ښه توګه دمیاشتو ورځو اوکلونو حساب وکړای شو.

دقمری اوشمسی کلونو په مینځ کی توپیر تقریباً یوولس ورځی دی چې دغه توپیر ته دقرآن په یوه آیت کې اشاره شوی ده.

وَلَبِثُوا۟ فِى كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ مِا۟ئَةٍ سِنِينَ وَٱزْدَادُوا۟ تِسْعًا

اوهغوی په سوری کی دری سوه کاله اونهه کاله نور ورزیات شوی پاتی شول.(الکهف ۲۵).

- یوه قمری میاشت په منځنۍ توګه 29.55039 ورځې وی.
- یو قمری کال 354.603948 ورځی وی .
- یو شمسی کال365.2411 ورځی وی.
- 309 ×354.603948 =109572 =300×365.2411
- نو دری سوه شمسی کلونه برابردی له دری سوه نهو قمری کلونو سره .
- څه ډول چې وینو قرآن په غار کی داصحاب کهف پاتې کیدل په دواړو شمی اوقمری کلونو شمېرلی اوروښانه کړی اود(۹) کلونو توپیر یی هم شمیرلی دی (والله اعلم). له شک پرته قرآن چی داسې دقیق اوعلمی معلومات چی ان داوسنی پیړۍ دمعلوماتوتو نه هم اوچت دی ستره معجزه ده.

## دثقل قوه اوخوځښتونه په مدارونو کې

فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلْخُنَّسِ ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ

قسم دی په بیا راګرځیدونکو ستورو چې په ګرځیدو راشی اوپه خپل منزل کې پټ شی. (التکویر ۱۶-۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخنس کلمه یعني انقباض اوبیا راګرځیدل او له ډاره کړوپیدل چې جمع یې یو ډاکلې تګلوری دی ( ننوتل خپلې ځالې ته اویا خوځښت دیوکورپه لور اوپه هغه کې پټیدل ) . دالجوار کلمه جاریه جمع ده اومانایې دیوه خوځنده اوبهیدونکې شیز ده. ددې کلمو دمانا ګانو په پام کې نیولو سره داسې اټکل کیږی چې پورتنی آیتونه دثقل دمرکز اوپه خپل مدار دحرکت لور ته اشاره کوی. دغه کلمې دابیانوی چې په مدار کې خوځښت دثقل له مرکز نه منشأ اخلی . دخنس کمله خپل مرکز اوهم دلمر لوری ته دجذبیدو ښکارندویې کوی. (والله اعلم) دثقل قوه چې په نړۍ کې شته دنیوتن له خوا په ۱۷ او۱۸ پیړی کې محاسبه شو. دالجوار کلمه په مدارونو کې دحرکت لورته اشاره ده چې له مرکز نه دفرار دقوې اومرکز ته دجذب دقوې (دثقل قوه) دعمل په پایله کې منځته راځی. ددې درې کلمو کارونه په پورتنیو آیتونو کې ددې یادونه کوی چې سلګونه کاله مخکې په قران کې دهغی پراهمیت باندی ټینګار شوی دی.

## کروی(ګرده ) ځمکه

يُكَوِّرُ ٱلَّيۡلَ عَلَى ٱلنَّهَارِ وَيُكَوِّرُ ٱلنَّهَارَ عَلَى ٱلَّيۡلِۖ

شپه په ورځ کې راتاووی اوورځ په شپه کې راتاووی. (الزمر ۵).
هغه کلمې چې دنړې په هکله دمعلوماتو لپاره په قرآن کې کارول شوی ډیرې مهمې دی. په دې آیت کې دتکویر کلمه راځرخیدل یا راتاوول ژباړل کیږی ، لکه دلنګی تاوول . ددغه آیت معلومات د ورځواوشپو په یو بل کې د را تاوولو یا راځرخولو دځمکی شکل یا بڼه روښانوی . داقضیه په هغه صورت کې دامکان ورده چې ځمکه کروی یا ګرده بڼه ولری . قران کریم دځمکې ګرد والی په اوومه میلادی پیړی کې بیان کړی په داسې حال کې چې ستوروپیژندونکو هغه وخت ځمکه اواره اومسطح ګڼله اوخپلې تولې علمی شمېرنې یې داوراې سطحی پر بنسټ کولې. اوپه پای کې دادی په دی ورستیو پیړیو کې ستوری پیژندونکی اوپوهان په دې مسأله پوه شوی دی.

## دځمکې دځرخیدو لوری

وَتَرَى ٱلۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِۚ

اوغرونه وینی اوګومان کوی چې ولاړ دی خو هغوی لکه ځتکې وریځې خوځښت لری. (النمل ۸۸).
دغه آیت نه یواځې دځمکې حرکت بلکې دحرکت لوری هم بیانوی. دوریځو ددرنو کتلو دخوځیدو لوری چې دری نیم ځلورزره متره دځمکې له سطحې پورته وی تل دلویدیز له لوری نه دختیز لوری ته وی.له همدې کبله تل دهوا دحالاتو دپوهیدو لپاره لویدیز لوری ترمطالعې لاندی نیول کیږی. هغه مسأله چې په سلګونو کاله مخکی په قرآن کې یاده شوی اوس اوس کشف شوې چې ځمکه په خپل ځان له لویدیز نه دختیز لوری ته ځرخیږی.

## دځمکې شکل Geoid

وَٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ

اوبیا یی ځمکه خپره کړه(النازعات ۳۰).
د(دحا) کلمه په عربی کې دښویونکې مانا لری چې د "دحو" له ریښې څخه دخپریدو نه اخستل شوی. دغه راز دپوښونکې اوزینت (ښکلا) ورکونکې په مانا هم کارول شوی برسیره پردې دحو په یوه سوری کې دیوه غونډوسکی یا دیوه ګاټې داچولو په مانا هم کارول کیږی . دغه راز بله کلمه لکه د اوښ مرغۍ (شتر مرغ)دځالی جوړولو ، دځای پاکول له وړو ډبرو نه اودهګۍ ځای هم له دحو نه اخستل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کی ځمکه ګرده بیضوی ده چې دغه دځمکې کیښودل یا نښېځل شوی کره د Geoid په نامه یادیږی. له دې کبله ددحا کلمه دځمکې دشکل په هکله مهم معلومات راکوی. په داسې حال کې چې په سل ګونه کاله وروسته له اسلام نه هم خلکو ځمکه اواره انګیرله.

## دځمکې قطرونه اوخلأ

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ

ای پیریانو اوانسانانو که کولای شی دځمکې اوآسمانونو په قطرونوو کې لاره وکړی بیا ورننوځی.

(الرحمن ۳۳).

په دغه آیت کی روښانه شوې چې ځمکه اوآسمانونه قطرونه لری . اوددغې موضوع شرح چې ځمکه اوآسمانونه دقطرونو درلودونکی دی یوه معجزه بلل کیږی.
که یو جسم بشپړ کروی وی کولای شوی یواځې یو قطر ولری . یو جسم هغه وخت څو قطرونه درلودلای شی چې کره نامنظمه وی. چې دا دځمکې پر بیضوی والی یو دلیل ګڼل کیدای شی.
برسیره پردې د انشتین دنسبیت دفرضیې مطابق نړۍ تل د ودې په حال کې ده. مانا داچې خلأ پراخیږی اودکهکشانونو ترمنځ واټن ډیریږی.پس دځمکې اوآسمانونو قطرونه هم ثابت نه دی چې یو قطر ورته وکارول شی ، بیا نو په قرآن عظیم الشأن کې داقطار دکلمې کارونه په خپله یو حکمت دی..

## دځمکې دچاپیریا ل پوړونهAtmosphere

یوه مسأله چې په قرآن کې روښانه شوې هغه داده چې آسما ن اووه پوړونه یا طبقې لری:

ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَسَوَّىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖۚ

اوبیا یی آسمانونو ته پام وګرځاوه اوهغه یی اووه ډوله آسمانونه تنظیم کړل. (البقره ۲۹).

دسماوات کلمه دځمکې په سر دآسمانونو اوهم دکایناتو په مانا کارول شوی. له پورتنی آیت نه داسې مطلب اخستل کیږی چې آسمان یا دځمکې چاپیریال له اوو پوړونو جوړ شوی.
ننۍ پوهې هم دآسمان یا دځمکې چاپیریال پوړونه تثبیت کړی ، چې هریو پوړ فزیکی ځانګړتیاو له اړخه اودګازونو اوډندو دډول له کبله له یو بل نه توپیر لری.
دځمکې دچاپیریال پوړونه عبارت دی له :

- Troposphere تروپوسفیر چې له ۸ نه تر ۱۵ کیلومتره پورته دځمکې له سطحې قرار لری اوزموږ اودوربځو دګتی وړ هوا په کې ده.
- Stratosphere ستراستوسفیر چې له ۱۵ تر ۵۰ کیلومترو پوری پورته د ځمکې له سطحې نه قرار لری اوډیری داوزون ګازلری چې دماوراْ بنفش له زیان لرونکو وړانګو څخه مخنیوی کوی. دتودخې درجه ددې پوړ په بیلابیلو ساحو کې ډیرتوپیر لری اودلوړوالی په زیاتیدو سره تودوخه کمیږی.
- Mesosphereمیستوسفیر یا منځنی پوړ چې ۵۰ نه تر۸۵ کیلومتروپوری دځمکې له سطحې پورته ساحه احتوا کوی اودارتفاع په زیاتیدو سره دحرارت درجه هم ټیټیږی اوتر منفی ۷۳ درجو پوری رسیږی.
- Thermosphereترموسفیر دغه پوړ چې ۸۵ تر ۶۴۰ کیلومترو پوری پورته دځمکې له سطحې نه ده ، په دې پوړکې دماورالبنفش وړانګې دآیونونو اومثبتو چارچونو دجوړیدولامل ګرځی.
- (Ionosphere) آیونوسفیر چې دتودوخې درجه په هغه کې ډیره جګه ده اوتر ۲۵۰۰ دسانتی ګرید درجو پوری رسیږی. دغه پوړ ټول غږیږسیګنالونه چې له ځمکی نه تښتی هغو ته انعکاس ورکوی اوبیایی ځمکې ته رالیږی.
- Exosphere ایکسپوسفیر یا بهرنۍ پوړ چې له ۵۰۰ نه تر ۱۰۰۰ کیلومترو پورته دځمکې له سطحې نه قرار لری او وروستۍ برید یی تر لسوزروکیلومتروپوری رسیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Magnetosphere مګنیتو سفیر دځمکې مقناطیسی ساحه چې تر لسو زرو کیلومترو پورې رسیږي.

قران فرمایی:

وَأَوْحَىٰ فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا

هرآسمان ته یې دنده وروسپارله (۱۲ فصلت)

په ریښتیا سره هم څه ډول به یې چې په وروستیو مخونو کې ولولو هریو له دې پوړونو نه دځمکې دمخ دژوندانه لپاره ډیرې مهمې دندې په غاړه لری لکه دباران جوړول ، دزیان لرونکو وړانګو مخنیوی اونور.

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا

آیا نه وینې چې الله (ج) څه ډول آسمانونه په اوو پوړونو کې پیداکړل. (نوح ۱۵).

دطباقا کلمه دطبقو یا پوړونو په مانا داځرګندوی چې هرپوړ په منظمه توګه یو پربل باندې قرارلری. اودآسمان له اوو طبقو څخه هدف کیدای شی دځمکې دشاوخوا چاپیریال اووپوړونو څخه وی اوننی علم داثابته کړې چې دغه شین آسمان هماغه دځمکې چاپیریال دی له بیلابیلو پوړونو سره چې په سلګونو کاله مخکې قران ذکرکړې.

## ساتونکی چت

په قرآن کې الله (ج) دآسمان یوه مهم صفت ته اشاره کوی.

وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا مَحْفُوظًا

اوآسمان مو ساتندوی چت وګرځاوه(الانبیاء ۳۲).

دشلمې پیړۍ ځېړنو دآسمان دغه صفت موندلی: دځمکې چاپیریال دژوندانه دساتنې لپاره اساسی دنده لری. ځمکه دثاقب شهابونو نه ژغوری . دلمر وړانګې فلتر کوی اوهغه برخې یې چې دژوند لپاره زیان لرونکی دی دفع کوی. په داسې حال کې چې دلمر هغه وړانګې چې دژوندانه لپاره لازمی اوګټورې دی هغو ته اجازه ورکوی. دماورای بنفش زیاتره وړانګې چې خطرلرونکی دی داوزون په پوړکې جذبیږی اوبواځې یو لږڅه چې دنباتاتو دفوتو سنتیز عملیې اوتولو ژوو لپاره اړینې دی ځمکې ته رارسیږی. اوبله دنده یې له بې ساری یخنۍ نه دځمکې دسطحې ساتنه ده چې په خلاګې منفی ۲۷۰ درجو ته رسیږی. برسیره پردې هوا Magnetosphere دځمکې مقناطیسی ساحه چې دون آلن بلت په نامه یادیږی هم دیوه ساتونکی پوښ په توګه دزیان لرونکی وړانګو په وړاندې عمل کوی. دغه زیان لرونکې وړانګې چې تل له لمر اوستورو څخه خپریږی دژوو لپاره وژونکی دی.

دون آلن بت په هکله ډاکتر هوګ روسن وایی: په حقیقت کې ځمکه له ټولو هغو ستورونه چې په شمسی منظومه کې دی لوړ کثافت لری دځمکې په هسته کې داوسپنې اونکلو شته والی دځمکې په شاوخوا دیوې ځواکمنی مقناطیسی ساحې دجوړیدولامل ګرځیدلی. دغه مقناطیسی ساحه دون آلن په نامه یوه محفظه جوړوی چې ځمکې دزیان لرونکی وړانګو له بمباره ژغوری.

که چېرې دغه محفظه نه وای دځمکې پرسر به حیات موجود نه وو. هغه یواځنی بله ستوری چې ډبرینه مقناطیسی محفظه لری مریخ دی. خو ځواکمنی یې سل ځلی دځمکې له ساحې څخه کوچنۍ ده. دزهرې ستوری مقناطیسی ساحه نه لری.

هغه انرژی چې په دې وروستیو کلونو کې د یوې آسمانی چاودنې په پایله کې منځته راغلی په دوهمه نړیواله جګړه کې په هیروشیما کې دکارول شوی بم سل میلیارده برابره اټکل شوی ده.

لنډه داچې دځمکې پرسر یو بشپړسیستم په کاردی چې ځمکه یې چاپیره کړی او له باندنیو خطرونو څخه یې ساتی . اودغه موضوع قرآن څوارلس پیړۍ مخکې بیان کړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستنیدونکی آسمان

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ

قسم دی په بیا راګرځیدونکی آسمان (الطارق ۱۱).

د "رجع"کلمه دراګرځیدو اوبیا لېږلوپه مانا ده. څه ډول چې پوهیږو دځمکې چاپیریال له پوړونو یا طبقو څخه جوړشوی او هرپوړدځمکې لپاره یوه مهمه دنده لری ځیرنو ښودلې چې یو یې ځمکې ته دوړانکو اونورو شیانو دراتلو مخنیوی کوی اوبیرته یی فضا ته لیږی اوهغه څه چې له ځمکې څخه خیږی هغه بیا ځمکې ته ستنوی. دبیلګې په ډول :

- تروپوسفیر د ۱۵-۱۳ کیلومترو په واټن کې داوبو بخارچې دځمکې له سطحی نه هوا ته خیږی جامدوی اوبیرته یی په اوبو بدلوی اودباران په توګه یی ځمکې ته راګرځوی.
- د ۲۵ کیلومترو په جګوالی ستراتوسفیر یا داوزون پوړ دماورای بنفش وړانګې فضا ته بیرته ګرځوی.
- د ایونوسفیر (Ionosphere) پوړ ټولې رادیوی څپې چې دځمکې له لوری خپریږی دځمکې بیلابیلو برخو ته لیږدوی. یعنی درادیو لپاره لکه د یوې مصنوعی قمرپه څیر کارکوی. نو بیا داپوړ دبیسیم ،رادیو اوتلویزیون اړیکې په اوږدو واټنونو کې برابروی.
- Magnetosphere یا مقناطیسی پوړ زیان لرونکې وړانګې چې له لمر اونورو ستورو نه راځی هغه دفع کوی.

دغه حقیقتونه چې په شلمه پیړۍ کې موندل شوی د قرآن علمی معجزې دې.

## دځمکې طبقې یا پوړونه

ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٖ وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ مِثۡلَهُنَّ

الله (ج) هغه ذات دی چې اووه آسمانه اوهغو غوندې اووه ځمکې یی پیداکړی. (الطلاق ۱۲).

دجیولوژی علم هم په دې باوردی چې ځمکه اووه پوړه لری:

۱- داوبو کلک قشر Lithosphere (water)
۲- کلکه برخه یا وچه Lithosphere (land)
۳- پوګه برخه Asthenosphere
۴- پورتنۍ پوښ Upper Mantle
۵ -کورنۍ پوښ Inner Mantle
۶- بهرنۍ هسته Outer core
۷-کورنۍ هسته Inner core

لیتو سفیرچې Lithos دډبرې په مانا له کلمې څخه اخستل شوی دځمکې پوښ جوړوی. دغه پوړدنوروپوړونو په پرتله ډیر نازک دی اوپړیروالی یی له سمندرونو لاندې ۸۰ کیلومترو ته رسیږی.دغه له نوروپوړونو څخه کلک اوسوړدی.

استنوسفیر چې د Asteno یاکمزوری له کلمې نه اخستل شوی دغه پوړ له نیمه جامداو ویلی شوواوسروموادو نه جوړشوی پوړدی. فکر کیږی چې لتوسفیر پر همدې پوړ باندې خوځیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له استنوسفیر لاندې ډیرې سرې نیمه جامد دډبروپوړونه شته چې ۲۹۰۰ کیلومتره پریږوالی لری چې د (Mantle) منتال پوښ په نامه یادیږی. اونظر دځمکی پوښ ته دډیرې اوسپنې اومګنیزیمو درلودونکی دی.
دځمکې په مرکز کې دهغې هسته قرار لری چې دپوښ دوه برابره کثافت لری. چې دکثافت دلوړوالی دلیل یی همغه داوسپنې اونکلودالیاژوډیره اندازه ده. هسته له دوو پوړونو څخه جوړه شوې.
یوه یی بهرنۍ اوبلنه چې ۲۲۰۰ کیلومتره پریږوالی لری اوبل یی داخلی یا کورنی پوړ چې جامد اوکلک دی اوپریږوالی یی ۱۲۵۰ کیلومترو ته رسیږی. دهستې اوبلن پوړدځمکې مقناطیسی ساحه جوړوی .

## دځمکې دچارچونو کانګې

إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا

کله چې ځمکه په زلزلې سره ولړزیږی اوخپل درانه بارونه دباندې وغورځوی. (الزلزله ۲-۱).

داثقال کلمه یعنې چارچونه اودرانه بارونه. په دې ځای کې دزلزلې په هکله یوه مهمه مسأله بیان شوې. نوې څیړنې څرګندوی کله چې ځمکه سره شی کثافت لرونکی مواد په اوبلن پوړکې غرقیږی اوسپک مواد پورته راځی له دې کبله دځمکې پوښ لږ وزن لرونکې مواد لکه تورې اوکلکې ډبرې لری.
په داسې حال کې چې دځمکې په هسته کې درانه مواد لکه اوسپنه اونکل ډیر دی له دې کبله دځمکې دپوښ لاندې چې له درنو اوبلنو فلزاتو نه جوړه شوې دځمکې له پورتنې سطحې څخه دروند وی.
داروښانه شوې هغه برخه چې دفلزاتو ډیرې زیرمې لری زیاتره زلزلې په کې پیښیږی. دزلزلې په مهال دځمکې دپوښ لاندې درانه مواد داوخت پیداکوې چې پورته راشی څه ډول چې قرآن عظیم الشأن بیان کړی چې ځمکه خپل چارجونه دکانګو(استفراغ) په څیردباندی غورځوی.

## دغرونو دندې

وَجَعَلْنَا فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِهِمْ

اوپرځمکه مو غرونه ودرول چې له خوزیدواواضطرابه پاتې شی. (الانبیا ۳۱).

دغه آیت وایی چې غرونه دځمکې له لړزیدو څخه مخنیو ی کوی چې داموضوع اوس اوس په جیولوژی علم کې پیژندل شوی ده. پوهانوموندلې چې هرغر دخپل جګوالی لس پنځلس برابره ریښې په ځمکه کې دننه لری. یعنې چې غر لکه یوه میخ غوندی دننه ځمکه کې ننوتې دی. دبېلګې په ډول دیوریست څوکه چې څه ناڅه ۹ کیلومتره دځمکې پرسردی ۱۲۵ کیلومتره په ځمکه کې دننه ریښه لری.
غرونه دځمکې پوښ دخوځښتونو اوټکرونو په پایله کی مینځته راغلی . کله چې دوه صفحې یوله بل سره ټکر وکړی ځواکمنه صفحه به ښکته لاړه شی اوبله به پورته راشی اوپه دی توګه غرونه اودځمکې لوړې غونډې جوړوی. ښکتنې پوړ به دځمکې لاندې ځی اویوه بیخلنه ریښه به غرونو لپاره جوړوی. نو هرڅومره چې دځمکې یوه برخه اوچته اولوړه وی په همغې کچې به دځمکې پوښ په هغه برخه کې پریړ وی اوبیخلن به دپوښ یا Mantle په مینځ کې به مخکې تللی وی. پروفیسر سیاویدا دنړې وتلی جیولوجست وایی: " د وچې دغرونو اود سمندرونو د غرونو په مینځ کې توپیر د دوی د مواد په مینځ کې دې. خو دواړه داسې ریښې لری چې دوی استواره ساتی. ".

أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ مِهَٰدًا ۝ وَٱلْجِبَالَ أَوْتَادًا

آیا ځمکه مو مهد یا بستره اوغرونه مو میخونه(موړی) جوړنه کړل. (النبا ۷-۶).

وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوغرونه مو ستنې (النازعات ۳۲).

"ارسها" يعني ريښه لرونکی ، ثابت اوټکوهل شوی. غرونه دځمکې په پوښ کې غزول شوی اودځمکې لاندی کرښې يو له بله سره ترړی. دځمکې دمخ په تثبيت سره غرونه دپوړونو له ښويدو اوپه Magmaباندې دصفحو له تويدو څخه مخنيوی کوی. عينا لکه دلرګيو تختې اوکندې چې يو پر بل ميخ شوی وی. دغرونو په واسطه دغې د تثبيت عمليی ته په ساينس کې Isostasy وايی. ايزوستازی عبارت دی د پوښ د پوړ دقوی توازان پورته خواته اودځمکې دقشرلاندې لورته. هغه ډول چې غرونه دېبرو د ورستېدو ، دخاروی دکمېدو اودکنګل دويلې کيدو له کبله کوچنی کيږی په همدغه ډول کولای شی دکنګلځايونو دجوړيدو ، اوغورځونکو چاودونو اودخاورو دټوليدو له کبله ستر شی.
بناپردې کله چې غرونه سپک شی دموجودې قوې له لارې په مايعاتو کې پورته خواته ټيله کيږی اوپه هغه صورت کې چې غردروند شی دثقل قوی له لارې دپوښ دپوړ لورته ښکته ځی. نن پوهيږو چې دځمکې د مخې دبرين پوړچاودو له کبله د لامبووهنکوصفحو په څير داوبلنې لاوا په مخ قرارلری. څکه چې ځمکه په ډيرې چټکتيا سره په خپل محور راڅرخی که چيری غرونه دثبات لامل نه وی دغه صفحې به تل دځای دبدليدو په حال کې وای. په دې صورت کې به دځمکې په سر خاوره نه ټوليده او خاورې اواوبو به له يو بله سره تراکم نه کولای ، نباتات به نه راشنه کيدل . لارې اوکورونه به نه شوای جوړيدلای. لنډه داچې ځمکه به دژوندانه لپاره نامکنه وای.
د الله (ج) په مهربانی سره غرونه لکه دموړيو په څيرعمل کوی اوترډيره بريده دځمکې دسطحی دخوځښتونو څخه مخنيوی کوی. اودغه دلوړې پوهې بيلګه سلګونه کاله مخکې په قرآن کې بيان شوی ده.

## دغرونو خوځښتونه

قرآن کريم فرمايی چې غرونه ولاړنه دی بلکې تل دخوځښت په حال کې دی.

وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ

اوغرونه چې جامدوينې ، لکه دوريځو په شان په خوځښت کې دی. (النمل ۸۸).

دغرونو دغه خوځښت دځمکې دقشر دخوځښت له کبله مينځ ته راځی . دځمکې قشر دپوښ په پوړباندې خوځيږی. لومړی ځل يوه آلمانی پوه الفرد وګنر په شلمه پيړۍ کې روښانه کړه چې لوېې وچې په لومړی سره کې يو له بل سره نښتې وې اووروسته بيا دخوځښت له کبله يو له بله بيلې شوې اويو له بله لرې شوې.
پنځوس کاله وروسته له ده نه په کال ۱۹۸۰ کې ځمکې پيژندونکې دده دنظريې په حقيقت پوه شوې. پنځه سوه ميليونه کاله وړاندې دځمکې لويی وچې يوله بل سره ترلې وی اوپه سويل قطب کې يی قرار درلود چې پوهانو ورته پانګيا نوم ورکړی. يوسلو اتيا ميليونه کاله مخکې دغه پانګيا په دوو برخو وويشل شوه ، چې ورته ګوندوانا نوم ورکړشوی چې افريقا ، آستراليا ، انترکتيکا ، اوهند په کې شامل وو. اودوهمې برخې ته يی لوريشيا نوم ورکړی شوی چې اروپا ، شمالی امريکا ، اوآسيا پرته له هنده په کې شامله وه. چې يوسلو پنځوس ميليونه کاله نور دغه دوه لوېې وچې په ورو برخو وويشل شوی.
له پانګيا څخه جوړه شوې ټوټه په چټکۍ سره څوسانتی متره په کال کې خوځښت لرې چې دغه حرکت دځمکې پيژندوکو له خوا داسې تشريح شوی دی:
دځمکې قشر اودپوښ دپورپورتنۍ برخه چې سل کيلومتره پريړوالی لری په داسې پانو ويشل شوې چې Plates پلا تس په نامه ياديږی. شپږ لوی پانې يا صفحی اوډيرې نوری ووړکې پانې دی. دپانودفرضيی له مخې دغه پانې دځمکې په سر حرکت کوی چې زيادتره يی لويی وچې له ځان سره وړی. دلويو وچو خوځښت په کال کې له يوه نه ترپنځو سانتی مترو پوری اټکل شوی دی. اوځکه چې داپانې تل په خوځښت کې دی دجغرافيايی بدلونونو سبب ګرځې دبيلګې په ډول داطلس بحر هرکال يوڅه پراخيږی.
مهم تکی دادی چې قرآن غرونه لامبو وهونکی اوخوځيدونکی ښوولی اواوسنۍ پوهه هم لويی وچې خوځيدونکې جوتوی اودا خوځيدنه داسې نه ده چې په سترګو وليدل شی پس آيا دامعجزه نه ده هغه څه چې په شلمه پيړۍ کې خلک پری پوه شول په اوومه پيړۍ کې بيان شوی وو په داسې حال کې چې هغه وخت به دومره خلک ددی آيتونو په اصلی مفهوم نه پوهيدل اودا بل دليل دی دالهی کلام په اعجاز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلمرختو اولويدو بيلابيل ځايونه

فَلَآ أُقْسِمُ بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ

قسم په خداى دمشرقونو اومغربونو چې موږ قادريو. (المعارج ۴۰).

دمشرق يا ختيز اوهم لويديز لپاره دجمعې صيغې كارول داڅرګندوى چې لمر يواځې له يوه ځاى نه نه راخيژى اونه هم په يوه ټكى كى لويږى اودالله قسم په دى موضوع دهغه اهميت باندې ټينګار كوى.

ځمكه په خپل ځان ۳۰-۲۷ درجه زاويې باندى راڅرخى. ددې زاوى له كبله اودځمكې دشكل دګرد والى له كبله دلمرورانګې تل په يوه زاويه پرځمكه نه لويږى ، بنا پردې كله چې ځوک داستوا له كرښې نه لرى واوسى كولاى شى ووينى چې دكال په اوږدو كې دلمر ختل اولويدل په بيلابيلو ټكو كې واقع كيږى.

څوک چې داستواد كرښې پر سروى تل دلمر ختل اولويدل په يوه ځاى دلويديز اوختيز كې وينى. اوڅرنګه چې عربستان داستوا كرښې ته نږدى دى په بيلابيلو ټكو كې دلمرلويدل دليدو وړنه دى اوداسى ښكارى چې لمر له همغې يوې نقطې راخېژى اوپه يوه نقطه كې لويږى. خو ددې موضوع حقيقت قرآن څرګند كړى. (والله اعلم).

# دپاى له ټكو نه دځمكې لنډول

أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا نَأْتِي ٱلْأَرْضَ نَنقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا

آيا ويى نه ليدل چې موږدځمكې عزم كوو اودهغه له شاوخوانه يى رالنډوو. (الرعد ۴۱).

ځمكه دالفا ، دذرو له لارې چې له لمر نه پروتون اوالكترونونه راځى تر يرغل لاندې نيول كيږى ، دغه لمريز بادونه ډيرځواكمن وى اوكولاى شى چې دځمكى اتوموسفير دځمكې له كرې نه جلاكړى خودځمكې مقناطيسى ساحه يى نه پريږدى چې ځمكې ته زيان ورسيږى. دغه راز يادشوى آيت كولاى شى په قطبونو كې دځمكې نقصان ته اشاره وى . په اوس وخت كى دځمكې دقطبونو دكنګلونو د تدريجى ويلې كيدو له كبله دسمندرونو د اوبوكچه مخ په لوړيدو ده . چې دغه داوبو زياتيدنه به كراركرار دځمكې وچه راكمه كړى. د (ننقصها من اطرافها) جمله ممكنه ده په سويل اوشمال كې دځمكې دساحلونو دنيولو په ماناوى.

نيويارك تايمز داسې رپوټ وركوى:

" په وروستى پيړۍ كې دځمكې تودوخه دفارنهايت يوه درجه لوړه شوى اودقطبى كنګلونه دويلى كيدو چټكتيا ډيره شوې. دګاوارد دفضاى انستيتيوت پوهان چې دامريكا دخلايى چارودموسسى NASA ناسا پورې اړوند دى لاسته راغلى رقمونه په ۱۹۵۰ ، ۱۹۶۰ و ۱۹۹۰ كلونو كې سره پرتله كړى چې پايلې يى دا جوتوى چې دقطبى كنګلونو پريړوالى پنځه څلويښت په سلوكې كوچنى شوى.

دغه راز په مصنوعى اقماروكې اخستل شوى تصويرونه داڅرګندوى چې دځمكې دقطبونو كنګلونه په دې وروستيو كلونو كې ډير لږ شوى دغه موندنې كيداى شى دغه آيتونه تفسير كړى.

شريدل يا نقصان دځمكې په شاوخوا اوپا دځمكې په وروستۍ برخه كې چې په قرآن كې يادشوى ممكنه ده يوې بلى علمى پيښې ته هم اشاره كړې وى.

دغه حقيقت چې ځمكه دخپل محور په شاوخوا راڅرخى اوبنه يى بشپړه كروى نه ده بلكې په دواړو قطبونو كې يوڅه كېكاګل شوى ده (شكل Geoid).

څېړنو ښوولى چې دځمكې قطر داستوا دليكې په دوام كې په خپل محور دڅرخيدو دقوى له كبله مخ په زياتيدودى اوله محور سره يى موازى قطر په دوو انجامونو يا دوو قطبونو كې مخ په كميدو دى . اوځكه چې ځمكه تل په خپل محور راڅرخى دغه بدلونونه به لاهم پيښيږى. د ننقصها كلمه هم نااستمرارى حالت لرى اوپه دواړوانجامونو كې دوامداره كمښت جوتوى.

دآسمانى اجرامو مدورشكلونه په هغو كې دثقل دقوى داغېزې له كبله مينځته راغلى. په داسې حال كې چې كروى شكل مطلق نه وى بلكې په قطبونو كې يوڅه هوار اوداستواپه محيط كې وتلى وى. دناسا NASA دشمېرنو له مخې افقى قطر يا داستوا دسطح قطر ۶۳۷۸۰۱ كيلومتره اومحورى قطر يا بين القطبى ۶۳۵۶۰۸ كيلومتر ه ده يعنې ۰.۳ فيصده فرق ددواړو په مينځ كې شته.

دځمكې دشكل دغه ماډل چې په كال ۱۶۸۷زيږديز كې دنيوتن له خوا وړاندې شوى ، سلګونه كاله مخكې له قرآنه اخيستل كيداى شواى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇩


## ځيرې کيدونکې يا چاودېدونکې ځمکه

وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ

⇧

(قسم) په چاوديدونکې ځمکې (الطارق ١٢).

د "صدع" کلمه دچاوديدلو ځيرې کيدلو ، اوبېلېدلو په ماناده دالله سوګند په دې موضوع دهغه اهميت جوتوی. په ١٩۴۵-١٩۴۶ کلونو کې پوهان دسمندرونو تل ته دځيړنو لپاره ورغلل . يوه مهمه مسأله چې ددې ځېړنو په ترځ کې وموندل شوه دځمکې چاودلی جوړښت وو. دځمکې دبرين قشر دسترو چاودو له لارې چې لسګونه زره کيلومتره اوږدوالی لری تو‌ټه توټه کېږی . دغه چاودونه له شمال نه دسويل لوری ته اوله ختيز نه لويديز لوری ته ادامه لری. پوهان په دې هم پوه شول چې په سمندرونو کې ددغو توټو لاندې دمګماMagma پنډوالی سل نه تر يوسلوپنځوسو کيلومترو پوری رسېږی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې چاودوله کبله لاوا دبحرونو مخ ته وځي ، اوپه دې ترتيب يوه زياته اندازه تودوخه له لاسه ورکوي او د سمندري غرونو دډبرو ټوټې هم جوړيږي. که ځمکې دغه جوړښتونه نه درلودلای ټوله تودوخه به دځمکې دمخی له لاری ضايع شوی نه وای اوپه پايله کې به د ډيرې تودوخې له کبله دځمکې پر سر ژوند ناممکنه وای.
دداسې يوې مغلقې مسألې توضيح چې په نوې ټکنالوژی سره مطالعه شوې څوارلس پيری مخکی په قرآن کې بيان شوې. چې داهم دقرآن يوه معجزه بللی شو.

## د اوسپنې معجزه

وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

اود غه راز اوسپنه مو نازله کړه چې په هغه کې شديد قوت اوډيرې ګټې دی لپاره دخلکو. (الحديد ۲۵).

د انزلنا کلمه چې دښکته ليږلو په مانا ژباړل شوې کيدای شی داوسپنې لپاره داستعارې په ډول کارول شوی وی اوهدف په کې داوی چې يو ګټورشی خلکو ته ورکړشوی. اوکه هغه کټ مټ د لاندې تويدلو په مفهوم لکه چې دباران لپاره کارول شوې په دې صورت کې دقرآن ستره علمی معجزه څرګندوی.
دستوروپېژندنې معاصره پوهه وايی هغه اوسپنه چې په ځمکه کې شته دبهرنۍ فضا له ډيرو سترو ستورو څخه راغلې. نه يواځې دځمکې اوسپنه بلکې دټولې شمسی منظومی اوسپنه له بهرنۍ فضا څخه راغلې ، ددې دليل دادی چې دلمر تودوخه داوسپنې دجوړيدولپاره کافی نه ده . دلمر په سطح کې شپږزره سانتی ګريده اودلمر دهستې تودوخه شل ميلويونه سانتی ګريده ده. اوسپنه له لمر نه په ډيرو لويو ستوروچې دتودوخې درجه په هغو کې څو سوو ميليونو درجو دسانتی ګريدو ته رسيږی توليديږی. کله چې داوسپنې کچه په يوه ستوری کې له يوه ټاکلی بريده ډيره شی ديوه ځليدونکی ستوری غوندې چاودنه کوی اواوسپنه يی فضا ته آزاديږی.

دنواNova په نامه دچاودنو مخکينې شواهد شته ، داوسپنې (Fe-60) ډيره اندازه دسمندرونو په تل کې ديوه سترې نواSupernova چاودنې ښودنه کوی چې ۹۰ نوری کاله مخکی چې له پنځوميليونو کلونو سره برابريږی واقع شوی. دجيولوژی په پوړونو کې دډيرې اندازی ايزوتوپونو شته والی ددې ښودنه کوی چې په دې نږدی وختو کې په لنډه فضا کې دهغو ذرې جوړې شوی اووروسته ځمکې ته لېږدول شوی.
قرآن په اوومه زيږديزه پيړۍ کې روښانه کړی چې اوسپنه په ځمکه کې نه ده جوړه شوې بلکې نازله شوې يا له پاسه رالېږل شوې. اويواځې الله (ج) دی چې پوهه يی په هرڅه رسيږی.
د "و" کلمه ( دلته ددغه راز مانا ورکوی ) هم په آيت کی اوهم دشلمې پيړۍ دنجوم په علم کې واضح شوې چې له اوسپنې برسيره نورمواد هم په نورو ستورو کې جوړيږی اوبيا ځمکې ته توږيږی .
خو په دغه آيت کې داوسپنې په اهميت ټينګارشوی . مايکل ونتن وتلی مايکروبيولوژيست داوسپنې داهميت په هلکه وايی :
" دژوند لپاره ډير مهم فلز اوسپنه ده ، په غټوستوروکې همدغه داوسپنې زيرمې دی چې دناوا دچاودنو لامل ګرځی اوبيا په خلاکې يی اتومونه خپريږی. ددروندوالی له کبله داوسپنې اتومونه دځمکې دمرکزلورته ځی اودډير لوړحرارت دجوړيدولامل ګرځی چې دغه تودوخه دکيمياوی تفريق زمينه مساعدوی اودځمکې داتوموسفير ګازونه اودهايدورسفير پوړجوړوی.
دځمکې په هسته کې اوبلنه اوسپنه ديوې سترې ډاينمو په څير کارکوی اودځمکې مقناطيسی ساحه جوړوی. دځمکې مقناطيسی ساحه دوان آلن ملاښدونه جوړوی چې ځمکه له خلا څخه د ورانوونکووړانګو له شر څخه چې دفوق العاده انرژۍ درلودونکې وی ژغوری.
داوسپنې له شته والی پرته ژوند دکاربن په اساس ناممکنه دی ، اوهيڅ هغه څه چې پورته ياد شول نه شوای جوړيدلای. هيمو ګلوبين نه شوای جوړيدلای اوداسی کوم فلز به نه وای چی په ميتابوليزم کې داحتراق سبب ګرځيدلای وای.
د ژوندانه او اوسپنې په مينځ کې څواکمنې اړيکې ، دوينې سره کرويات او ځينې رنګينه ډير لږ ستوری نه يواځې دژوند اړيکې له فلزاتو سره بلکې د نړۍ دوجود لپاره څرګندوی. (Biocentricity)."
نو پراوسپنه دټينګار اهميت په قرآن که واضح شوی. دالحديد سوره دوه نور مهم رياضيکی اړخونه هم لری: الحديددقرآن ۵۷ سوره ده ، د "ابجد" له نظره الحديد مساوی ده له ۵۷ سره

- اوحديد د ابجد له نظره ۲۶ ده اود اوسپنې اتومی نمبر هم ۲۶ دی.

يو آلمانی پوه د ډاکتر فرندرياس يوردن په نامه داوسپنې داکسايد ذری دسرطان ناروغی ددرملنې لپاره هم کارولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پطرولوجوړښت

ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ وَٱلَّذِى قَدَّرَ فَهَدَىٰ وَٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ

هغه چې هرڅه يې پيداکړل اوسم يې کړل هغه چې اندازه يې کړل اولارښوونه يې وکړه هغه چې شنه ګياه يې راوويستله اوهغه وخت يې وچ کړل اوتوريې کړل. (الاعلی 2-5).

څه ډول چې څرګنده ده پطرول په سمندر کې دنباتاتو اونورو ژوو له پاتې شونو څخه جوړيږی ، ميليونونه کاله وروسته کله چې دغه پاتې شونې په سمندرونو کې ورستې شوې په يوې غوړې مادې واووښتې. چې دغه مواد دختو اوډبرو لاندې په پای کې په نفتواوګازو بدليږی . دځمکې دقشر خوځښت ځينې وخت په سمندر کې دتحجر لامل ګرځی اودنفتو حجری په زرګونو مترو لاندې خښيږی. ځينې وخت دغه نفت دډبروله سوريو څخه راوځی اوله څوکيلومترو لاندې نه ځان دځمکې سطحې ته رسوی چې دلته بيا تبخيريږی او قير يې په ځای پاتې کيږی.
درې دغه يادشوی ټکی په ۲ او۴ پورتنيو يادوشوو آيتونو کې دنفتو دجوړښت له پړاوونو سره سمون خوړلای شی . په ډير ګمان د "المرعی" کلمه يعنې شنېلی کيدای شی دنفتو دجوړيدو لومړنۍ مادې ته اشاره وی. دوهمه کلمه چې دپام وړده د "احوی" کلمه ده چې دتوربخوند شنيلی لورته اشاره ده . دغه کلمه کولای شی چې له نباتاتو نه پاتې شوی د فاضله موادو ورستېدل توضيح کړی ، چې دځمکې لاندې لاهم توريږی. اوداکلمه په "غثاء" ستايل کېږی چې دپريکړ شوی شنه واښه په مانا ده. دغه راز کيدای شی دهغو موادو په مانا راشی چې داوبو له لاری راوړل شوی وی يا داسی چې داوبو سر ته له ځمکی رااخستل شوی وی. په حقيقت کی نفت هم له ځمکی نه رابهېږی اوديوې تورې شنې بخوندې څک لرونکې مادې په څير بهيږی نو وينو چې د"غثاء احوی" کلمه څومره په مهارت اوپوهې سره په دغه آيت کی کارول شوې. څه ډول چې مو وليدل دنباتاتو بدليدل په اوبلنوسريښناکواوتورو موادو باندې ډير مشابهت لری له نفتو سره ، ددغې موضوع بيانيدل په داسې وخت کې چې خلکو لا نفت او له هغو څخه لاسته راغلی مواد لکه پطرول نه پيژندل په خپله دقرآن کريم يوه معجزه ده.

## د وخت نسبيت

د وخت دنسبيت حقيقت باندې پوهان اوس پوه شوی اوانيشتين دشلمې پېړۍ په لومړيو کې دغه فرضيه بيان کړه . اوهغه ثابته کړه چې وخت له کتلې اوسرعت سره اړيکی لری. په داسۍ حال کې چې قرآن کريم ډير مخکی دوخت دنسبيت مسأله بيان کړی ده.

وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ

هغه يوه ورځ دالله په وړاندې لکه زرکاله ستاسو په شمېر ده (الحج ۴۷).

تَعْرُجُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ

... هغه ورځ چې دپنځوس زروکلونو سره برابره ده (المعارج ۴).

له پورتنی آيت نه په روښانه توګه دوخت دنسبيت مسأله څرګنديږی.

## په شپږوورځو کې پيداکيدل

إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ

ستاسو هستونکی الله چې ځمکه اوآسمانونه يې په شپږو ورځو کې پيداکړل (الاعراف ۵۴).
بله موضوع چې دقرآن اوننی ساينس په مينځکې همغږی جوتوی هغه دنړی عمر دی . پوهانو دنړی ټول عمر دشپاړسوو نه تراوولسوميلياردو کلونو پوری اټکل کړی دی . قرآن وايی چې نړۍ په شپږو ورځو کې پيداشوې دغه دوه وخته سره له دې چې په ظاهره له يوبل سره په تضاد کې ښکاری خو په حيرانوونکی ډول يوه له بل سره ورته والی لری په حقيقت کې دغه دواړه رقمونه صحيح دی يعنی چې نړۍ په شپږو ورځو کی چې زموږ له اووه لس ميلياردو کلونو سره معادله ده پيداشوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینیشتین په کال ۱۹۱۵ کې روښانه کړه چې زمان نسبی دی یعنې دوخت بهیر د خلأ ، چټکوالی اودجاذبې قوې له نظره سره توپیرلری . په قرآن کې دشپږو ورځو یادونه کیدلای شی دشپږو پړاوونو په مانا وی

څکه په ځمکه کې یوه ورځ څلیریشت ساعته وی په داسې حال کې چې دنړۍ په یوه بله برخه کې دبیلو شرایطو لاندې یوه ورځ له دی نه ډیره لنډه یا هم اوږد ه وی . دبیلګې په ډول دنپتون دکرې یوه شپه اوورځ څوارلس ساعته اولس دقیقې ده اویو کال یی له ۸، ۱۶۴ ورځو سره برابر دی . برسېره پردې دیوم کلمه نه یواځې دورځې بلکې دعصر ، زمانې ، پړاو ، شپې اووخت په مانا هم ده.

دنړۍ په لومړی پړاوکې ، وخت ډیر ژر له هغه څه نه چې موږ یی اوس وینو تیریده ، څکه کله چې دسترې چاودنې په وخت کې ټوله نړۍ لکه دیوه زیېښل شوی ټکی په شان ؤ . دنړۍ ارتېدل دسترې چاودنې په پایله کې دهغې بریدونه دمیلیونونو کلونو په کچه پراخ کړل په حقیقت کې هغه وخت په خلأ کې دنړۍ کش کیدل په نړۍ کې دسترو مهمو انشعابونو لامل شو.دسترې چاودنې دشېبې انرژی دزمان یا دوخت چلند زرمیلیارده وارې له نن څخه ورو کړ. کله چې نړۍ پیداکېدله دوخت چټکتیا زرمیلیارده برابره له نن څخه چټکه وه. یعنی چې زرمیلیارده دقیقې زموږ معادلې دی دنړۍ دهستی له یوې دقیقی سره. که شپږ ورځې وشمېرومعادلې به وی له شپږ زره میلیارده ورځو سره ، څکه دنسبیت دقانون په پام کې نیولو سره نړیوال وخت زر میلیارده برابره دځمکې دکرې له دوخت نه چټک دی. بیانو شپږ زره میلیارده ورځې مساوی دی له ۱۶۴۲۷ میلیونه کاله سره.

کاله 16427104723 = 365، 25 / ورځې6000000000000

له بل پلوه دخلقت هره ورځ مساوی ده دځمکې دکرې دبیلابیلو له دورو اوپړاوونو سره. دلیل دادی چې هرڅومره نړۍ پراختیا موندلې وای دوخت بهیر به ورو شوی وای. څکه چې دنړۍ جسامت له کله نه چې دیوه ټکی په شان وه دوه برابره شو نودوخت چټکتیا نیمایی ته راښکته شوه. که دخلقت هره ورځ دځمکې دکرې دوخت له مخې محاسبه کړو لاندې پایلې په لاس راځې:

- دخلقت پیل ته په پاملرنې سره دپیدایښت لومړۍ ورځ چې ۲۴ ساعته کېږی برابرېږی دځمکې دکرې له اتومیلیاردو کلونو سره.
- دوهم څلیریشت ساعته چې دنړۍ جسامت دوه برابره شو اوچټکتیایی نیمای شوه دځمکې دکرې له څلورو میلیاردو کلونو سره معادل دی.
- په همدی توګه دریمه ورځ دځمکې دکلونو له دوو میلیاردو کلونو سره معادل دی.
- څلورمه ورځ دځمکې له یو میلیارد کلونو سره معادله ده.
- پنځمه ورځ دځمکې دکلونو له پنځه سوه میلیونو کلونو سره معادله ده.
- اوشپږمه ورځ دځمکې له دوه نیم سوه میلیونو کلونو سره معادلیږی.

نو د نړۍ ددې شپږو ورځو مجموعه دځمکې دپنځلس میلیارده اواووسوه پنځوس کلونو سره معادله ده. دغه موضوع په یوه ویشتمه پیړۍ کې روښانه شوه حال داچې څوارلس پیړۍ مخکې تردې په قرآن کې بیان شوې. چې داهم دقرآن اوساینس په مینځ کې دهمغږی اومعجزی څرګندوی دی.

## دتقدیر حقیقت

وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا

اوتاسو هېڅ هم نه غواړی پرته له هغه څه نه چې الله (ج) یی وغواړی او الله (ج) پرهرڅه پوه اودحکمت درلودونکی ؤ اودی (الانسان ۳۰).

پروفیسر بینامین لیبت په کال ۱۹۷۳ دکلفورنیا په پوهنتون کې څېړنې وکړې چې داسې څرګندویی کوله چې زموږ تصمیمونه ټول مخکې له مخکې په دماغ کې تنظیم شوی. اوشعور نیمه ثانیه وروسته له هوډ اوتصمیم څخه په کارلویږی . داعصابو یوبل متخصص موضوع داسې روښانوی: "مو ږ اصلاً په ماضی کې ژوند کوو اوزموږ شعور لکه دیوه مونیتور( دتلویزیون ښیښه) غوندې دی چې هرڅه موږ نیمه ګړی وروسته ښکاروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنا پردې زموږ هیڅ یوه تجربه داوسنی زمان سره تړاو نه لری اوهرڅه نیمه ثانیه وروسته له اصلی پیښې نه منځ ته راځی.

داکتر لیبت خپلې څېړنې پرته له دې چې انستېزی ته اړتیا پیداشی په دماغ باندی دجراحی عملیاتو له لارې په داسې حال کې چې هغه کس بشپړ ویښ ؤ ترسره کړې. لیبت ترعملیاتو لاندې شخص ددماغ ټاکلې برخه دبرېښنا په واسطه تحریک کړه داسې چې فکر وکړی له لاس سره یې یو څه لګیدلی. ترعملیاتو لاندی کس وویل نیمه ثانیه مخکی دده په لاس یو څه ولګیدل . له دې اندازه اخستنې سره لیبت دې پایلې ته ورسید چې ټول ادراکونه دماغ ته لیږدول کیږی اوداچې هرادراک تر شعورلاندې تحلیل اوتعبیریږی زه یا Ego له هغه څخه نه خبریږی. ددې لپاره چې پرهغو معلوماتو چې مخکی زموږ له فکر کولوروښانه شوی پوه شو ، هغه له یوڅه ځنډ نه وروسته زموږدماغ ته لیږدول کیږی.

یعنی ، د یوې عضلې دحرکت ورکولو لپاره تصمیم مخکې له هغه نیول کیږی چې زموږ شعور یې اړتیا وینی. تل دعصبی ادراک اوله هغه فکر نه زموږ دخبریدو ترمینځ یوواټن اوورسته والی وجود لری. په بله وینا موږ هغه وخت له خپل تصمیم نه خبرېږو چې له مخکی نه یی پریکړه شوی. داڅرګندوی چې هرفکر ، عاطفه ، احساس اوحرکت مخکې له دې چې زموږ شعور پرې پوه شی پېښیږی. اوله دې نه داڅابتېږی چې راتلونکی په پریکنده توګه زموږ له واک نه وتلی.

په یوه بله تجربه کې همدغه فروفیسر تر تجربې لاندې خلک په خپل واک کې پرېښودل څو چې خپلې ګوتې دیوبل په وړاندې جګې کړی ، اوخپله یی دهغوی دماغ ترخپلې نظر لاندې ونیو. په واقیعت کې دعمل داجرا لپاره ددماغ دحجروفعالیت مخکې له دې چې هغه شخص تصمیم ونیسی پیل شو. په بله وینا د( وکړه یا مه کړه) قومانده شخص ته ورسیده ، وروسته له هغه دشخص دتصمیم نیولو قوماندە دماغ ولوستله اوشخص وروسته له نیمې ثانیې څخه پرهغه خبر شوی. شخص تصمیم نه نیسی چې څه وکړی اوڅه ونه کړی بلکې له مخکې نیول شوی تصمیم عملی کوی.البته دماغ یو بدلون راولی اوهغه دادی چې هرډول داسې شواهد چې داسې څرګنده کړی چې ګواکې داهرڅه له مخکې نه پیښ شوی هغه له مینځه وړی. په همدې دلیل هغه وخت ته چې موږ اوس وایو په حقیقت کې داسې ژوند کوو چې له مخکې نه ټاکلی شوی.

داتجربه جوتوی چې هرڅه دالله دغوښتنې مطابق ترسره کیږی.

## د زوجونو یا جوړو پیداښت

سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنبِتُ الْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ سپېڅ

لی دی هغه الله چې ټول یې جفت پیداکړل ، هغه څه چې په ځمکه شنه کیږی ، اوله دوی نه (راپیداکیږی )اوپه هغه څه چې نه پوهیږی دوی. (یس ۳۶).

زوج یا جفت دښځې اونر په مانا کارول کیږی په داسې حال کې چې دهغه څه په هکله چې خلک نه پوهیدل لا ستره مانا لری. په ریښتیا هم هغه وخت یواځې ددې کلمې یوه مانا باندې خلک پوهېدل. دپال دیرک په نامه یو انګریز فزیکپوه په دې موندنې سره چې ماده په جفت ډول پیداشوې ، په کال ۱۹۳۳زیږدیز کې یی دنوبل جایزه خپله کړه. هغه په ماده کې دزوجیت اودمخالفو ځانګړتیاو درلودنکو پدیده ښکاره کړه لکه دمثبت چارج درلودنکی پروتون اودمنفی چارج درلودونکی الکترون. هره ذره خپله مخالفه ذره چې دمخالف چارج درولودنکی وی دفع کوی. د (Uncertainty Rotation) نظریه وایی چې هرچېرې اوهروخت دجفتونو خلقت اوله مینځه تلل یی په خلا کې واقع کیږی.

دجفتونوبله بېلګه نباتات دی ، نبات پیژندونکی سل کاله وړاندې په نباتاتو کې دجنسونو په توپیر پوه شول . په داسې حال کې چې الله (ج) څوارلس پیړۍ مخکې دغه موضوع په خپل کتاب کې روښانه کړې:

وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ

اوله آسمانه مو اوبه راولېږلې اوپه هغومو ډیرګټه لرونکی زوجونه راشنه کړل (لقمان ۱۰).

## د اتومونو ذرې

له پخوا څخه پوهانو داموندلې وه چې دمادې کوچنی ذره اتوم ده اواتوم دتجزیې وړنه دی خو اوس اوس ساینس په دې پوه شو چې اتوم هم تجزیه کیږی.

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَ[illegible] وَلَا أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ نه پاتې کیږی له هغه نه په اندازه د ذرې په آسمانونو اوځمکه کې اوهرڅه چې کوچنی یا لوی له ذرې نه وی اوهرڅه په کتاب کې ښکاره دی (سبا ۳).

دا آیت اتوم اوله هغه نه کوچنیو ذروته اشاره لری.
ترڅه باندې دوه لسیزو وړاندې (ددې کتاب ترلیکلو) پروتون اونیوترون داتوم کوچنۍ ذرې پېژندل کیدې په دې وروستیو کې ان هغه کوچنۍ ذرې موندل شوی چې پروتون اوالکترون ترې جوړشوی. په دې اړوند یوه ځانګړی څانګه چې دپراکتیکال فزیکس په نامه یادیږی جوړه شوې څو چې دغه ذرې ترڅېړنې لاندې ونیسی. دذروی فزیک مطالعې ښودلې چې پروتونونه اونیوترونونه له نوروذرو چې دکوارک په نامه یادیږی جوړشوی. ددې ذرولوی والی دانسان له پوهې نه بهردی یعني $10^{-18}$ متره (یو پر 1000000000000000000 برخه د متر).
دپام وړ بل ټکی په دې آیت کې داتوم وزن دی . دمثقال کلمه داتوم وزن ته اشاره کوی. داهم موندل شوې چې الکترونونه ، پروتونونه اونیوترونونه یو ځای شوی اواتوم یی جوړکړی اوهغه ته وزن ورکوی. اودا دقرآن یوه بله معجزه ده چې داتوم له تجزیې او اوله وزن نه یی بحث کوی.( اتومی وزن ډیر کوچنی وی چې دمندلیف په جدول کې د عناصرو وزن یادشوی اوکله چې قرآن نازلیده اتوم لا چا نه پېژانده وزن خو یی لاپریږده خو قرآن په صراحت سره په پورتنی آیت کې دمثقال له کلمی نه چې له ثقلت نه اخستل شوې یادونه کوی اود ذری لپاره دروند والی ته ګوته نیسی. پښتوژباړونکی)

## تیاره یا تور سوری

په شلمه زیږدیزه پیړۍ کې دخلاپه هکله ډیرې موندنې وشوې. چې له هغې ډلې نه یوه یې په دې وروستیو کې څرګنده شوې اوهغه تیاره سوری دی. دغه سوری هغه وخت جوړیږی چې یو ستوری خپل ټول دسونګ توکې مصرف کړی ، دغه ستوری انقباض کوی اوپه یوه تورسوری په لایتنهای کثافت سره چې حجم یی له صفر سره مساوی کیږی چې یوه ډیره زوروره مقناطیسی ساحه لری بدلیږی. دغه تورسوری په ډیرو ځواکمنو تلسکوپونو سره هم دلیدو وړنه دی. ځکه چې دهغه دثقل قوه دومره ځواکمنه ده چې نور یا روښنایی نه شی کولای له هغه نه وتښتی ، خو تورسوری دهغې مقناطیسی قوې چې په خپل شاوخواکې یی جوړوی موندل کیدای شی.
دتورسوری اصطلاح Black hole لومړی ځل په کال ۱۹۶۹ میلادی کې دیوه امریکایی فزیکپوه جان هویلر په نامه وکارول شوه . مخکې داسې انګیرل کیده چې ټول ستوری لیدلای شو ، په داسې حال کې چې وروسته څرګنده شوه چې داسې ستوری هم شته چې موږ هغه لیدلای نه شو ځکه دهغو ی رڼا ختمه شوې او له مینځه تللی (Collapsed) ده. له داسې یوه سوری نه چې فوق العاده کثافت ولری اویو کوچنی ځای په خلأ کې ونیسی نور نه شی کولای تیر شی ، دهغه لایتناهی دثقل قوه ډیر چټک شیان حتی دنور کوچنۍ ذرې (Photon) ځان ته جذبوی. دبېلګې په ډول دیوه ستوری دسوځیدو پړاو چې دری ځلې له لمر نه ستر وی اوتر پایه وسوځیږی ، دیوه تورسوری(سوړی) د ۲۰ کیلومترو په قطر شی په هره توګه به دیوې تورې سوړې په څیر شی اودلیدو وړ به نه وی ، خو په نامستقیم ډول به خپله اغیزه هرومرو په نوروآسمانی جسمونو څرګندوی اوپه دی توګه به خپل شتون ثابتوی.
کیدای شی دامبارک آیت همدې موضوع ته اشاره کوی:

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ٱلنَّجْمُ ٱلثَّاقِبُ

اوڅه ډول پوهیدلای شې چې طارق څه دی ،هغه ستوری چې نفوذکوی(په تیاره کې) (الطارق ۳-۲).
برسېره پردې ډیر لوی ستوری هم دخلأ یوه برخه په ځان کې رانغاړی. تورسوری نه یواځې دخلأ دتاوراتاویدو لامل کرځی بلکې دیوې ټوټه کیدو لامل هم کرځی. دغې موضوع ته په قران کې اشاره داڅرګندوی چې داکتاب یواځی د الله (ج) کلام دی.

فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتْ

هرکله چې ستوری بې نوره اومحوه شی (المرسلات ۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبضانی ستوری

دالطارق دسورې په لومړیو آیتونو کې د "طارق" کلمه دطرق له ربښې نه دکلک وهلو په مانا چې غږ جوړکړی اخستل شوی دی . که په دې آیت کې په احتمالی توګه دنبض الوتلو یعنې همغه له غږ سره دوهلو په مانا وی په یوه مهم علمی خبره باندی دلالت کوی . په وروستی آیت کې وایی چې طارق هغه ستوری دی چې په شپه یا په تیاره کې نفوذ کوی . په شپه کې پیداکیږی مخکې ځی ، نبضان لری چټک اوپریکونکی دی. اوقسم یی یاد کړی اوپه هغه باندی سوګند کول دیوې مهمې علمی موضوع په اهمیت باندې دلالت کوی.
هغه څیړنې چې جوسلین بل بورنل په کال ۱۹۶۷ کې دکامبریج په پوهنتون کې کړی د یوه منظم راډیوی زیګنال له لارې یی داخبره تایید کړه. مخکې له هغه څرګنده نه وه چې آسمانی جسمونه دزړه په شان دنبض وهلو ځانګړنه لری . په کال ۱۹۶۷ کې ستوروپېژندونکو روښانه کړه کله چې یوه ماده په خپله هسته کې متکاثفه شی ، دخپل ځان په شاوخوا په څرخیدو راځی اودهغه مقناطیسی ساحه هم په څرخیدو راځی اوډیره قوی کیږی. دبېلګې په ډول زرمیلیارده یا یو تریلیون ځلې دځمکې دمقناطیسی قوی څخه ځواکمنه کیږی. هغوی داسی جسمونه وموندل چې په ډیره چټکی سره تاوېږی اوقوی رادیویی څپې دیوه مخروط په شان له خپل ځانه خپروی.
وروسته ډیر ژر څرګنده شوه چې ددغه زیګنال سرچینه دنیوترونی ستورو کرځیدل دی . دغه نیوترونی ستوری نوی موندل شوی چې دنبضانی یاPulsar په نامه یادیږی. دغه نبضانی ستوری چې د روښانه ستورو دچاودنې په پایله کې مینځ ته راځی دډیری کتلې اوروښنایی اوچټک خوځښت درلودونکی وی. ځینې دهغوی ۶۰۰ ځلې په یوه ثانیه کې په ځان راڅرخی.
دنبضانی کلمه چی له نبض څخه اخستل شوې دخوځښت کولو یا منظم ښوریدو په مانا ده چې په هرځل ښوریدو کې منظم انقباض اوانبساط ښکاره کړی. اودغه موضوع مخکې له دې چې دغه نبض وهونکی ستوری وموندل شی په قرآن کریم کې یاده شوې ده.
نیوترونی ستوری په خپل ځان یا خپله هسته کې دراغونډیدو په پایله کې له ډیرو سترو ستورو څخه مینځته راځی. یو فوق العاده متراکمه کتله دڅرخیدو په بې ساری خوځښت سره دستوری دوزن اومقناطیسی ساحې په اخستو سره هغه ته فشار ورکوی اوپه ځان کې یی راغونډوی . ددغو نیوترونی ستوور بې ساري مقناطیسی ساحه چې چټک څرخېږی درادیوی څپو دلېږلو لامل ګرځی چې په ځمکه کې دسنجولو جوګه دی. دطارق دسوری په دریم آیت کې دثاقب کلمه یعنې نفوذ کوونکی ، مخکې تلونکی اوسوری کونکی مانالری داښکاروی چې ستوری په تیاره کې یو سوری جوړوی . له داسې ستورونه چې څو برابره له لمر څخه غټ دی جوړشوی نبض وهونکی ستوری داسې آسمانی جرمونه دی چې پوهیدل پری څه آسانه کارنه دی ، له همدې امله سوال شوی چې څه ډول به یوه شې ؟
(و ما ادراک ؟).

## د شعری ستوریSirius

دقرآن یوه بله معجزه دشعری ستوری یادونه ده چې په یوویشتمه پیړۍ کې پېژندل شوی.
دنجم سوری په ۴۹ آیت کې دشعری ستوری یادونه دپام وړ ده . دشعری ستوری په شپه کې ستر اوځلیدونکی ستوری دی چې دپوهانو دڅیړنو له مخې په اصل کې دوه ستوری دی . لوی ستوری یی شعری .الف یا Sirius-A چې ځمکې ته نږدی دی اوروښانه دی ، دوهم یی کوچنی دی اوله تلسکوپ پرته دلیدو وړنه دی د شعری-ب یا Sirius-B په نامه یاد یږی.
دشعری د ستوری مدار بیضوی دی اویو دور چې دیوه واحد مدارپه شاوخوا راڅرخی ۴۹،۹ کاله موده نیسی. دغه موضوع د هاروارد ، اوتاوا و لینستر دپوهنتونو له له لوری ثابته شوه په داسې حال کې چې دنجم دسورې ۴۹ و ۹ آیتونو څوارلس سوه کاله مخکې له هغی نه یادونه کړې وه .

وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعْرَىٰ

اوهغه دی دشعری دستوری رب(النجم 49).

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ

دددولیندیوپه شان یاهم له هغه نه نږدی وو (النجم 9).

د نجم سوری نهم آیت (دستوری په مانا) ممکنه ده چې په خپل مدارکې ددغو ددو ستور تقارب شرح کړی وی.

## تیاره اوروښنایی

وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ

تیاره اوروښنایی یی جوړه کړه (الانعام ۱).

له روښنایی پرته څه نه شو لیدلای په داسې حال کې هغه نور چې موږ لیدلای شو هغه یوه برخه دهغی انرژی وی چې چې له سرچینې نه خپور شوی وی. دنور بیلابیل ډولونه لکه د X وړانګه ، ماورای بنفش ، رادیویی څپې اونورې لیدلای نه شو.
په زره پوری خو لاداده چې دتیاره کلمه تل دجمعې په ډول په قرآن کې یاده شوې (ظلمات د ظلمت جمع) د ظلمات کلمه په قرآن کې ۲۳ځلې یاده شوې اویوځل هم په مفرد ډول نه دی کارول شوې.
په قرآن کې دتیارې دکلمې یادونه داروښانوی برسیره پرهغو ډولونو دنورونو چې موږ یی لیدلای شو نور هم شته. دهرنور دڅپو اوږدوالی دهغه دانرژی له مخې چې دالکترومقناطیې څلا په نامه یادیږې فرق کوی. دالکترومقناطیسی وړانګوټول ډولونه دانرژی دموجونو په شیر په خلاکې عمل کوی. ددې موضوع دلا روښانتیا لپاره په ولاړو اوبو کې دیوې ډبرې دغورځیدو له امله دڅپو له جوړیدو څخه یادونه کولای شو. هغه ډول چې مینځ ته راغلی څپې په ابوکې دډبری دغورځیدو په چټکتیا اوشدت له مخې مختلفی وی دالکترو مقناطیسی څپو اوږدوالی هم مختلف وی.
ټول ستوری له ځانه یو ډول وړانګه نه خپروی . دغه وړانګې ددوی دڅپو داوږوالی له مخې په ډلو ویشل کیږی. دنوری څپو دطیف اوږدوالی ډیر پراخ دی. دګاما دوړانګې دڅپې داوږدوالی توپیر $10^{25}$ دی.دلمر ټوله وړانګه یواځې یوه برخه ددغه($10^{25}$ ) طیف جوړوی. اویا په سلو کې هغه وړانګې یا بیلابیلې څپې چې له لمر نه خپریږی ۰،۳ نه تر ۱،۵ مایکرونه دی چې درې ډوله نور لری: هغه نور چې موږ یی وینو ، له سره رنګ نه لاندی نور اود ماوراء بنفش وړانګې ، دلیدو وړ نور یواځې ۴۱ په سلوکې دلمر نورجوړوی. نو وینو چې هغه الکترومقناطیسی څپې چې دانسان دسترګور لپاره دلیدو وړ نور جوړوی دنور دطیف یوه وړوکې برخه ده. اونورځایونه چې دنور څپې یی د انسان دسترګو دلیدو وړنه دی ټول تیاره پاته کیږی له همدې کبله ډیره تیاره له هغې تیاری نه هم شته چې موږ یی پیژنو.

## پرته له اورنه احتراق یا سوزیدنه

نه ختیزواله ده نه لویدیز واله ، هغه بلیدونکې غوړدی چې نور ښنی په داسې حال کې چې له اورسره تماس لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نه لری (النور ۳۵).

دغه آیت هغه څه ته اشاره لری چې نور خپروی ، په داسې حال کې چې نه په ختیز کې ده اونه په لویدیز کې . یعنې فزیکی ابعاد نه لری اونه د اور له لاری روښانه شوی دی. که داسې فرض شی چې ددې سرچینه یواځې انرژی ده ، نو په ډیر اټکل سره به منظور له برېښنا نه وی . دتیلی اوګازی څراغونو په خلاف په برېښنایی څراغ کې نه څه شی سوزول کیږی اونه هم داور له لارې روښانه کیږی. که فرض شی چې سرچینه انرژی ده نو هغه به برېښنا وی. دتنګستن فلز دنری تار دتودوخې درجه کله چې دبرېښنا دتېریدو له کبله دوه زرو سانتی ګیریدو ته ورسېږی. دغه رڼا رامینځته کیږی ، په دغه درجه دحرارت کې ډیر شمېر فلزات ویلې کیږې خو د تنګستن فلز نه ویلې کیږی. خو سره له دغې ډیرې تودوخې هیڅ شی نه سوزیږی ځکه چې دګروپ په مینځ کې اکسیجن نه شته اودتنګستن تار هم نه کمیږی. څه ډول چې په قرآن کې یادشوی دغه حالت دیوه روښانه ستوری سره ورته والی لری.
باید دا وویل شی چې برېښنا دبشریت دتاریخ یوه ډیره ستره موندنه ده اوټوله نړی یی په اصطلاح روښانه کړی ده. نو ډیر احتما ل شته چې دغه آیت بریښنایی رڼا ته اشاره وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع داسې هم روښانولی شو: نور په ستوری کې دهستوی تعاملاتو له کبله جوړیږی. ستوری هغه روښانه اوسره ځرخېدونکی کتلې دی چې دهستوی تعاملاتو له کبله په ډیره کچه روښنایی اوتودوخه خپروی . دیر غټ ستوری دخپل ځان دځواکمنې جاذبې قوی له کبله انقباض کوی یعنې چې مرکز یی تراکم کوی اوسورکیږی. کله چې دستوری دمینځ دتودوخې درجه ډیره شی اولسومیلیونو سانتی ګریدو ته ورسېږی ، هستوی تعاملات پیلیږی . دهایدروجن دهستوی ذرو دیوځای کیدو له کبله هغه په هیلیو م بدلیږی. له څلوراتومو هایدروجنونه یو اتم هیلیوم جوړیږی. ددې لپاره چې پروتونونه اونیوترونونه یوځای شی اودهیلیوم هسته جوړه کړی زیاته انرژی آزادیږی. دغه آزاده شوی انرژی دستوری له سطحې نه دنور اوحرارت په شان خپریږی. کله چې هایدروجن ختم شی ، ستوری دهیلیوم په سوزیدو سره مخکې ځی اوپه همدې توګه درانه اودرانه اتومونه جوړیږی. دغه حالت ترڅو پوری چې دستوری کتله ټوله وسوزیږی دوام مومی.
په داسې حال کې چې په دغو تعاملاتو کې اکسیجن کومه برخه نه لری ، نو دغو تعاملاتو ته احتراق نه شوویلای ، نو هغه وړانګې چې دستورو په سطح کې لیدل کیږی له اوره نه وی. په دې توګه دستوری سوزیدل اودنور خپریدل داور له شتون پرته صورت نیسی.

## د وریځو دروند والی

د وریځو دروندوالی په بې ساری توګه ډیریدلای شی . لکه د تالندې اوبربېښنا جوړونکې وریځې چې د درې سووزرو ټنو اوبو څخه جوړې شوې دی. اوداحقیقت چې درې سوه ټنه کتله دې په هوا کې معلقه پاتې شې دحیرانتیا خبره ده . دوریځو دروندوالی ته پاملرنه په دغه مبارک آیت کې شوې ده.

هُوَ ٱلَّذِى يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنشِئُ ٱلسَّحَابَ ٱلثِّقَالَ

هغه دی چې بربېښنا دډار اوهیلې په توګه ( درحمت باران ) تاسو ته دربنیی اودرنې وربځې رااوچتوی.(الرعد ۱۲).

کله چې قرآن نازلیده ناممکه وه چې دوریځو دوزن یا دروندوالی په هکله څیړنه وشی اوددغه حقیقت بیان په قرآن کې بله داسې معجزه ده چې یوازې همدا ستر کتاب یی بیانولی شی اوبس.

## د باران اندول

وَٱلَّذِى نَزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا

هغه څوک چې له آسمانه یی باران په ټاکلې کچه نازل کړ اووچه ځمکه یی پرې ژوند ی کړه (الزخرف ۱۱)

نورمعلومات په قرآن کې په ټاکلی کچه دباران کوزیدل دی لکه په پورتنی آیت کې.
دغه ټاکلی اوربښت دنویو څیړنو په پایله کې ومو‌ندل شو. اټکل شوی چې په یوه ثانیه کې نږدې شپاړس میلیونه ټنه اوبه دځمکې له سره تبخیریږی. دغه اندازه په یوه کال کې پنځوسوودیارلسو میلیاردو ټنو ته رسیږې چې دغه شمېره معادله ده له هغو اوبو سره چې هرکال دباران له لاری اوریږې ، مانا داچې اوبه دیوه انډول له مخې دځمکې اوهوا په مینځ کې دځرخېدو په حال کې دی . اوژوند په ځمکه کې همدې دوران پوری تړلی دی. که د اوسنۍ وخت ټوله ټکنالوژی په لاره واچول شی دغه ډول منظم دوران په مصنوعی توګه نشی جوړولای. له دغه تعادل نه ډیر کوچنی انحراف به داوربښت په کچه او دژوندانه چاپیریال کی ژور بدلون رامینځته کړی اودژوند دختمیدو سبب به شی. خوداسې نه دی شوی اوباران په ټاکلی کچه څه ډول چی په قرآن کې راغلی راکوزیږی.
ټاکلی کچه یوازې دهغه شمیر نه وی بلکې دکوزیدو چټکتیا یی هم ده ، دباران دکوزید چټکتیا له یو ټاکلی حد نه تیری نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو آلماني فزيکپوه فليپ لينارد چې په کال ۱۹۰۵ کې يې دنوبل جايزه هم ترلاسه کړې ومونده چې دباران دڅاڅکی دحجم په ډيريدو سره دهغه چټکتيا هم ډيريږی ترهغو چې څلورنيم ملی مترو ته ورسيږی. اوکه له دې نه دباران دڅاڅکی دحجم کچه ډيره شی چټکتيا يې په ثانيه کې له اتومتروډيريږی. دليل دادی چې دسترو څاڅکو شکل دهوا دبهير له کبله بدلون مومی اودا بدلون دهوا دمقاومت شکل بدلوی اوهغه زياتوی اوپه پايله کې دڅاڅکی دلويدو چټکتيا راکموی.

## د باران جوړښت

داچې باران څه ډول جوړيږی يوه ستره پوښتنه وه چې پيړۍ پيړۍ بی ځوابه پاتې وه . کله چې دهواپيژندنې رادار جوړشو انسانان دباران دجوړيدو په پړاوونو پوه شول.
دباران جوړښت درې پړاووکې صورت نيسی : لومړی اومه ماده (اوبه) تبخيريږی اوهواته پورته کيږی بيا وريځې جوړيږی اودريم دباران څاڅکی جوړيږی. په قرآن کې دغه موضوع په دقيقه توګه روښانه شوی:

ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ
فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ
خِلَٰلِهِۦ ۖ

الله (ج) هغه ذات دی چې بادونه رالېږی څو چې وريځې پورته کړی اوهرډول چې وغواړی په آسمانونو کې يې منبسطوی اوټړی يې اوبيايې سره بيلوی اوباران به ووينی چې څاڅکی څاڅکی له هغه تويږی. (الروم ۴۸).

راځی چې وګورو دغه درې پړاوونه څه ډول له پورتنی آيت سره اړيکې مومی:

**لومړی پړاو: الله (ج) هغه څوک دی چې بادونه رالېږی:**

ډير شمېر حبابونه دسمندرونو دمخې له ځګ نه جوړيږی چاودی اودهغه ذرې پورته هواته ځی . دغه ذرې چې دمالګې درلودونکی وی دباد په واسطه پورته کيږی اووريځې جوړوی ، وربځې داوبو دوړوڅاڅکواودسمندر دمخ داوبودتبخير څخه جوړيږی.

**دوهم پړاو: څوچې وريځې راپورته کړی :**

وريځې داوبو دبخارنه چې دمالګې دټوټو شاوخوا راغونډيږی ( يو پرسلو ملی مترو قطر لری) وريځې په آسمان کې معلقې پاتې کيږی اوبيا خوريږی. اوپه دې توګه آسمان له وريځو پوښل کيږی.

**دريم پړاو: اوباران وينی**

داوبو هغه ذرې چې دمالګې دوړو ټوټو په شاوخوا کې په هو اکې ځای نيسی يوبل سره يو ځای کيږی ، پنډيږی اودباران څاڅکی جوړوی . اوهغه څاڅکی چې نظر وهواته درنېږی وربځې پرېږدی اولاندې راتوېږی.
څه ډول مو چې وليدل دباران دجوړيدو هرپړاو په دې مبارک آيت کې يادشوی. په يوه بل آيت کې دباران دجوړيدو په هلکه داسې معلومات ورکړشوی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِي سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ


آیا ودی نه لیدل چې الله وربځې له هرلوری نه وشړی ځو چې یوبل سره یی وتړی ، راټولې اومتراکمې یی کړی ، هغه وخت به ووینی چې دباران څاڅکی دوریځو له مینځ نه لاندې توی شی اودآسمان له غرونو نه ږلۍ راتوی کړی څوچې هرچاته خدای وغواړی ولړیږی اوپر هرچا یی چې وغواړی ونه لړیږی اودبرېښنا روښنایی داسې ولړیږی چې سترګې یوسی (النور ۴۳).

دپوهانو څېړنې دوربځو دډولونو په برخه کې حیرانوونکی پایلې درلودې ، بارانې وربځې دټاکلی سیستم اوپړاوونو پربنسټ جوړیږی چې عبارت دی له :

۱.دیو بل په لور دراټولیدو پړاو: کوچنۍ وربځې یوځای کیږی یوه ستره وربځ جوړوی.

۲. دتوییدوپړاو: کله چې کوچنۍ وربځې سرپه سرشی اوسترې وربځې جوړې کړی ، دهغه تراکم په منځنی برخه کې له څلورخواوڅخه ډیر وی ، چې دغه سرپه سرکیدل په عمودی ډول دوربځو دکتلې دلویدو لامل ګرځی لکه ( غر ) . دغه عمودی لویدل دورځې له خوا دکتلې دستریدو لامل دځمکې سړې برخی ته کېږی . سړه سیمه کې داوبو څاڅکی جوړیږی اوکرارکرارلاندې توېږی. کله چې دغه څاڅکی دومره لوی اودرانه شول چې دوربځو کتله هغه معلقه ونه شی ساتلی دځمکې لورته دباران اوږلۍ په څیر راکوزیږی.

باید په یاد ولرو چې هواپېژندونکی په دې وروستیو کې دټکنالوژی لکه کمپیوټر ، الوتکې ، مصنوعی سپوږمکی اونورو له لارې ددې خبرې په پوهیدوبریالی شوی دی په داسې حال کې چې دغه موضوع څوارلس پیړۍ مخکې په قرآن کې روښانه شوې.




## باران مړه ځمکه راژوندی کوی

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا
لِّنُحْۦِىَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِىَّ كَثِيرًا

اوله آسمانه مو پاکې اوبه راولېږلې څو په هغه باندې مړه ځمکه راژوندی کړو اوهغه څه چې له څارویو اوانسانانو مو پیداکړی ، هغوی پرې اوبه کړو (الفرقان ۴۹-۴۸).

باران نه یواځی داچې دژوو بنسټیزه اړتیا ده دسرې په څیر دشنه کیدو اوتقویه کیدو ځانګړتیا هم لری. باران چې دسمندر له سطحې نه تبخیریریږی اووربځو ته رسیږی دداسې موادو درلودونکی دی چې ځمکه پری ددوهم ځل لپاره ژوندی کیږی. دغه څاڅکی دداسې یوډول سرې له ځانګړنې نه برخمن دی چې دسطحی راکښل کیدونکو وړوڅاڅکو په نامه یادیږی . دغه څاڅکی دسمندر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپورتنۍ سطحې څخه جوړيږي چې بيولوجيستان ورته ميکروسکوپي پوړ وايي . دغه پوړ دملي متر له لسمې برخې نه هم کوچنی پريږوالی لری ، دډيرو عضوی موادو چې دالجی اونورو ژونديو ميکروسکوپي موجوداتو څخه په لاس راتلای شي جوړيږي. دغه مواد سره يوځای کيږی اوفاسفورس ، مگنيزيم اوپوتاشيم چې دسمندرپه اوبو کې ډير لږوی اودغه راز داسی فلزونه لکه مس ، جست ، کوبالت اوسرب هم ځان ته جذبوی. په دې توگه دځمکی نباتات ډيرهغه مواد چې دخپلې ودی لپاره ورته اړتيا لری دباران له څاڅکو څخه په لاس راوړی.

هغه مالگې چې دباران له څاڅکو سره راځی دسرې دجوړيدو لپاره يی يوه بيلگه گڼلی شو چې حاصل پرې زياتيږی. په Aerosol ايرسول کې شته درانه فلزات دنبات وده زياتوی. لنډه داچې باران يوډول سره هم ده . يوه پيړۍ دباران په اوريدوسره يوه شاړه ځمکه کيدای شي دکښت وړوگرځی . ځنگلونه هم په همدې توگه خپل داړتيا وړتوکي له سمندرونو څخه په لاس راوړی.

په دې توگه هرکال يوسلو پنځوس ميليونه ټنه دسرې ذرې پرځمکه اوريږی. که دباران دغه ځانگړنه نه وای دځمکې پر سر دنباتاتو کچه به ډيره لږ ه وای ، اودځمکې پرسربه دژوند امکان له مينځه تللی وای. په قرآن کريم کې دباران ددغې ځانگړتيا په اړه معلوما ت ددې کتاب له يی شمېره معجزو څخه يوه معجزه ده.

## د ږلۍ ، تالندې اوبرېښنا جوړيدل

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُزْجِى
سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهُۥ ثُمَّ يَجْعَلُهُۥ رُكَامًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ
خِلَٰلِهِۦ وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن جِبَالٍ فِيهَا مِنۢ بَرَدٍ فَيُصِيبُ بِهِۦ مَن يَشَآءُ
وَيَصْرِفُهُۥ عَن مَّن يَشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا بَرْقِهِۦ يَذْهَبُ بِٱلْأَبْصَٰرِ

آيا ودی نه ليدل چې الله وريځې له هرلوری نه وشړی ځو چې يوبل سره يی وتړی ، راټولې اومتراکمې يی کړی ، هغه وخت به ووينی چې دباران څاڅکی دوريځو له مينځ نه لاندې توی شی اودآسمان له غرونو نه ږلۍ راتوی کړی ځوچې هرچاته خدای وغواړی ولږيږی اوپر هرچا يی چې وغواړی ونه لږيږی اودبرېښنا روښنايی داسې ولږيږی چې سترگې يووسی ( ويی برېښوی) (النور ۴۳).

په دغه آيت کې ږلۍ اوبرېښنا ته اشاره شوې. او دهواپيژندنې له اړخه هم موضوع په همدې توگه روښانه شوې ده. کله چې ږلۍ ديوې ډيرې سړې اوکنگل شوی برخې نه تويږی ، وريځې برېښنايی کيږی . اوبلن څاڅکی په دغه برخه کې کنگل کيږی اوکله چې دږلۍ دانه يا کنډرکی جوړيږی ، پټه تودوخه ترې آزاديږی . دغه تودوخه دږلۍ سطح له دهغو کنگلونو نه چې دږلۍ په شاوخواکې شته توده ساتی . کله چې دږلۍ دانه دکنگلونو سره تماس مومی يوه مهمه پيښه مينځته راځی . الکترونونه ديوه ساړه شی نه دتاوده شی په لوری ځی . په دې توگه دږلې دانه منفی چارج نيسی . دغه اغېزه دسړو څاڅکو اوږلۍ ددانو له تماس څخه پيښيږی او دکنگل ټوټې چې مثبت چارج لری پرې ماتيږی. دغه مثبتې ټوټې چې سپکې دی دهوا دبهير له لارې هوا ته پورته کيږی. اوس چې ږلۍ منفی چارج لری دوريځې لاندينی برخې ته لويږی نو له همدې امله دوريځو لاندينی برخه منفی چارج اخلی اودغه بهير دبرېښنا دجوړيد لامل گرځی نو له دې څخه څرگنديږی چې ږلۍ دبرېښنا دجوړيدو لامل دی.

لاندينی آيت دبارانی وريځيو اوبرېښنا په مينځ کې داړيکو ،اود برېښنا دجوړيدو څرنگوالی روښانوی .

أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فِيهِ ظُلُمَٰتٌ وَرَعْدٌ وَبَرْقٌ

لکه دتوپان په څير وريځې په آسمان کې چې په هغو کې تياره اوتالنده اوبرېښنا وی. (البقره ۱۹).

بارانی وريځې دډير حجم اووزن درلودونکی وی چې پراخوالی يی تردډوسوو شپېتو کيلومترو پورې اوجگوالی يی تر دولسو کيلومترو پوری رسيږی. له دې کبله يی لاندينی برخه تياره وی او داوبو اوکنگل دزياتوالی له کبله دلمر وړانگې نه شی کولای له هغو تېرې شی . نو له همدی کبله دلمر لړه انرژی ځمکې ته رسيږی.

په دغه آيت کې دتالندې اوبرېښنا دجوړيدو پړاوونه دوريځې دتيارې نه وروسته ياد شوی. په وريځو کې يو برېښنايی چارج جوړيږی ، کله چې هوا ونه شی کولای دعايق په څير عمل وکړی ددغو چارجونو توليدل ديوی شارټې اولمبې لامل گرځی چې دمثبتو اومنفی چارجونو ديوځای کيدلو له کبله مينځته راځی او دبرېښنا ولتاژ ان تر يو ميلياردو ولټو ته رسيږی . دغه لمبه يا چې موږ ورته برېښنا وايو ددوو وريځو دکتلی ياهم دوريځو دمثبتو چارجونو اودځمکې دمنفی چارجونو دټکر له امله مينځ ته راځی. ( کله چې دوريځو مثبت چارجونه دځمکې له منفی چارج سره يوځای شی نو په ځمکه کې دتندر دلويدولامل همداوی) " ژباړن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغو چارجونو نابېره زياتيدل دبرېښنا دخط په تګلورى کې تر لسوزرو سانتى کريدو پورې د تودوخې لامل ګرځى چې په پايله کې يې هوا په چټکۍ سره پړسيږى چې دتالندې دغږ لامل ګرځى.

وَيُسَبِّحُ ٱلرَّعۡدُ بِحَمۡدِهِۦ

اوتالنده دده تسبيح وايى (الرعد ١٣).

## بار(حمل) ورکوونکى بادونه

دقرآن کريم په يوه آيت کې دباروركوونکو بادونو اودباران جوړيدل يادشوى :

وَأَرۡسَلۡنَا ٱلرِّيَٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَسۡقَيۡنَٰكُمُوهُ

موږ بار(حمل) ورکوونکى بادونه راولېږل اودهغو په اثر مو باران له آسمانه واوراوه ځوچې ټولوته اوبه ورکړى (الحجر٢٢).

دغه آيت ځرګندوى چې دباران دجوړيدو لومړى پړاو باد دى . له شلمې زيږديزې پيړۍ څخه مخکې داسې انګيرل کيده چې دباد يواځينې دنده دوربځو راوړل دى. په داسې حال کې چې دهوا پيژندنې موندنو دباد ونډه دبارانونو په باروركونه کې روښانه کړه.
څه ډول چې مو مخکې وويل دسمندر په سطح کې بې شمېره حبابونه جوړيږى کله چې دغه حبابونه وچوى بېشمېره دملى متر په سلمه برخه کوچنى ذرې هواته پورته کيږى. دغه ايرسولونه Aerosol چې له ځمکې نه پورته شويودوړو اولړو سره له باد سره يوځاى راځى اوسره ګډېږى دځمکې پورتنۍ برخې ته اوچتېږى اوخوځښت کوى ، په پاى کې دبادونو له لارې پورته اوپورته وړل کېږى ځوچې دابودبخارونو سره تماس مومى . داوبو بخار ددغو ذروپه شاوخوا تراکم کوى اوداوبو څاڅکى جوړوى چې ټول يوځاى وربځې جوړوى اوپرځمکه دباران په څېر اورېږى. نو وينو چې څه ډول باد تبخير شوې اوبه دهغو ذروله لارې چې دسمندر له مخې څخه يې اخلى باروركوى اودوربځو اوباران په جوړيدو کې مرسته کوى.
دباد له لارى دباران اووريځو په جوړيدو کې دغه ارزښتنا ک ټکى سلګونه کاله مخکې کله چې دطبيعى پديدو په هکله پوهې ډېر لږ پرمختګ کړى و په قرآن کې بيان شوى.
بله مهمه مسأله په دې آيت کې دګلانو په تلقيح اوباروركونه کې دباد ونډه ده.
ډير ګلان خپل ګردونه يا Pollen دباد له لارې شېندې اودخپل ډول بقا ته ادامه ورکوى. ډير نباتات له پرانستو( دخپريدووړ) تخمونو سره لکه دصبردونو ، دکجورو دونو ، هغه هګې لرونکى نباتات چې ګل کوى اودشنې ګياه په څيرنباتات ټول دباد له لارې القاح کېږى. باد د نبات له يوه بوټى نه بل همغه ډول بوټى ته ګرد لېږدوى اودالقاح عمليه ترسه کېږى.
تردې وروستيو پورى دغه حمل ورکونکى ميکانيزم ځرګند نه وو ، کله چې ځرګند شوچې نباتات هم دنارينه اوښځينه جنس درلودونکى دى دباد دغه عمل هم وموندل شو . په داسې حال کې چې قرآن له مخکې دا مسأله ځرګنده کړې وه.

## دباد دجوړېدو پړاوونه

يَعۡقِلُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٌ لِّقَوْمٍ

اوباد ته په لوری ورکولو کې دعقل دخاوندانو لپاره نښانې دی (الجاثیه ۵).

باد ددوو مرکزونو په مینځ کې دبېلابېلې تودوخې دخوځښت څخه عبارت دی. توپیر لرونکې دتودوخې درجې ، دهوا توپیر لرونکی فشارونه جوړوی اوتل له پورته نه له لوړفشار څخه ښکته ټیټ فشار خواته جاری وی. هرخومره چې دتودوخې ددرجې توپیر اوپه پایله کې یی دفشار توپیر زیات وی څواکمن بادونه جوړوی. حیرانوونکی مسأله داده چې دځمکې ګردچاپېره دتودوخې ددرجې اوفشار دډیر توپیر سره سره لکه داستوا دکرښې تودوخه او دقطبونو سړه هوا بیا دخدای په فضل ډیر وږونکی اوورانوونکی بادونه نه جوړیږی. اوکه چېرې داستوا او قطبونو په مینځ کې بادونه کرار نه وای دځمکې پر سربېره دژوند امکان موجود نه وای. اوتل به څواکمنو برېوکېو اوتوپانونو دوام درلود.

دتصریف لغت یعنی څوواره راتاوول ، لوری ورکول ، ښه ورکول تنظیمول او اوخپرول دی . ددغه لغت انتخاب دباد لپاره په خپله دهغه دبهیر ډول څرګندوی.اوهمدا رنګه دا رسوی چې بادونه تصادفی نه دی بلکې تل داسې دالله (ج) له خوا تنظیمیږی چې دژوند بقا په ځمکه کې تأمینیږی.

## فوتو سنتیزڅه ډول سهار مهال پیلیږی

وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ

قسم په شپه چې تیاره کېږی اوپه سهار چې سا اخلی. (التکویر ۱۸-۱۷).

د نباتاتو فوتو سنتېز Photosynthesis هغه کاربن دای اکساید چې دانسانانو لپاره زیان لری جذبوی اوپرځای یی اکسیجن آزادوی. دیرش په سلوکې دځمکې دسر اکسیجن دوچې دنباتاتو او اویا په سلوکې دسمندرونو لاندې نباتاتو له لاری جوړیږی . فوتو سنتیز یوه مغلقه عملیه ده چې تراوسه په سمه توګه څوک پرې نه دی پوهیدلی . ځکه چې تعاملونه دمالیکولونو ، اتومونو اوالکترونونو په سطح صورت نیسی . نو دغه عملیه په سترګو نه شو لیدلای . خواغېزه او پایلې یی داکسیجن اوهغو خوراکی توکو کې چې موږ ترې ګټه اخلو وینو.

د فوتو سنتیز ګټه دهغه اکسېجن له مخې چې جوړوی یی اندازه کېږی. سهارمهال کله چې دلمر وړانګې ډیرې متراکمې وی ډیرې تولیدېږی . دلمرختو په وخت پاڼې په خوله کولو پیل کوی اوپه همغه اندول دفوټو ستنتېز عملیه ګړندی کېږی. ماسپښین مهال فوتو سنتېز ورو کېږی اوسااخستنه زیاتېږی ځکه تودوخه ډېرېږی اوخوله هم زیاتېږی . دشپې مهال کله چې تودوخه کمېږی نو خوله هم کمېږی اونبات ارام کوی.

د اذاتنفس کلمه په سهار کې اوږدې سا اخستلو ته اشاره ده . ځکه چې داکسیجن تولید چې دسااخستنې اساسی توکی دی پیلېږی اوډیره کچه یی په همدې وخت کې وی . کله چې الله (ج) په هغه سوګند یادوی ، دموضوع پر اهمیت ټینګار کوی. دغه مسأله چې په قرآن کې یاده شوی دشلمې پېړۍ مهمه موندنه بلل کېږی.

شپږ مالیکوله اکسیجن + شپږ مالیکوله قند ← فوتو سنتیز شپږ مالیکوله کاربن دای اکساید + شپږ مالیکوله اوبه

$$6H_2O + 6CO_2 \text{ — Photosynthesis } \rightarrow C_6H_{12}O_6 + 6O_2$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سمندرونه یو له بله سره نه ګډېږی

دسمندرونو یوه ځانګړنه چې اوس اوس خلک پرې پوه شوی دې آیت پوری تړاولری:

دوه سمندرونه یی یوبل ته نږدې اومخامخ کړی خو ددوی په مینځ کې یو حد شته چې یو پر بل تیری مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ نه کوی (الرحمن ۱۹-۲۰).

سمندرپېژندونکی په نږدې وختو کې پوه شوی چې دسمندرونو اوبه سره له دې چې یو بل ته ډېرې نږدی دی اویو له بله سره تماس لری خو سره نه مخلوطېږی . ددغو اوبو دکثافت توپیر اودسطحې راکښنې توپیر یی داسې عمل کوی چې کواکې ددوې په مینځ کې یو نری دیوال شته دی.
دبېلګې په ډول دمدیترانې سمندرګې اوداطلس سمندرګې تل جذر اومدونه پېښېږی اوځواکمنې ځپې لری او اوبه یی یو په بل کې ننوځی خو هېڅکله هم دهریوه دتودوخې درجه ، کثافت او دمالګې اندازه بدلون نه مومی. ځکه چې داسې یوه مانع شته چې دوی یوله بله بېل ساتی.

اوهغه دی چې دوه سیندونه یی یوپه بل کې ننویستل یو یی خوندور اوخوږ کړ اوبل یی وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا تریو
اوتریخ اوددوی په مینځ کې یی داسې یوه پرده ونیوه چې یوله بله بېل واوسی(الفرقان 53).

ددغې موضوع شرح په قرآن کې خپله یوه ستره معجزه دی اوهغه وخت بیان شوې چې دفزیک علم دسطحې راکښنې په هکله په څه نه ؤ خبر.

## په سمندرونه کې تیاره اوکورنۍ ځپې

یا لکه د ژورسمندر تیارې چې دځپو له لارې پوښل شوی چې برسېره یی بله ځپه وی اوپرسرېې أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ سَحَابٌ ورېځې دی
(النور 40).

په ژوروسمندرونو کې ددوسومترو په ژورتیا تیاره وی . اودزرومترو په ژورتیا کې هېڅ رڼا نشته.
نن موږ دسمندرونو دځېرې ، په هغو کې دژوو ، دمالګې دکچې دلوړې اوژورې په هلکه یی معلومات لرو ، داوبتلونو اونورو وسیلوله لارې پوهانو زیات معلومات لاسته راوړی . په داسې حال کې چې انسان دځانګړو وسایلو نه پرته نه شی کولای تر اویا مترو ژورو اوبو کې ولامبی اوددوسوومترونه ژور ځای کې خو ژوندی نه پاتې کېدو له دې کبله دا قرآنی معجزه ده چې څوارلس سوه کاله مخکې دسمندرونو په ژورتیا کې یی تیاره بیان کړې وه چې پوهان ایله اوس پرې پوه شوی.
برسېره پرتیارې یوه بله موضوع هم په دې آیت کې یاده شوی: اوس پوهانو موندلې چې ترسطحې لاندې ځپې (sub-surface waves) هم په سمندرونو کې شته چې دسمندر دژورو پوړونو اوبه چې لوړ کثافت لری په ځان کې رانغاړی. دغه ځپې کټ مټ دسطحی ځپو په څېر وی اوپه همغه توګه له مېنځه ځی . دغه کورنی ځپې په هېڅ توګه نه لیدل کېږی بلکې دډېرې مطالعې اوڅېړنې نه وروسته پر هغه پوهیدلای شو چې دادقرآن عظیم الشأن بله معجزه ګڼل کیدای شی.

## هغه ځای چې زموږ خوځښت کنټرولوی

كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ، که هغه ونه درید ، مونږ به یی دتندې له وېښتو ونیسو ، یوه دروغجنه خطاکاره وچولی. (العلق ۱۵-۱۴)

د"ناصیة کاذبة خاطئة" کلمه په دې آیت کې ډېر عجیب دی . ننیوځېړنو ښوولی چې دماغ دوچولی په برخه کې دځانګړو دندو دتنظیم مسؤلیت لری . دغه دندې چې ځوارلس سوه کاله مخکې په قرآن کې ورته اشاره شوې یواځې شپېته کاله مخکې پوهان پرې پوه شوی. یو کتاب چې داناتومی اوفیزیولوژی بنسټونه نوم لری داسې لیکی:

"دیوه هوډ لپاره وړاندوینه اوهڅونه ددماغ په مخکینی برخه کې چې په انګرېزی کې ورته (Prefrontal area, frontal lobe) وایی صورت نیسی اوددماغ په همدغه ځای کې دیرغل کوونکو کړونو مرکز هم قرار لری. نو همدا وچولی دی چې دښې یا بدې کړنې یا دریښتیا اودروغو ویلو دپلان جوړونې ځای دی.

په ډاډ سره ویلو شو چې پورتنی آیت ددماغ همدغې برخې ته اشاره کوی چې په دې وروستیو شپېتو کلونو کې موندل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دالله (ج) په یاد سره زړونه آرام مومي

د امریکې د څېړونو په ملي مرکز کې د داوید لارسن څېړنې دملحدو اومؤمنو خلکوترمېنځ په  پرتله کولوکې حیرانوونکی پایلې ترلاسه کړی: دبېلګې په توګه باایمانه اودینداره خلک شپېته په سلو کې تر بی دینه خلکو لږ دزړه په ناروغی اخته شوی وو ، دوینې لوړفشار اودځان وژنی پېښې هم په مؤمنو کسانو کې ترملحدیینو اوبی دینو خلکو ډېرې لږې وی .

دعقلی طب یوه نړیواله مجله ریوټ ورکوی چې بې عقیدې خلک زیات ناروغه کېږی اودژوند اوږدوالی یی کم دی. دمعدې اوتنفسی سیستم ناروغی شپیته په سلو کې ترپرخدای باورلرونکو خلکو نه په هغوی کې ډېره ده.

اروایپېژندونکې هم ورته پایلو ته رسېدلی ، یعنې چې عقیده دانسان اروا څواکمنوی اوروغتیا ښه کوی. دغه توضیح به کفایت وکړی خو مسأله هغه وخت لا روښانه کېږی چې عملی تجربه سرته ورسېږی .

ایمان په الله (ج) له هرې بلې روانې انګېزې نه څواکمن وی. دهربرت هنس دڅېړنو مرکز چې دامرېکې دهارواد پوهنتون کې دی په دې هکله په زړه پورې اوحیرانوونکی څېړنې اوپایلې لری. سره له دې چې ډاکتر هربرت خپله عقیده نه لری اویو ملحد دی  ،خو دې پایلې ته رسېدلی چې دالله (ج) عبادت دانسان په روغیتا کې له هربل څه نه ډېره اغېزه لری. ده ثابته کړه چې هېڅ عقیده دومره اروایی آرامښت انسان ته نه ورپه برخه کوی لکه پر الله (ج) ایمان یی چې ورپه برخه کوی.

دانسان دجسم اوروح اوایمان په مېنځ کې داړیکوپه هکله څه دلیل موجود دې ؟ دی  وایی: چې جسم اوروح داسې تنظیم شوی چې باید پرالله (ج) عقیده ولری.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ

اودغه حقیقت چې دطب ننی پوهه پرهغه اعتراف کوی په قرآن کې یاد شوی :

پوه شی چې یواځې دالله (ج) یاد زړونو ته ډاډ وربښی(الرعد ۲۸).

ولې هغه کسان چې پرالله ایمان لری اودهغه عبادت کوی جسماً اوروحاً روغ دی. ځکه چې هغوی دخلقت دموخې مطابق عمل کوی. هغه فلسفې اوسیستمونه چې دخلقت دحقیقت خلاف وی تل درد لرونکی اوغم راوړونکی وی.

معاصر طب نوی پرمختګونه په دې هکله لری . څه ډول چې پاتریک ګلاین وایی:  "په وروستیو پنځه ویشتو کلونو کې علمی څېړنې اوارواپوهنه څرګندوی چې دینی اعتقاد ددماغی روغتیا لپاره منطقی اوجوړونکې عامله اړتیا ده.

## په اسلام کې بخښنه اودهغه روغتیایی ګټه

خُذِ الْعَفْوَ

په قرآن کې یادشوی یو اخلاقی صفت عفواوبخښنه ده.

عفو ونیسه(وکړه)(الاعراف ۱۹۹).

وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ

اودبدی جزا دهغه په مثل بدی ده خو که چا عفو وکړه هغه اصلاح وکړه. اجریی الله(ج) ورکوی (الشوری ۴۰).

څوک چې دغه اللهی امر ونه منی عفو به ورته ستونزمنه وی ځکه چې ډېر ژر به عصبی شی اوپه خطا به اخته شی. په داسې حال کې چې قرآن وایی: چې عفوه له انتقام یا کساد نه بهتره ده. ځکه باایمانه کسان بخښونکی اوصبرناکه وی.

وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله غوصه کراروی اوخلک بخښي (آل عمران ۱۳۴).

په ایمان لرونکو کې دبخښنې خصلت له بې ایمانو څخه ډیر توپیر لری . ځکه که یو څوک ادعا وکړی چې یو څوک یی بخښلی خو بیاهم تریو خته پوری غصه ناک اوخپه وی اوزیار باسی چې خپل قار کېنوی. په داسې حال کې چې د باایمانه اومسلمان بخښنه مخلصانه وی ، ځکه هغوی پوهېږی چې انسانان په دې نړۍ کې تل زیار باسی اوله خپلو تېروتنو څخه زده کړه کوی ځکه هغوی بخښونکی او صبرناکه وی. اوایمان لرونکی کله چې عفو کوی نو مقابل لوری یی خطا کاروی اودی په حقه وی اوکیدای شی چې ستر زیان هم دمقابل لور له گناه نه ورته رسیدلی وی خو دی دخدای لپاره بخښنه کوی اووایی چې هرڅه دالله له لوری وی.

دنویو څېړنو پربنسټ چې امریکاییانو تره سره کړی ، هغه کسان چې دبخښنې قدرت لری له روحی اوجسمی اړخه له روغتیا څخه برخمن وی.

داکتر فریدریک لوسکین چې خپله دوکتورایی دارواپوهنې په څانگه کې داستانفورد له پوهنتون څخه ترلاسه کړې په سانفرانسېسکو کې یی په دووسوو دری پنځوسو تنو باندې څېړنه کړې. ده دغه خلک شپږومجلسونو ته چې هریو یی یونیم ساعت وخت درلود وغوښتل اوعفو اوبخښنه یی ورته توصیه کړه. دغوکسانو وروسته له بخښنې ډیر لږزیان ولید اوهم له جسمی اړخه ښه ول. دېبلگې په ډول پردوی باندې روحی فشار دملادردونه ، بې خوبی ، دسردرد ، دگېډې درد ترپخوا لږ وو.

د فریدریک لوسکن د ((ښه توب لپاره عفو)) کتاب کې بخښنه دخوښۍ اوروغتیا لپاره ډېره ښه نخسه گڼل شوې. دی په دې کتاب کې لیکی چې عفو پر هیله ، صبر اوپرځان باورباندې ډېره مثبته اغېزه کوی ، هغه زیاتوی چې غصه پرجسم باندې ښکاره اغېزه لری ، پرله پسې غصه دوجود دتودوخې پرناظم یا Thermostat باندې ناوړه اغېزه کوی. کله چې یو څوک په لړخپگان یا غصې سره هم چې دوامداره وی عادت وکړی دنارمل اوغیرنارمل سم توپیر نه شی کولای. په دې حالت کې دادرنالین کچه تل لوړه وی اوله هغه سره دی عادت کوی . دوجود اضافه ادرنالین سوزوی اومنطقی فکر کول ستونزوسره مخ کوی ، چې داپه خپله دوضعې دخرابېدو لامل گرځی.

برسېره پردې داکتر لوسکن وایی چې دقار اوغصې په وخت کې دځېنو انزایمونو لوړیدل دونې فشار لوړوی.

په یوه بله څېړنه کې چې په یوزرو پنځه سوو کسانو کې معلومه شوې په دینداره اوباایمانه کسانو کې روانې ستونزې اوارواپی ناروغی لږې دی. داکتر هربرت هنسن چې دغه څېړنې پې سرته رسولی وایی: عفو دفیزیولوژۍ یوه برخه ده ... که عفوه ونه کړې هغه مسأله به تا وخوری. دهاروارد په مجله کې یوه خپره شوې مقاله کې لیکل شوی چې قار اوغصه دزړه لپاره ډېره زیان رسوونکې ده . ایچر کواچې دغه موضوع علماً جوته کړې. دده څېړنو ښوولې چې دډېرعمر بدخویه اوقارجن سړی له خپلو معادل عمر لرونکو سړو څخه ډېر ژر زړیږې اودزړه په ناروغی درې برابره له هغوی څخه ډېر اخته کېږی. کواچی وایی چې دغه درې برابره دزړه دناروغۍ خطر نېغ په نېغه اړیکه لری له ډېر قار ،کسات غوښتنې ، دجگړې غوښتنې اوسزاورکولو له حس سره.

څېړونکې پردې باور دی چې دروحی فشارونو له کبله داکسیجن مصرف دزړه عضلې غتوی ، دوینې دټینگیدواوپه پای کې دزړه دحملې لامل گرځی.

دغه راز قار اوغصه بېرحمی رامېنځته کوی اوپه وینه کې دپروتینونو دپړسوب سبب گرځی. دغه پروتینونه درگونو دیوالونه کلکوی دزړه دناروغیو امکان ډېروی.

ټولې څېړنې ښیی چې قار اوغصه دانسان روغتیا ته زیان رسوی. په داسې حال کې چې عفو اوبخښنه خوندوره اودروغتیا لپاره گټوره ده. دعفوې اساسی موخه باید دالله (ج) رضا وی. دغه علمی حقیقت په قرآن کې له زرگونو بېلگو څخه یوه بېلگه ده چې په قران کې نغښتې حکمت راسپړی.

## عبادت شفا موندنه چټکوی

الله (ج) وویل ما وغواړی څو ستاسو دعا قبوله کړم (غافر ۶۰).

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ

دقرآن له نظره صلوة یعنی غږ کول ، غوښتل ښکارول اومرسته غوښتل دی. نو دعا اوعبادت عبارت دی له الله (ج) ته رجوع کول گرځېدنه ، دعا اوله هغه نه مرسته غوښتنه ده . ناروغی یوه هغه بېلگه ده چې څوک ځان اړ وبولی اوهغه د الله (ج) لورته راکاږی. له بل لوری ناروغی د الله (ج) له لوری یوه آزمېښت دی چې انسان خپلو تېروتنوته متوجه کوی اوداچې نړۍ کې ژوند فانی ښه لری. چې دابیا داجراوثواب لپاره یوه لاره اودگناه لپاره دبخښنې یوه وسیله کیدای شی.

هغوی چې سم ایمان نه لری داسې فکر کوی چې شفا دطبیب اومعاصرې طبی ټکنالوژۍ په لاس کې ده . هغوی فکر نه کوی چې الله (ج) ددوی دجسم سیستمونه روغ پیداکړی اوهغه دی چې درمل اوطبیب یی پیداکړی دی. ډیر کسان هغه وخت الله (ج) ته راگرځی چې له طبیب اودرملو څخې ناهیلی شی. په دې وخت کې یواځې له الله نه مرسته غواړی. څه ډول چې په لاندې مبارک آیت کې بیان شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَإِذَا مَسَّ
ٱلۡإِنسَٰنَ ٱلضُّرُّ دَعَانَا لِجَنۢبِهِۦٓ أَوۡ قَاعِدًا أَوۡ قَآئِمٗا فَلَمَّا كَشَفۡنَا
عَنۡهُ ضُرَّهُۥ مَرَّ كَأَن لَّمۡ يَدۡعُنَآ إِلَىٰ ضُرّٖ مَّسَّهُۥۚ

کله چې انسان په زیان کې شی په هرحالت کې چې وی ، ناست ، ولاړ ، یا غزېدلی موږ ته دعا کوی اوهغه وخت چې رنځ یی لرې شی داسې دغفلت په لور ځی چې ګواکې موږ یی هیڅ دخپل زیان ددفعې لپاره نه ووغوښتی. (یونس ١٢).

یعنی په هرحال کې حتی دروغتیا اود ستونزو د نه لرولو په حالت کې هم باید انسان لمونځ وکړی اوله الله (ج) نه دهغې هوساینې لپاره چې ورکړې یی ده مننه وکړی.
ددعا اولمانځه ډیر مهم اړخ عبارت له دې نه دی چې شخص باید زیار وباسې چې دده دعا له عمله سره یوځای وی. دعا اولمونځ له عمل سره یعنی دهرڅه سرته رسول چې دسرته رسېدو امکان یی وی. لکه ناروغ چې دعا کوی برسېره پردې چې دعا کوی باید طبیب ته هم ورشی اودرمل هم باید واخلی. ځکه الله (ج) هرڅه په دنیا کې یوله بل سره تړلی اودهرڅه لپاره یی سببونه پیداکړی اوهرڅه دټاکلو اسبابو له لاری واقع کېږی. نو هرڅوک له الله نه باید په داسې حال کې چې صبر اومتانت به لری دښوپایلو انتظاردې ولری.
ډاکتران ددعا اولمانځه په مثبتو اغېزو اوله دې لارې چټکې روغتیا موندنې ته موجه شوی دی اوهغه ټولو ته توصیه کوی.
د نیوزویک Newsweek مجلې د "الله (ج) اوروغتیا ترسرلیک لاندې ، چې په کې لیکل شوی آیا دین سمه درملنه ده اوولې ساینس ایمان راوړی؟ د٢٠٠٣ کال دنومبر په لسمه ګڼه کې یو شمېر مقالې خپرې کړی.په هغو کې ویل شوی چې عقیده دناروغ مورال اوچتوی اودروغتیاموندنې دګړندیتوب لامل یی ګرځی.ساینس منلې چې ایمان دچټکې اوآسانه شفا موندنې لامل کېږی.
د مچیګن پوهنتون څېړنو هم ښودلې چې روانی فشارونه اوروحی انحطاط په ایمانداره خلکو کې لږ دی . دشیکاګو پوهنتون په څېړنو کې ښوول شوی چې بې وخته مړینه په هغو خلکو کې چې لمونځ کوی ترنورو ٢۵په سلوکې لږه ده په هغو نورو اوه سوه پنځوسو تنوکې چې دزړه رګونه یی معاینه شوی وو دلمانځه اودعا اغېزه کې علماً ثابته شوې.اوڅرګنده شوه دهغو کسانو مړینه چې لمونځ یی کاوه په کال کې دیرش په سلوکې لږه وه.لمونځ نباید یواځې ددې لپاره وی چې ناروغۍ اوستونزې له چا لرې شی. یوباایمانه اومخلص مسلمان باید تل لمونځ وکړی اویواځې د الله (ج)

وَإِذَا سَأَلَكَ
عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ
فَلۡيَسۡتَجِيبُواْ لِي وَلۡيُؤۡمِنُواْ بِي لَعَلَّهُمۡ يَرۡشُدُونَ

درضا غوښتونکی دی وی.
اوکله چې بنده ګان له مانه وپوښتی ، ووایه چې زه هغوی ته نږدې یم اودهردعاکوونکی دعاقبلوم. نو باید زما دعوت ومنی اوایمان راوړی څوچې نېکمرغۍ ته ورسېږی (البقره ١٨۶).

## د دین دنه مراعات له کبله روانی فشار اوخپګان

وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا
وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا

هرڅوک چې زما له یاده غافله شی معیشت به یی تنګ شی اوهر چاته چې وغواړی لاروړکی یی کړی دهغه زړه تنګ اوکلکوی(طه ١٢۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَمَن يُرِدِ اللّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلإِسْلاَمِ وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاء كَذَلِكَ يَجْعَلُ اللّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ

اوهرڅوک كه وغواړي چې لاروركي يي كړي دهغه زړه به تنګ اوكلک وګرځوي(الانعام ۱۲۵).

هغه څوک چې په الله (ج) ایمان نه راوړی تل به داندېښنې ، ډار اوارواییی ناروغیو لپاره زمینه مساعدوی چې په پای کې جسمی ناروغی هم رامېنځته کوی اوڅر زړېږی .
ایمان لرونکی خلک داچې له ارواییی پلوه څواکمن دی نو له همدې کبله لږ په ارواییی ستونزو اخته کېږی . د الله (ج) رضا ، ایمان اودخوشبینی مثبتی اغېزی اوددې قبلول چې هرڅه پېښېږی هغه د الله (ج) له لوری دی ددوی په روحی اوجسمی روغتیا کې څرګند وی. البته دغه یواځې دهغو کسانو په هکله صدق کوی چې له قرآنی احکامو پیروی کوی اوپه ریښتیا هم په خپل دین باندی کلک دی نه داچې یواځې دمسلمانی ادعا ولری . پرته له شک څخه ایمان لرونکی هم ناروغه کېږی اوزړېږی خو زړښت یی هېڅکله هم ددوی دارواییی څېلتیا اومړاوېتوب لامل نه ګرځی .
ارواییی ستونزی یا مړاویتوب زموږ دزمانې له ډېرو خپروشوو ناروغیو څخه ګڼل کېږی چې جسمی اوارواییی ضررونه لر ی اوجسمی ناروغی هم رامېنځته کوی . دمړاویتوب عامې ستونزی عبارت دی له عقلی ناروغۍ ، اعتیاد ، بی خوبی ، دپوستکی ناروغی ، دګېډې ناروغی ،دوینی لوړفشار ، حساسیت یا الرژی ،نیم سری ، دهډوکو ناروغۍ ، دپښتورګو ناروغۍ ، دزړه حملې اوتنفسی ستونزې.
داثابته شوې چې دټولو دغوناروغیو عامل روانی ستونزې دی.
روانی فشار Stress دعقل یو اضطرابی حالت دی چې احساسات لکه ډار ، ناامنی ، ګبنۍ ، اندېښنه اونور چې دعضویت دتوازن دګډوډیدو لامل ګرځی مېنځته راوړی. دادرنالین کچه لوړېږی ، دانرژۍ مصرف اوغبرګونونه لوړې کچې ته رسېږی ، شکر کلسټرول اودوینې غوړ ډېرږی اودوینی فشار هم اوچتېږی اونبض چټکېږی. دکورتېزول زیاتېدل دشکر ، دزړه ، لوړفشار ، سرطان ، ټپونو ، تنفسی ، اوډپوستکو دناروغیو لامل ګرځی اوان چې ددماغ دحجرو دله مېنځه تلو زمینه براوبری.
ددرد اوارواییی فشار ترمېنځ یوه نېغ په نېغه اړیکه شته ، چې دغه فشار درګونو دتنګیدو او ددماغ څېنو برخو ته دنه رسیدولامل ګرځی. دجسم یوې برخې ته دوینې نه رسیدل په هغه ځای کې ددرد لامل ګرځی ، په عین وخت کې دادرنالین کچه لوړېږی چې خپله درګونو دانقباض اودعضلو دتقلص لامل ګرځی. نو دغه درد مېنځته راځی داضطراب سبب ګرځی اودغه اضطراب درد لاپسې زیاتوی.
څېړنو ښوولی چې مضطرب ،نارآمه ، عصبی ، بې صبره اوبې رحمه کسان زیات دزړه دحملولاندې راځی . ځکه چې سمپاتیک اعصاب تحریکېږی اوپه زیاته کچه انسولین تولیدوی چې دانسولینو زیاتېدل دزړه لپاره ډېر زیان ښونکی وی.
.
هرڅومره چې دناروغ ارواییی حالت بد وی دوینو دسروکرویاتو فعالیت لږوی. دغه راز لېندانایلر داکسفورد پوهنتون دټکنالوژۍ دلېږدولو دکمپنۍ رییس دمعافیت په سیستم باندې هم دهغه بده اغېزه ثابته کړی ده. دمړاوېتوب ( افسرده ګي یادېپریشن) په وخت کې دماغ زیات کورتېزول آزادوی چې دا په خپله دوجود دمعافیت سیستم له کمزوری سره مخامخ کوی. ثابته شوې چې دډېرو ناروغیواړیکه لکه سرطان له آروایی فشارونو سره شته . لنډه داچې مړاوېتوب ، زړه تنګی اوارواییی فشارونه دعضویت نورمال توازن له مېنځه وړی روغتیا خرابوی اوبېلابېلې ستونزی مېنځته راوستلای شی.
پاک رب په یوه بل آیت کې داسې فرمایی:

حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ إِلَيۡهِ

ترهغو چې ځمکه پرهغو تنګه شوه او ان چې له ځانه زړه تنګی شول اوپوه شول چې پرته له الله (ج) نه هېڅ پناه ځای ددوی لپاره نشته .(التوبه ۱۱۸).

دزړه تنګوالی اوداروایی فشارونو دغه حالت دبې عقیدې اوضعیف الایمانه خلکو په برخه وی . اوبله هیڅ چاره پرته له دې چې الله (ج) ته پناه یووسی نه لری . نن ډاکتران عقیده لری چې ددغو حالاتو یواځینۍ درملنه دزړه کرار والی اوآرام چاپېریال دی .اودغه حالت یواځې دقرآنی ارشاداتو څخه په پیروی کې لاسته راوړلای شو.

فَمَن تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ

هرچا چې دهدایتونو پیروی وکړه دده لپاره ډارنشته اوخپګان به پرې رانه شی(البقره ۳۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د انسان پيدايښت

پرالله [ج] باندې ايمان دانسان پام په قرآن کې دخلقت بيلابېلو ښېلکو ته راکرځوی لکه آسمانونه ، ژوی ، نباتات ، انسان اونور اوله انسان نه غوښتل شوی چې په دې هلکه ځيرنه وکړی.

نَحْنُ خَلَقْنَاكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ

موږتاسو پيداکړی بيا ولی تصديق نه کوی ؟ (الواقعه ۵۷)

دقرآن اعجاز په بېلابېلو آيتونو کې ښکاره دی ځينو آيتونو داسې شيان ياد کړی چې په اوومه ميلادی پيړۍ کې ناممکن ووځو چې انسان پرهغو پوه شی. لکه :انسان له ټولې منی څخه نه بلکه له يوې برخې نه يې جوړشوی.

۱.دنرنطفه دماشوم دجنسيت ټاکونکی دی.

۲- دماشوم رشيم ديوې غواړۍ (حلزون) په څېر دمور پررحم نښلی.

۳-جنين په رحم کې دننه په درې تياروکې وده کوی.

## د منی څاڅکی :

منی د مور دوجود په دننه کې خوځښت لری څو تخمې ته ورسېږی. ددوسووپنځوس ميليونو سپرمونو له ډلی څخه چې په منی کې شته يواځې يوزريی دښځې تخمې ته چې دنښی مالکې په کچه وی ځان رسوی. دغه موضوع دقيامت په سورې کې ياده شوې ده.

آيا يوه نطفه له انزال شوی منی څخه نه وه (القيامه ۳۷).

په دې ځای کې وينو چې الله [ج] روښانوی چې انسان له ټولې منی څخه نه بلکې دمنی له يوې لږې برخی نه جوړشوی. اودا هغه موضوع ده چې په شلمه پيړۍ کې روښانه شوې.

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ

**دمنی مخلوط:**

دمنی مايع يواځې دسپرمو درلودونکی نه وی بلکې دبېلابېلو مايعاتو يو مخلوط وی چې په خصيو اودپروستات دغدې په منوی کيسواودبولی مجرا په نورغدو کې موجود وی. چې تجزيه يی جوتوی چی هغو کې سپرم ، ويتامين سی ، کلسترول ، فلاوين ، شکر ، دليموجوهر ، پروستاګلادين ، فاسفوليپيد فاسفيت ، جست ، هيالورنيديز اونورې اجزاوی وی. دغه مايع بيلابېلې دندې لکه سپرموته دانرژۍ جوړول ، درحم دخولې دسيمې دتيزابی چاپيريال خنثی کول ، دسپرم دحرکت لپاره ديوه ښويدونکې تګلوری جوړول اونورې لری.چې دغه موضوع په سلګونه کاله مخکې قرآن ياده کړې.

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ

موږ انسان دمختلطې نطفې له اوبو نه خلق کړ (الانسان ۲).

اوپه يوه بل آيت کې دمخلوط جوهر نه دانسان پرخلقت ټينګار کوی:

ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهُ مِن سُلَالَةٍ مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ

هغه وخت مو دهغه نسل د يوې بيقدرې مايع له لنډيز يا جوهر څخه جوړکړ (السجده ۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسلالې کلمه يعنې ديوه شی اساسی اومهمه برخه يعنی دهغه جوهر.

**دماشوم جنسيت:**

تردې نژدی وختو پوری خلکو فکر کاوه چې دماشوم جنس دښځې له لوری ټاکل کېږی ( اوزموږيوشمېرخلک اوس هم په همدې باوردی) اوکله هم فکر کيده چې دواړه هم مور هم پلار دماشوم په جنسيت اغېزه لری. خو قرآن مجيد روښانه کړې چې جنسيت دنارينه دمنی له څاڅکی نه نشأت کوی.

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ

اوهغه دنارينه اوښځينه جفتونه پيداکړل دنارينه له نطفې نه چې توېږی. (النجم ۴۶-۴۵).

أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ فَجَعَلَ مِنْهُ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ

آيا په لومړی سر کې يوه نطفه دمنی له جنسه نه وه . بيا هغه نطفه ترلې وينه شوه اوپه پای کې يی جوړه اوپيداکړه اوله هغه نه يی دوه جنسه نر اوښځه مېنځته راوړل (القيامه ۳۹-۳۷).

دماليکولير بيولوژی اوجنتيک علم پرمختګ ددغو معلوماتو پرريښتينوالی داعتراف جوګه شوی دی . په شمله پېړۍ کې دا پوهه لاسته راغله چې دماشوم جنسيت دنر دسپرمو د حجرو له مخې ټاکل کېږی . دجنسيت دټاکلو عامل کروزمونه وی . شپږ څلويښت کروزومونه دانسان دجوړښت ټاکونکی وی چې له هغو دلې نه يی دوه عدده دجنسی کروزومونو په نامه يادېږی. دغه جنسی کروموزمونه په نارينه وو کې Yو X او په ښځوکې Xاو X دی (چې دشکل دورته والی په خاطر په دې حرفونو نومول شوی ) د X کروموزوم ښځينه او د Y کروموزم دنارينه ځانګړتياوې لېږدوی. ديوه انسان يا يوه ماشوم نوی جوړيدل ددغو کروموزمونو ددوو دانو له يوځای کيدو نه چې په نارينه اوښځوکې دجوړې په توګه وجود لری صورت نيسی .دښځې جنسی حجره په دووحجرووېشل شوې چې هريوه  يی يواځې ښځينه ځانګړنې لری. په داسې حال کې چې د نارينه جنسی حجره کله چې ويشل کېږی دوه ډوله بېلابېل سپرمونه جوړوی چې يو يی  د X کروموزوم اوبل يی د Y کروموزم لری.کله چې دښځې هګې چې د  X  کروموزوم لری  د  X کروموزم درلودونکی سپرم سره يوځای شی ماشوم د  XX  کروموزومونه لری يعنې چې نجلی به وی . اوکله چې دښځې تخمه چې يواځې د X کروموزوم لری کولای شی د  Y کروموزم درلودونکی سپرم سره يوځای شی چې ماشوم په دې توګه  YX  کروموزومونه وی يعنی هلک به وی.

نو دماشوم جنسيت دنارينه دسپرموله لارې ټاکل کېږی. په داسې حال کې چې په زياتو ټولنو کې فکر کېده چې دجنسيت ټاکل دښځېه  له لوری وی .اوښځې دنجونو په زېږولو ملامتېدلې.

څوارلس سوه کاله مخکې قرآن دغه ناوړه دود  رد کړی اوداسې موضوع يی بيان کړه  چې موږ يی ايله اوس په حقيقت باندې پوه شوی يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه عقله چې په رحم پورې نښلي:**

كه هغو موضوعاتو ته چې په قرآن کې یادشوی ښه ځیر شو ډېرو مهمو موضوګانو باندې به پوه شو. کله چې دنارینه سپرم دښځې له تخمې سره یوځای شی دیوه ماشوم دجوړیدو بنسټ ایښودل کېږی . دغه واحده حجره دزایګوټ Zygote په نامه یادېږی چې په دوام داره توګه تکثر کوی اودغوښې په یوه ټوټه چې درشیم Embryo په نامه یادېږی بدلېږی چې دغه پړاوونه دمایکروسکوپ له لارې لیدل کېږی. دغه رشیم آزاده نه پاتې کېږی بلکې ځان درحم پردیوال نښلوی اوپه هغه کې رېښې ځغلوی چې ښه کلک شی. اودهمدغو ریښولہ لارې خوراکې مواد چې د ودې لپاره ډیراړین وی دمور له وینی نه اخلی.

بیا نو دا دقرآن یوه بله معجزه ده چې په رحم باندې د رشیم سریښېدوته اشاره کوی.

**خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ.**

انسان یې له علق (تړل شوې وینې )نه جوړکړ. (العلق ۲).

د"علق" کلمه کله چې یو شی په بل شی ونښلی مانا لری دغه کلمه غواګې یا حلزون چې په نورو ژوو ځان نښلوی اودهغو وینه زېښېښی په مانا هم راغلې.

په ډاډمنه توګه د مور د رحم دتوضیح لپاره ددې کلمې کارونه یواځې دالله کلام کیدلای شی چې خالق دټولو کلمو دی.

**پرهډوکو دعضلو پوښونه:**

هغه مهم معلومات چې قرآن برابر کړی ، دمورپه رحم کې دودې پړاوونه دی.

ثُمَّ خَلَقْنَا ٱلنُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا ٱلْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا ٱلْمُضْغَةَ عِظَٰمًا فَكَسَوْنَا ٱلْعِظَٰمَ لَحْمًا ثُمَّ أَنشَأْنَٰهُ خَلْقًا ءَاخَرَ

بیا مو نطفه علقه کړه اوله علقې نه مو شلېدلې غوښه جوړه کړه اوله هغې شلېدلې غوښې مو هډوکی اوبیا مو پرهډوکو عضلې وپوښلې اوبیا مو یو بل خلقت رامېنځ ته کړ(المؤمنون ۱۴).

امبریولوژی Embryology داسې علم دی چې دمورپه رحم کې دماشوم دودې پړاوونه ترڅېړنې لاندې نیسی. تردې نږدې وختو پورې دامبریولوژی پوهانو فکر کاوه چې هډوکی اوعضلې یوځای جوړېږی ، په داسې حال کې چې میکروسکوپیکوڅېړنو وښودله چې په قرآن کې شرح شوی پړاوونه بشپړدقیق اوسم ویل شوی اووروسته له ډېرې مودې پوهه وتوانیده چې دقرآن دا ویل شوی حقیقت درک کړی.لومړی له غوښې نه چې دټولو نسجونو یو مخلوط وی یو غضروف جوړېږی چې وروسته بیا په هډوکې بدلېږی ، بیا وروسته دعضلو حجرې جوړېږی اوپه هډوکو خوربږی اوهغه پوښوی.

یوه پوهنېزه څېرونه دانسان دتکامل په نامه داسې وایی:

"درشیم عمومی اسکلیت په اوومه اونۍ کې دهډوکو په جوړښت سره څېره مومې اوبیا وروسته ډېر ژر دعضلو جوړښت پیلېږی .عضلې بیا خپل سم حالت غوره کوی . دعضلو جوړیدل په اتمه اونۍ کې واقع کېږی " . لنډه داچې دانسان د ودې پړاوونه څه ډول چې په قرآن کې روښانه شوی د ننی امبریولوژی موندنو باندی دتایید مهر ږدی.

**د مورپه رحم کې پړاوونه اوتیارې:**

قرآن وایی چې ماشوم ددرې ګونو تیارو په پړاوونوکې پیداکېږی.

يَخْلُقُكُمْ فِى بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِى ظُلُمَٰتٍ ثَلَٰثٍ

تاسو یی پړاوپه پړاو دمور په رحم کې پیداکړی په درې ګونو تیاروکې (الزمر 6).

درې ګونې تیارې یا(ظلمات ثلث) درشیم دودې په بهیر کې عبارت دی له : دبطن یا نس په جوف کې تیاره

1. درحم دننه تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. دماشوم دغشا په مېنځ کې تیاره

ننی بیولوژی ښکاره کړه چې درشیم اوماشوم وده څه ډول چې په مبارک آیت کې یاد ه شوې په درې پوښونو کې کېږی. برسېره پردې پوهې جوته کړې چې هریو له هغو نه له درې پوړونو پوښونو نه جوړشوی.د بطن یا نس پوښ دپوستکی ، دپوستکی لاندې اوعضلو پوښونه دی .

1. درحم پوښ دبهرنی برخې دعضلاتی برخې اودرحم دکورنی برخی چې رشیم په کې ځای په ځای کېږی جوړشوی دی. هغه پوښ چې ماشوم درحم په مېنځ کې په کې ځای په ځای شوی هم درې پوړه لری چې د Amnion ، Chorion و Decidua په نومونو سره یادېږی.

برسېره پردې پورتنی آیت کولای شی درحم په مېنځ کې دژوندانه درې پړاوونوته اشاره ولری. چې دغه درې پړاوونه عبارت دی له : دوه نیمی لومړنی اونی یا درشیم دجوړېدو نه مخکینی پړاو ، تراتو اوونیوپوری درشیم پړاو اوبیا تر زېږېدنې پورې جنینی پړاو.

١- درشیم نه مخکې پړاوPre-embryonic : چې دزایګوت په لومړی پړاو کې تقسیمېږی اودحجروپه یوه ځانګه بدلېږی چې ځان درحم دیوال باندې نښلوی چې داحجرې په تدریجی توګه درې پوړه جوړوی.

٢- رشیمی پړاو Embryonic: دغه پړاو پېنځه نیمی اوونی وی چې انساج اودعضویت بېلابېل غړی په مېنځته راتلو پیل کوی.

٣- جنینی پړاوFoetal: وروسته له اتمې اوونی نه وی چې په بشپړه توګه دیوه انسان له شکل سره ورته وی په داسې حال کې چې لومړی سر کې یواځې درې سانتی متره اوږدوالی لری دغه پړاو تر درې اوونیو پوری او دولادت تروخته پورې دوام مومی.

دموږپه نس کې دماشوم دودې په اړوند معلومات یواځې دمدرنو وسایلو له لاری په څېړونو امکان وموند خو قرآن لکه نورې په سلګونه موضوع ګانې دغه معلومات ډېروړاندې روښانه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**<u>د نطفې د صدور لومړنی موقیعت:</u>**

اوپه بل آیت کې دنطفې دجوړیدو په هلکه فرمایی:

خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ

له خوځېدونکواوبو څخه خلق شوی چې دملاتیراوپوښتیو له مېنځ نه راوځی(الطارق ۷-۶).

ځوارلس پېړی مخکې دامبریولوژی علم نه وو اوددغو آیتونو په هدف سم څوک نه پوهېدل . کله چې ماشوم دمورپه رحم کې وی خصیې دهلک په جنین کې اوتخمدان دنجلۍ په جنین کې هلته چې پښتورګې موقیعت لری ځای پرځای وی یعنی د ملا د تیر اود پوښتیو په تقاطع کې چې وروسته بیا خپل اصلی موقیعت ته یعنې لږڅه لاندې راځی .

خصیی د ملا د تیر اوپوښتیو له مېنځ نه درحم په مینځ کې په دریمه میاشت لاندې خواته خوځښت کوی اوپه حوصله کی ځای نیسی. بیا له اوومې میاشتې وروسته لاندې راځی اودنس لاندینی جدار ته رسېږی اوپه نهمه میاشت دزېږېدنې وخت ته نږدې له نس نه دباندې په خپل اصلی ځای کی ځای نیسی. دقرآن دغه حکمت بله یوه معجزه ده.

## له اوبونه د انسان پیدایښت

وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّن مَّآءٍ

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا

الله (ج) ټول ژوی له اوبو نه خلق کړی (النور ۴۵).

هغه داسې ذات دی چې بشر یی له اوبو پیداکړ (الفرقان ۵۴).

کله چې په دې آیت کې دانسان اونورژوو د پیدایښت ډول کورو د قرآن په اعجاز به اعتراف وکړو. انسانان سلګونه کاله وروسته دمیکروسکوپ دجوړیدوله لارې پر دې پوه شول چې هرژوندی موجود له اوبو نه پیداشوی.

دژوندیو موجوداتو له پنځوسو نه تر نوی په سلوکې جوړښت له ابوشوی دی. بیولوژی روښانوی چې اتیا په سلو کې سایتوپلازم چې د هرحیوان دحجرې اساسی جز دی له اوبو جوړشوی اوسایتوپلازم په سلګونه کاله وروسته د قرآن له نزول څخه پېژندل شوی دی.

## له خټې نه جوړښت

الله (ج) په قرآن کې فرمایی چې انسان یی له خټې جوړکړی اوروح یی په هغه کې پو کړی دی.

مونږ داله سریښناکې خټې څخه پیداکړل(الصافات ۱۱).

إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍۭ

کله چې دانسان جسم ترمطالعې لاندې ونیول شی دا روښانېږی چې ټول عنصرونه چې په خاوره کې شته دانسان په بدن کې هم شته.ژوندی انساج پنځه نوی په سلوکې له کاربن ، هایدروجن ، اکسیجن ، نایتروجن ، فاسفورس اوشپږویشت نوروعنصرونو نه جوړشوی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٍ مِّن طِينٍ

انسان مو دخټې له جوهر یا خلاصی څخه پیداکړ (المومنون ۱۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د"سلالة" كلمه يعنې ديوشي بنستېزه يا خلاصه برخه يعنى دهغه جوهر.دغه معلومات څوارلس پيړۍ مخكې قرآن کې ويل شوى چى اوسنۍ پوهه ايله اوس پرې پوه شوى ده.

## د جنينو تنظيم Gene

مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ

له نطفې نه مو پيداکړ اواندول مو ورته سم کړ. بيامو تګلورى ورته آسان کړ (عبس ٢٠-١٩).

د "قدره" كلمه چې متناسب ژباړل شوى دى د قدر له فعل څخه اخستل شوى . دغه كلمه دتنظيمولو ، پلانولو ، طرحې اچولو ، وړاندوينې اوپه پاى کې دهرڅه ليکل په تقدير کې دى.
كله چې سپرم دتخمې پلار مور القاح کړه دواړه جينونه يوځاى كېږى اود ماشوم د جسم ټولې ځانګړنې جوتېږى . هريو د دې زرګونو جينو څخه ځانته ځانګړې دنده لرى . دسترګو درنګ ، دويښتو ، ونې ، څېرې اونورو جين ټاکل كېږى. برسېره پردې دعضويت په دننه کې د زرګونو بېلابېلو فعاليتونو فزيکى ځانګړنې مشخصېږى چې كنټرول يى په جينو کې ليکل شوى دى. لكه دوينى دفشار لوړيدل چې به جينو کې حک كېږى .
هغه لومړنى جين چې دسپرم اوورم له يوځاى کيدو څخه مېنځته راځى د ډى .ان.اى DNA ماليکول جوړوى چې ديوه چا ټولې نښې له لومړى سرنه ترمړينې پورې دکودنو په توګه کې ځايول كېږى.
دغه ماليکول د داسې جينونو درلودونکى وى چې دحجرو په هسته کې ځاى لرى. لومړنۍ حجره ديادوشويو معلوماتو له مخې د DNA په ويشل کيدو پيل کوى. په دې توګه يو انسان جوړېږى.
ديوه انسان د جوړښت تنظيم ديوه ماليکول يا DNA له لارې صورت نيسى. دغه ماليکول له کاربن ، هايدروجن ، نايتروجن او فاسفورس نه جوړشوى دى.
دمعلوماتو هغه ظرفيت چې په DNA کې ثبت وى ، پوهان يى حيران کړى . په يوه ماليکول کې شته معلومات دومره پراخ دى چې کولاى شي يو ميليون دايرة المعارفونه چې هريو يى په زرګونه مخه ولرى ډک کړى.
دپرتلې لپاره کولاى شو ووايو چې دنړۍ ستر اوډير معلومات لرونکى دايرة المعارف بريتانيکيا Britannica دى چې درويشت ټوکه اوپنځه ويشت زره مخه دى .په داسې حال کې چې يو ماليکول چې دحجرې په هسته کې له خپله حجرې نه هم کوچنۍ وى دنړۍ له ستر دايرة المعارف Encyclopedia نه څلويښت برابره ډير معلومات په کې ځاى شوى. يعنې چې دغه دايرة المعارف به زر ټوکه ولرى چې تراوسه ددنيا په هېڅ ځاى کې نشته دا دانسانى بدن يوه بله معجزه ده چې ماترياليستان اوهغه کسان چې دکايناتو خالق نه منى دروغجن غلط اوډيرنادانه ثابتوى.
دDNA جوړښت په کال ١٩٥٣ ميلادى کې د فرانسيس کريک له خواکشف شوى په داسې حال کې چې په سلوګونه کاله مخکې قرآن هغه ته اشاره کړې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حیض Menstruation

دحیض دوران هغه وخت وی چې دیوې ښځې له عضویت نه القاح شوې تخمه او له مېنځه تللی نسج درحم له مېنځه دباندې وشړل شی. دغه پېښه دوینې درګونو له څېریدو سره ملګری وی چې له پای ته رسیدو وروسته یی د تخمې د پخیدو لپاره یوه بله دوره پیلېږی. دهرې ښځې لپاره ځانګړی وخت یوه میاشت تاکل کېږی . هره میاشت تاکل شوی هورمونونه آزادېږی اویوه پخه شوی تخمه آزادېږی . نو دښځې وجود په هره میاشت کې یوځل دالقاح لپاره چمتوکېږی. خو دسپرم مداخله یا عدم مداخله وروستی بدلونونه ټاکی. په دې پړاوکې درحم په جوف کې بدلونونه یواځې کیدلای شی چې داناتومی اونسایی کتنو له لاری ښکاره شی.په داسې حال کې مخکې له دې چې پوهان په دې بهیر پوه شی قرآن یادکړی:

اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ ۖ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ

الله (ج) پوهېږی چې دهرې ښځې دحمل بار څه دی اوهرکمی اوزیاتی په رحم کې . اوهرڅه په مناسبه کچه ټاکل شوی دی. (الرعد ۸).

دحیض دبهیر په پیل کې درحم دکورنۍ غشأ پندوالۍ نږدې نیم ملی متره وی . دتخمدان له لارې دآزادو شوو هورمونونو تراغیزې لاندې دغه غشأ نوره هم پنډېږی تر پنځو اوشپږو ملی مترو پورې رسېږی اودزایګوت دځښیدولپاره چمتوکېږی. دعدم القأ په صورت کې دغه پوړدباندې توېږی . بیانو په هره میاشت کې په رحم کې زیاتوالی اوکموالی راځی.

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ ۖ
وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ

اوپوښتنه کوې له تانه دحیض له دورې نه ،ووایه په هغه کې دښځو لپاره درد شته نو په دې حال کې له هغوی سره مه یوځای کېږی اوترې لرې والی وکړی ترهغو چې له حیضه پاکې نه شی له هغو سره مقاربت مه کوی (البقره ۲۲۲).

دطب ننۍ پوهې ثابته کړې چې دحیض په دوره کې جنسی مقاربت دمیکروبی ناروغیو اودرحم دسرطان لامل ګرځی.

### د ماشوم د غړو د ودې ترتیب

انسان مو له مختلطې نطفې څخه پیداکړ اوترآزموینې لاندې مو راووست اوبیامو هغه اوریدونکی اولیدونکی وګرځاوه (الانسان ۲).

إِنَّا خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَاهُ سَمِيعًا بَصِيرًا

د قرآن په ټولو آیتونو کې د انسان دحواسو د یادښت یو ترتیب شته تل لومړی اورېدل ، بیا لیدل اوبیا حس کول یاد شوی دی .

ډاکتر کیت مور وایی: په دوه ویشتمه ورځ د رحم په دننه کې لومړی د غوږنو جوړښت پیلېږی بیا سترګې جوړېږی اوبیا دفاعی مرکزونه چې د درک اوحس کولو توان لری جوړېږی . ماشوم په څلورمه میاشت کولای شی ټول غړونه واوری. چې د داډول وضاحت ذکر په قرآن کې خپله یوه معجزه ده.

### د شېدو جوړښت

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِ مِن بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَائِغًا لِّلشَّارِبِينَ

ستاسو لپاره په څارویوکې هم یوعبرت دی چې تاسوته ددوی دنس نه له هضم شویوخوړونه اوله وینو نه پاکې شېدې درکووچې دټولو څښونکو لپاره خوندورې وی (النحل ۶۶).

لومړنی غذایی مواد دپړاوونو له وهلو اوکیماوی تعاملاتونه وروسته دهضم په جهاز کې بدلون مومی اودوینو بهیر ته ننوځی ، بیا دوینې دبهیر له لارې بیلابېلو نسجونو اوغړوته رسېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوروامساجوغوندې د شېدوغدې هم لومړنی خوراکی توکی د وینو له دوران څخه لاسته راوړی. جوړې شوې شیدې د شیدود غدوله لارې افرازېږی چې ډېر لوړخوراکی ارزښت لری. ځکه چې د ټولو خوراکی توکو له خلاصې نه چې هضم شوی وی اود وینو د بهیر له لارې لېږدول کېږی لاسته راځی. نوشېدې له وینو اونیم هضم شویو موادوچې دواړه دخوړو وړنه دی جوړېږی.
هغه ډول چې وینو ددغې موضوح بیان هغه وخت چې د تی لرونکوژوو د اناتومی اوفېزیولوژۍ په هکله پوره معلومات لانه وویوه فوق العاده امر دی.

## د مورشېدې یوه معجزه زېږونکی مخلوط

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ

اوانسان ته مو وصیت وکړ په نیکۍ دخپلو والدینو په حق کې په تېره بیا مور چې د حمل باریې پورته کړی اوله دوو کلو وروسته یې ماشوم له شیدو بېل کړ(القمان 14).

د مور شېدې د ماشوم لپاره نه بدلېدونکی غذا وی چې د ماشوم د ودې لامل ګرځی اوهم ماشوم د ناروغیونه ژغوری . د مورپه شېدوکې غذایی انډول په بشپړه توګه د ماشوم د اړتیا مطابق وی . د مورشېدې دکافی غذایی موادودرلودونکی وی چې د عصبی سیستم د ودې لپاره کافی وی. مصنوعی خوراکونه د شېدې خوړونکو ماشومانو لپاره هیڅ وخت هم د مور د شېدو ځای نه شی نیولی.
د مور د شېدو دګټو لست د انسانی پوهې په پراختیا او زیاتیدو سره لاهم اوږدېږی. څېړنو ښودلې هغه ماشومان چې د مور د شېدو له لاری تغذیه کېږی د انتاناتو اوهضمی اوتنفسی مکروبی ناروغیو په وړاندې مقاومت لری. ځکه هغه انتی بادی چې د مور په شېدو کې شته ماشوم د میکروبونو په وړاندې ساتی. د مورشېدې دګټورو مکروبونو دتکثر لپاره ښه زمینه مساعدوی ، چې دا په خپله د ناروغیو د باکتریا ، ویروسونو اوپارازیتونو په وړاندې مجادله کوی.
د مور شېدی په آسانۍ سره هضمېږی اوځکه چې د شېدې خوړنکې ماشوم مصرف لږ وی نو په دغو شېدو کې دقوی غذایی موادو دشته والی له کبله دغه مواد دماشوم ودې ته ډېر ګټور وی .
د هغو میندو شېدې چې له مودې مخکې یې ماشوم دنیا ته راوړای وی یعنی مخکې له نهو میاشتو نو د دغو مېندو شېدې د غوړو ، پروتینو ، سودیم کلورایدو اواوسپنې درلودونکی وی . څوچې دهغه ماشوم اړتیا پوره کړی چې له مودې مخکې زېږېدلی وی. کله چې دغه ماشومان د مور په شېدو لوی شی نو د ښې پوهې درلودونکی به وی.
د مور د شېدو بله ځانګړنه د اومیکا ۳ ماده وی. دغه شېدې دغه راز د دماغ اوسترګود پراختیا لپاره ښه ماده وی. Omega-3 اومیکا ۳ دشېدې خوړونکې ماشوم دژوند په لومړیو پړاوونو کې ځانګړی اهمیت لری څو چې دماغ اوعصبی رشتې په نورماله توګه وده وکړی . پوهانو د مور شېدې د اومیکا ۳ د ډېرې ښې سرچېنې په توګه پیژندلی.
دبریستول پوهنتون څېړنو ثابته کړه چې دمور شېدې د وینې په فشار باندې اوږد مهالې اغېزې لری . هغه ماشومان چې د مور له شېدو څخه یې ګټه اخستې وی د زړه په ناروغۍ لږ اخته کېږی ځکه چې د هغو نامشبوع شحمی تېزابو موجودیت دمور په شېدو کې د رګونو جدار پوست ساتی. دغه راز هغه ماشومان چې د مورشېدې خوری په لږه کچه سودیم اخلی اولږ پندېږی چې دا دوینې دفشار په لږیدوکې ډېر اهمیت لری.
داکتر لیزا مارتین اوهمکاران یی د امریکا د سینسناتی روغتون کې زیات پروتینی هورمونونه د ادیپونکتین Adiponectin په نامه په شېدو کې وموندل. چې دا هورمونونه دزړه له حملو نه مخنیوی کوی . ددغو هورمونونو لږوالی په پڼدوکسانو کې لیدل شوی چې دزړه په ناروغیو اخته شوی . نوځکه څرګنده شوی چې ماشومانو کې دلږپنډوالی عامل همدغه هورمونونه دی .
دغه راز یو بل هورمون دلپتین په نامه کشف شوی چې دشحمو په میتابولیسم کې بنستیز رول لری. لپتین ددماغ دخبرداری لپاره غبرګون ښیی کله چې دشحمو کچه ډېره شی. دغه هورمون دمور دشېدو له لارې ماشوم ته لېږدول کېږی اوهغه له بې ګټې پنډوالی ، د دیابت له ناروغی اود زړه درګونو له ناروغی څخه ساتی.
.

## <u>د تل تازه خوړو په هکله حقیقتونه:</u>

یوشمېر نورې ګټې هم د مور په شېدو کې شته . ماشوم دخپلې ودې په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېلو موادو ته اړتیا لری ، اود مورشېدې تل د دغو اړتیاوو پربنسټ خپل مواد بدلوی. د مور شېدی تل د خوړلو لپاره چمتووی اود تودوخې مناسبه درجه لری. په دغو شیدو کې شته غوړ اوشکر د دماغ دپراخیتا لپاره ښه زمینه برابروی اوکلسیم یی دماشوم دودې لپاره بنستیز رول لری.
سره له دې چې دشېدو په نامه یادېږی خو ددغو بې ساری خوړو په جوړښت کې تر ډېره بریده اوبه ونډه لری ، اودغه ټکی ډېر مهم دی ځکه چې شېدې خوړونکی هم له شېدو پرته اوبو ته اړتیا لری. هغه روغتیاساتنه چې دمور په شېدو کې شته په اوبو اونورو خوړوکې نه شی مراعاتیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مور شېدې او ذکاوت:**

څېړنو ښوولې چې د ذکاوت پراختیا په هغو ماشومانو کې چې دمور له شېدونه ګټه اخلی له نوروماشومانو نه ډېره وی . جیمز اندرسن دکنتوکی له پوهنتون څخه دا تجربه وکړه چې دمور دشېدو خوړونکو د ذکاوت ضریب IQ دهغو ماشومانو څخه چې پوډری شېدې خوری ۵ نمرې زیات دی .تجربې ښوولې چه دغه اغېزی په هغو ماشومانو کې شته چې لږترلږه شپږ میاشتې یی دمور شېدې رودلې وی. اوهغو کسانو چې له اتو اونیو لږ دمور شېدې رودلې دهغوی په ذکاوت کې کوم څانګړی بدلون نه لیدل کېږی.

**آیا د مور شېدې له سرطان سره مقابله کولای شی ؟**

د هغو څېړنو په پایله کې چې ترسره شوی دا ثابته شوې چې د مور شېدې ماشوم له سرطان څخه ژغوری. پروفیسر لوند کاترینا سونبورګ دسویدن له پوهنتون نه دمور په شېدوکې یوه معجزه لرونکې اغېزه وموندله . دمور په شېدو کې یو پروتین شته چې سرطانی حجرې وژنی ، په داسې حال کې چې نارملو حجروته کوم ضرر نه رسوی . ددې پروتین داغېزې په میکانیزم تراوسه څوک نه دی پوه شوی.

پوهانود نوې زېږېدلی ماشوم کولمې چې دمور شودې یی رودلې ترمطالعې لاندې ونیولې . په دې پوه شول چې دمورشېدې دپنوموکوک میکروب چې په ماشوم کې دسږنې دناروغی لامل ګرځې له مېنځه وړی . برسېره پردې هغه ماشومان چې دمور له شېدو نه ګټه اخلی ډېر لږ داورېدوپه ستونزو اوسږنې په انتاناتو اخته کېږی. دمورشېدی ماشوم دسرطان په وړاندې حمایه کوی اوپوهان دی ته هم متوجه شول هغه ماشومان چې له پوډری شېدونه ګټه پورته کوی نهه ځلې ډېر له نورونه دسرطان په ناروغی اخته کېږی. دمور په شېدو کې پروتین په دقیقه توګه سرطانی حجره مومی اوهغه له مېنځه وړی. دغه پروتین د Alphalactalbumin یا Alpha- Lac په نامه یادېږی. الفالک دداسې پروتینو له لارې تولیدېږی چې په شیدو کې د قند لکتوز په جوړیدوکې مرسته کوی.

**دا د الله (ج) یوه لورېنه ده :**

دمورد شېدو دګټو یوه بل اړخ دادی چې ماشوم باید له هغه نه دوه کاله ګټه واخلی . دغه معلومات چې په دا وروستیو وختو کې پوهان پرې پوه شوی څوارلس پېړۍ مخکې قرآن تبلیغ کړی.

وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَـٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ۚ

مېندې باید ماشومانوته پوره دوه کاله شېدې ورکړی که غواړی چې د شېدې ورکولو وخت بشپړکړی(البقره ۲۳۳).

مورکله هم دشېدوجوړولو لپاره هوډ نه کوی اونه هم په شېدو کې دموجودومغذی موادو دجوړیدو لپاره هوډ کولای شی چې ماشوم ته دېراړین دی.. الله (ج) دهرچا په اړتیا پوهېږی اوله خپل رحمت نه یی برخمن کوی اود مورشېدې هم دماشوم داړتیا مطابق په مور کې پیداکوی.

## دګوتې د نښې له مخې پېژندنه

په قرآن کې راغلی چې الله (ج) انسانان له مړینې وروسته بیا ژوندی کوی اوتینکار شوی چې ګوتې به یی بیا تنظیم کړی.

بَلَىٰ قَـٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُۥ

هوکې موږ کولای شو چې دګوتو سرونه په منظم ډول جوړکړو (القیامه ۴).

دګوتو پرسرونو دغه تینکارډېر مهم دی ځکه چې دهرشخص دګوتی دسر نښې اوتفصیلات ځانګړی وی . ان دوه ګونی چې DNA یی یوله بل سره مشابه وی خو دګوتې نښې یی یوله بله سره توپیر لری.

دګوتې نښه چې مخکې له زېږېدلو بشپړېږی اوپه ټول ژوند کې له بدلون پرته پاتې کېږی له همدې کبله دکسانو دهویت پېژندنې مهم مدرک ګڼل کېږی. اوپه هغه کې هېڅ ډول تبروتنه نه کېږی.

دګوتې دنښې اهمیت دنولسمې پېړی په پای کې وموندل شو په داسې حال کې چې قرآن ډېر مخکې زموږ پام هغه ته راګرځولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ

کله چې داسې وخت راشي چې غوړونه ، سترګې اوپوستکي يې پرهغه څه چې کړې يې دي شهادت ورکړي(فصلت ۲۰).

## د انګبينو موچۍ

وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى ٱلنَّحْلِ
أَنِ ٱتَّخِذِى مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ ٱلشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ثُمَّ كُلِى
مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ فَٱسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا
شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ
يَتَفَكَّرُونَ

اوستا رب دشاتو ښځينه موچۍ ته وحی وکړه چې په لوړو غرونوونو کې کورونه جوړکړي له ټولو ميوونه وخوري اوداللّٰه (ج) پرلار روان شي . دهغوی له مېنځه به دځښولو دبېلابېلو رنګو درلودونکي توکي راووځي چې په هغو کې به د انسانانو لپاره شفأ وي اوپه هغو کې د هغو لپاره هم نښې شته چې فکرکوي. (النحل ۶۹-۶۸).

دشاتو دموچيو په ټولنه کې دهريوه دنده ځانګړې ده . نارينه موچۍ دملکې دالقاح پرته بل کارنه کوي . اوښځينه موچۍ ټول کارونه لکه دکوراود انګبينو دکندوجوړول پاکونه ، دخوړو دتوکو راټولول ،دانګبينو جوړول اونورې چارې په غاړه لري . دغه موچۍ سره له دې چې ښځې دي خو زېږول نه کوي يعنې دتخمې دپځېدو ضرفيت نه لري اوپواځې يوه يې داتوان لري چې هغه ملکه ده.

د "نحل" کلمه يا دشاتو موچۍ په دې آيت کې ورته دښځينه موچۍ خطاب شوی ځکه د"ان تخذي" فعل مؤنثي صيغې لپاره کارول شوی بيا نو قرآن داروښانه کوی چې دشاتو جوړونکې ښځينه موچۍ دي.

ددغې موضوع وضاحت په داسې حال کې چې دپوهې کچه ډېره ټيټه په خپله دقرآن يوه معجزه ده.

## د انګبينو معجزه

بياهم پورته يادوشويو آيتونو ته پام اړوو ( شات دانسانانو لپاره شفأ ده) په نننۍ ساينس کې دانګبينو دخواصو مطالعې يوه نوې علمی شعبه پرانستی ده.

دشاتو يو شمېرځانګړنې داددو:

داچې کاربوهايدرونه يا په شاتو کې موجود قند سره له دې چې دتبزابو ډېره کچه لرۍ په آسانی سره ګلوکوز ته اوړيدلای شی ، خو په ډېرو حساسو معدو کې هم په آسانۍ سره هضمېدلای شی . شات دپښتورګو او کولمو دندې ښې کولای شی.

کله چې شات له شېدو اواوبو سره وخوړل شی د دوو دقيقو په ترڅ کې يعنی په ډېرې چټکۍ سره دوينې بهير ته ننوځی. دشاتو قند ددماغ دندې ښې کوی ، اوشات دګلوکوز اوقندونو ښه طبيعی فرکتوزشمېرل کېږی. نوې څېړنې جوتوی چې دغه ماده دستړيا دله مېنځه وړلو اودسپورتی ځواکمنۍ لپاره ښه مخلوط دی.

شات دوينې دجوړيدولپاره ښه غذايی مواد برابروی ، برسېره پردې دوينې په تصفيه کې هم مرسته کوی . اودوېنی پردوران يی مثبتې اغېزی جوتې شوی . درګونو دکلکوالی مخنيوی کوی. شات دمکروبونو دوژلو ځانګړتيا لری اودليل يی هم دادی چې شات ډېر قند لری اودغه قند دهغو اوبو دله مېنځه تلو لامل دی چې دمکروبونو وده مساعدوی ، دشاتو تيزابيت اودنايتروجنو نه درلودل چې دمکروبونو دتکثر لپاره مهم عنصر دی دهغو بله ځانګړنه ده . په شاتو کې دهايدروجن پراکسايد شتون هم دمکروبونو له تکثر نه مخنيوی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

انتی اوکسیدانت Antioxidan مواد دروغ ژوندانه لپاره ډیر اړین دی . هغه زیان لرونکی مواد چې دحجرو په میتابولیزم که شته له مېنځه وړی . انتی اکسیدانتونه دخوسا خوړو له تخریبی اغېزی نه مخنیوی کوی اوله مزمنوناروغیونه هم مخنیوی کوی .

شات د بی او سی له ویټامینونو برسېره مګنیزیم , کلسیم , سوډیم , کلورین , سلفر , اوسپنه , فاسفورس, آیودین او جست هم په ډیره کچه لری.

## په شاتو کې د ټپونو شفا بخښونکې اغېزې:

کله چې په ټپونو باندې شات کېښودل شی ، د هوا لمبدبل ځان ته راکاږی دجوړېدو بهیر چټکوی ، ځکه چې شات دپوستکی دمخ دحجروتکثر تحریکوی چې دټپ دپوښ لامل ګرځی اوان چې په سترو ټپونو کې هم ګټور ثابت شوی .

- شات دانساجو بیا وده چې دروغتیا لپاره اړینه ده خوځوی
- شات د التهاب ضد ځانګرتیا لری یعنی چې د ټپ دشاوخوا پړسوب کموی ، د وینی بهیر یی سموی او رغونه چټکوی.
- شات دټپ په ځای کې پرانساجو نه نښلی ، له همدې کبله دپانسمان دبدلېدوپه وخت کې ناروغ درد نه احساسوی اونوی انساج جوړېږی اوبیا نه تخریبېږی.
- شات دټپ له منتن یا میکروبی کیدونه نه مخنیوی کوی . اوټپ په ریم کی له شته مکروبونو نه ژر پاکوی . ان پر هغو مکروبونو چې دانتی بیوتیک په وړاندې یی مقاومت موندلی وی هم اغېزه کوی.
- داکتر پیټر مولن دنیوزیلاند دپوهنتون دبیوشیمی پوهاند وایی: تجربو ښودلې چې شات دسپینوزرو دمرکباتو نه چې دسوزیدو په درملنه کې ګټور وی هم اغیزمن وی .

نووینو چې شات داسې ګټورې ځانګړنې لری چې له شک پرته ویلای شو ډېرې عجیبې دی اوداالله دصنعت داعجاز یوه بېلګه ده.

## کجوره(خرما) اوګټې یې

دقران آیتونو کجوره دجنت له بڼونونه یوه ډالۍ ګڼلې. کله چې دغه میوه مطالعه شوه په هغه کې ډیرې مهمی ځانګړنې وموندل شوی اوهره ورځ یی نوې ځانګړنې موندل کېږی. له کجورو نه هم دخوړو اوهم ددرملو په ځای ګټه اخستل کېږی.

(مریمه) دماشوم راوړلو د درد له زوره دکجورې دونې لاندې ولاړه وه اوویی ویل کشکې مخکې له دې نه مړه شوې وای اوپوره هېره شوې وای . دهغې دپښو لاندې غږ وشو چې مه غمجنه کېږه چې الله ستا له پښو لاندې داوبو یوه چېنه روانه کړې. اود ونې ښاخ دځان لورته وخنډه چې تاته تازه کجورې راتوې شی. (مریم 23 — 25).

په دې توګه الله مریمې ته توصیه وکړه څوچې کجورې وخوری ، ننی پوهې داثابته کړې چې کجوره د امیندوارو میندو لپاره ښه خواړه دی دغه راز دمېندو لپاره وروسته له ماشوم راوړلو هم ښه

فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾

فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾

وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواړه ګټل کېږي . مريمې ته دا هدايت وشو څوچې ماشوم راوړنه ورته آسانه شي. کجوره دشکر ډيره کچه لرى ( له شپېتو تر پنځه شپېتو په سلوکې ) د امېندوار ښځو لپاره ددې خوړوتوصيه ددوى به وجود کې دډېرى انرژى دجوړيدو اودمور دښېدو دهورمونونو دتحريک لپاره شوې.

کجورې دهغو مېندولپاره چې دناروغې اووينې بهيدو له کبله کمزورې شوى وى ډيره انرژى جوړوى.

په کجوره کې دډېرو ډولونو بنسټيز دخوړو توکى شته ، پوهان په دې باوردى چې يو انسان کولاى شى يواځې داوبو اوکجورو په خوړلو سره کلونه ژوند وکړى. داوسنۍ دخوړو يو پوه وايى چې دروځى ديوې کجورې خوړل اوديوې پيالې اوبوڅښل دشخص ټوله غذاى اړتياه پوره کوى.

Oxytocin ماده چې په کجورو کې شته په طبابت کې ددرملوپه توګه دماشوم راوړلو دبهير دچټکتيا لپاره کارول کېږى . برسېره پردې دغه ماده دمورشېدې هم ډيروى. اوکسى توسين داسې يو هورمون دى چې دنخاميه په نامه ددماغ له منځنۍ برخې څخه افرازېږى. دغه ماده دمور په رحم کې دتقلصونو دجوړيدو لامل ګرځى چې ماشوم دزېږېدو په وخت کې دباندې لورته خوځوى. په کجورو کې ددغې مادې شتون په يواځى توګه دقرآن اعجاز اوددغې مادې ارزښت ځرګندوى. برسېره پردې په کجورو کې دشکر شته والى ګلوکوز نه دى بلکې فرکتوز دى ، له همدې کبله دهغو ناروغانو په وينه کې چې شکر شته په چټکۍ سره هغه نه اوچتوى.

کجوره د ډيرو ويټامينونو ، منرالونو ،غوړو ، پروټينو ، دنه جذبېدونکو قندو اوفايبرودرلودونکې ده . سوډيم , پټاشيم , کلسيم , مګنيزم, اوسپنه , سلفر , فاسفورس, کلورين, د A او B ويټامينونه په کجوروکې شته.

کجوره دوينې جوړيدل په عضويت کې زياتوى دحمل په دوران کې له زړه بدوالى مخنيوى کوى. دوجود له ودې سره مرسته کوى ، دسترګود ليدلوځواک اواعصاب ځواکمنه کوى .

کجوره يواځېنى ميوه ده چې پروټين لرى ، غوښه هم يوه بشپړه غذاده خو دغوښې زيات خوړل دحمل په بهير کې دمسموميدو اويا زهرجنېدو لامل ګرځى .

دکجورپه اړوند دا ټولې خبرې چې په دې وروستيو کې موندل شوى دانسان په وړاندې دالله(ج) حکمت اومهربانى ځرګندوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اینځر یوه فوق العاده مېوه

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ

قسم په اینځر اوزیتون(التین 1)

په دغو ددو میوو قسم دهغوی دخوړلو ارزښت ښکاروی. اینځر ترنورو میوو او سبو ډېر فایبر لری . یو دانه وچ اینځر دیوتن دفایبرو ورځنی اړتیا شل په سلو کې بشپړوی. څېړنو ښودلې چې فایبر دهضم لپاره ډېره مرسته کوی. اوهم له یو شمېر سرطانونو څخه مخنیوی کوی . فایبرونه دوه ډوله دی یو په اوبو کې ګډ اونوریې ناګډ . په اوبو کې ګډ فایبردکولموله له لاری دفضله موادو له دفعی سره مرسته کوی اوناګډشوی فایبر غټی کولمې دسرطان د ناروغی په وړاندې وقایه کوی. برسېره پردې فایبر لرونکی خواړه دوینې کلسترول ټیټوی اوپه پایله کې دزړه دحملو خطر کموی اوهمدارنګه په وینه کې دقند دیوځلی لوړېدو مخنیوی هم کوی.

په اینځروکې دغه دواړه ډوله فایبر شته . دامریکا دکلفرنیا داینځرومشورتی بورډ په دې اند دی چې چې اینځر له نورو مېوو نه ډېر انتی اوکسیدانتونهAnti-oxidant لری. انتی اوکسیدانتونه موږ دډېرو ناروغیو په وړاندې وقایه کوی هغه زیان لرونکی مواد چې زموږ په بدن دکیمیاوی تعاملاتو له لاری جوړېږی هغه خنثی کوی اودحجرو دتخریب مخنیوی کوی. دسکرانتول پوهنتون په ډېره کچه فینول Phenol چې یو انتی اوکسیدانت دی په اینځروکې تثبیت کړی. فینول دغه راز دجراثیمو په وژنه کی هم ګټارېږی.

په نیو جرسی کې دروتګر پوهنتون څرګنده کړې چې داومیګا ۳ اواومېګاه ۶ اوفیتوسترول په وچو اینځرو کې شته . دغه هم دکلسترول کچه راټیټوی .

دکالیفرنیا داینځرومشورتی بورد دغه دطبیعت یوه مکمله میوه بولی اووایی چې ددغې میوې روغتیایی اوغذایی ارزښت ډېر زیات دی.څکه اینځر غوړ ، سودیم اوکلسترول نه لری اودډېرو فایبرو درلودونکی دی اوله نورو میوونه په ډېره کچه منرالونه لری . څلوېښت ګرامه اینځر دوجود شپږ په سلوکې دکلسیمو ، پوتاشیمو اواوسپنې اړتیا پوره کوی.

اینځر دناروغانو لپاره دانرژی یوه ښه منبع ده په دی میوه کې شکر له نورمیوو ډېر دی ، اینځر دکمزورې تبې ، توخی اوسالندې ددرملنې لپاره هم ګټارېږی.

داینځرو دغه ټولې ګټې دالله (ج) یوه مهربانی ده چې داوسنۍ ټکنالوژۍ په مټ څرګنده شوې په داسې حال کې چې قرآن دهغه اهمیت په سل ګونو کاله وړاندې بیان کړی.

## کب دخوړو یوه ښه منبع

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَـٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ

ستاسو لپاره دسیند ښکار او دهغه طعام حلال وګرځول شوځو چې تاسو اومسافران له هغو نه ګټه واخلی (المائده 96).

کارپوهان توصیه کوی چې کب دزړه دفعالیت لپاره اودزړه دناروغیو دمخنیوی لپاره ښه دی.چې. دکب ارزښت په دې کې دی چې هم دانسان دبدن لپاره داړینو غذایی موادو درلودونکی دی اوهم دناروغیو خطر کموی دبېلګې په توګه اومیګاه ۳ چې په کب کې شته دزړه دناروغیونه مخنیوی کوی اودمعافیت سیستم تقویه کوی.

وَهُوَ ٱلَّذِى سَخَّرَ ٱلْبَحْرَ لِتَأْكُلُوا۟ مِنْهُ لَحْمًا طَرِيًّا

اوهغه دی چې سیند یې ستاسو لپاره مسخر کړ څو چې دکبانو له تازه غوښې نه ګټه واخلی (النحل 14).

دغه راز دکهف دسورې له ۶۰ نه تر۶۳ آیتونه هم په اوږدوسفرونو کې زموږپام دکب دغوښې خوړولو ته راګرځوی.

کله چې موسی (ع) له خپل همسفر سره کب دخپلو خوړو لپاره له ځان سره اخستی ؤ ، نو الله پاک دکب دخوړو ارزښت موږ ته څرګندوی . کله چې دکب غذایی خواص مطالعه کړو ډېر عجیب حقیقتونه راته څرګندېږی کب چې یو الهی عطیه ده یوه بشپړه غذا ده دپروټینو اویټامین ډی اودلږو میکرونوټرینټونو (Micro-nutrients) څخه چې دژوندانه دبهیر لپاره اړین وی برخمن دی. دمنرالونو موجودیت لکه فاسفورس ،سلفراواناډیم دچټکې ودې اورغېدو لامل ګرځی. دماهی غوښه غاښونه او اوری ساتی اوویټنانو ته ځواک وربښی اودمیکروبونو پروړاندې مبارزه کوی. دوینې کلسترول تنظیموی اود زړه ناروغیو څخه مخنیوی کوی . عضویت په دې توانوی څو چې نشایسته اووازده تجزیه کړی اودلوړې انرژی مواد ترې جوړوی . دکب غوښه دماغې دندې ښې کوی اوهډوکی ځواکمنوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خبره له پخوا شته چې وایي:کب ددماغ لپاره ګټور دی اودا دکب په غوړو کې داومیګاه ۳د شتون له کبله دی .
د امریکې روغتیایی ټولنې څېړنې جوتوی چې د زړه حملې په هغو ښځو کې چې په اونۍ کې یو ځل دکب غوښه خوری یو پردرې لږوی. اومهم عامل یې همغه اومیګاه ۳ دی چې کلسټرول اوټرای ګلیسراید تنظیموی اوهم په رګونو کې دوینې له ټینګیدو څخه مخنیوی کوی . په وریدونو کې دوینې دبهیر چټکتیا ۶۰ کیلومتره پر ساعت ده اودغه چټکتیا هغه وخت نارمل وی چې غلظت ، لزوجیت اودوینې کچه هم نورمالوی.
اومېګا ۳ دهیمو ګلوبینو په جوړیدو کې چې ټول بدن ته داکسیجن دلېږد دنده په غاړه لری هم مهم رول لری.
دغه راز اومېګا ۳ دمورپه رحم کې دماشوم ودې ته په تیره بیا دهغه اعصابو اودماغ ته ډیر ګټور دی.
ثابته شوې چې اومیګا ۳ د مفصلونو د پړسوب مخنیوی هم کوی.
دغه راز دعصبی او عقلی ناروغیو ، خپګان ، اروایی دباو ،ډار ، بې خوبی لېونتوب اودالزهایمرناروغۍ لپاره هم ګټور کېدای شی.
جاپانیان اودهغو هیوادو خلک چې ډیره دکب غوښه خوری لږ دزړه اوپوستکی په ناروغیو اخته کېږی.
دکب دغوښې ګټې لانورې هم موندل کېږی اوله دې نه جوتېږې چې ولې پاک قرآن دهغه خوړل ښه ګڼلی ، اودا الله (ج) دی چې داسې خواړه یې پیداکړی دی.

## د خوك د غوښې روغتیایی زیانونه

دمړه شوی (مردار) غوښه ، دخوک وینه اوغوښه یې پرتاسو حرامه کړه (البقره 173).

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ

دخوک غوښه ډیر زیانونه لری ، سره له دی چې نوې ټکنالوژۍ کولای شی ډیر څه سرته ورسوی خو په دی نه ده توانیدلې چې دخوک دغوښې زیان راکم کړی . خوک طبیعتا" یو مردارحیوان دی. تل له خپلوغایطه موادوسره لوبې کوی اوهغه خوری نوله همدې کبله خوک دنوروڅارویو په پرتله په خپل بدن کې ډیرې انتی بادی ګانې تولیدوی . دغه راز دودې لپاره ډیرهورمونونه دخوک په عضویت کې جوړېږی اوبیا دغه انتی بادیانې اوهورمونونه دخوک په عضلاتو کې جوړېږی. برسېره پردې دخوک دغوښې دکلسټرول اوغوړو کچه ډیره لوړه ده چې دانسان دروغتیا لپاره ډیرزیان رسوونکی وی.طب داثابته کړې چې په دخوک په غوښه کې دهورمونونو ، انتی باډیانو اوکلسټرول شتون دروغتیا لپاره ډیر زیان رسونکی دی.
دهغوناوړه اغېزې په امریکا اوجرمنی کې چې خلک هلته ډیر دخوک له غوښې ګټه اخلی ښې پېژندل شوی.
دخوک په غوښه کې بل خطر دتریچینا Trichina دچنجې شته والی دی چې دانسان په عضلو اوزړه کې ځای نیسی اودزړه ناروغی اومړینه منځته راولی ګرځه اوس کیدلای شی دغه ډول خوک وپېژندل شی خوپخوا ناشونی وو.
دغه ټول دالله دکتاب دحکمت ښوونکی دی چې دخوک غوښه یې مسلمان ته حرامه ګرځولې اودخوک دغوښې زیانونه یواځې په شلمه پیړۍ کې دپوهې په مټ موندل شوی حال داچې قران په اوومه پیړۍ کې هغه ښوولی وو.

## زیتون یوروغتیا بخښونکی نبات

زیتون داسې خواړه دی چې په قرآن کې یادشوی . ننۍ پوهې ثابته کړې چې نه یواځې یوخوندور خواړه دی بلکې دروغتیا لپاره هم یوه ګټوره منبع ده.

وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ

قسم په اینځرو اوزیتونو(التین 1).

دنور دسورې په ۳۵ آیت کې دزیتون غوړو ته مبارک خطاب شوی:

يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزیتون له مبارکې ونې نه روښانه شوی .

د "مبارک" کلمه زیتون  یو سپېڅلی اومبارک شی معرفی کوی.دزیتونو غوړی دخوړلو دډیرو ښوغوړیو څخه حسابېږی ددغو غوړو ګټې دادی:

## دزره اونورو رګونو لپاره یی ګټې :

دزیتونو غوړی کلسترول نه لری دغه غوړی نه یواځی چې کلسترول نه لوړوی دهغه کنترول هم کوی . زیتون اومیګا ۶ هم لری . څېړنو ښودلې کله چې یو څوک دورځې یواځې دوه کاچوغې دزیتونو غوړ وخوری نو په وجود کې به یی زیان رسوونکی کلسترول کم وی اوانتی اوکسیدایتونه به ډیروی.

زیتون داومیګا ۳ اواومیګاه ۶ تناسب ساتی اودا ډیره مهمه خبره چې ددې دواړو ترمنځ اندول وساتل شی. چې له هغه پرته به دزره ، سرطان اونورې ناروغی رامینځته شی.
دامریکې دزره انجمن توصیه کوی چې دزیتونو دغوړو خوړل داسې دی لکه چې په خوړو کې دغوړو کچه راټیټه کړی اودزړه ناروغی هم لرې کړی.

**د سرطان وقایه:**

دداخلې طب څېړنو ښودلې هغه مېرمنی چې زیتون خوری لږ دسرطان په ناروغۍ اخته کېږی .دغه راز په زیتونو کې داسې ماده شته چې دپروستات له سرطان څخه مخنیوی کوی.
داکسفور دپوهنتون څېړنو ښودلی چې زیتون دکولمو دسرطان مخنیوی هم کولای شی. زیتون دمعدې داسیدونو سره تعامل کوی اودسرطان مخنیوی په لومړی وخت کې کولای شی. دغه راز دامونډل شوی چې زیتون صفرا لړوی اوددای امین اوکسیدیز انزایم ډیروی چې دا په ښه توګه دسرطانی حجرو مخنیوی کوی.

**د مفصلونو دپړسوب وقایه :**

هغه څوک چې دزیتونو غوړ خوری دمفصلونو دالتهاب په ناروغیو نه اخته کېږی.

**د هډوکو وده:**

په شحمو کې دګډو شویو ویټامینونو لکه  A, D, EوK  د هډوکو دودې لپاره اړین دی. دزیتونو غوړی په ډیر عمرلرونکو کسانو کې ژر جذبېږی اودهډوکې دکلسیم دضایع کیدو مخنیوی کوی نو زیتون داسکلیټ په کلکوالی هم ښه اغېزه کولای شی.

**د ژر بوډاکیدو مخنیوی کوی:**

داچې په زیتونو کې شته ویټامینونه دحجرو په بیا جوړیدو کې مثبته اغېزه لری نو پوستکی تازه ساتی اودزړښت مخنیوی کوی. په زیتونو کې دډیر انتی اوکسیدانت دشته والی له کبله هم دخوړو دموادو داستقلاب مخنیوی کیږی اود بدن دانساجو دزړښت مخنیوی کوی . په زیتونو کې دویټامین E  دشته والی له کبله دبدن دحجرو خرابیدو مخینوی کېږی.

**د ماشومانو وده:**

اومیګا 6 دماشومانو دروغتیا اوودې لپاره ډیر ښه خواړه دی . دزیتون انتی اوکسیدانتونه ګټوروی په زیتونو کې دشحمی اسیدونو شته والی دحجروی غشا په جوړیدو کې مرسته کوی.
دزیتون غوړی ډیر متوازن شحم چې نامشبوع وی لکه شیدی په ځان کې لری له همدې کبله دشېدې خوړونکو لپاره ډیره ښه خواړه ګڼل کېږی. دامیدواری په بهیر کې دماشوم داعصابو دودې لامل ګرځی ، دامیندواره میندو لپاره یی دخوړو توصیه کېږی . که چېرې دزیتونو غوړی دغواله شیدوسره چې پېروی یی ټول شوی وی یوځای شی دمور دشېدوپه ځای ترې ګټه اخستلای شو.

**د وینې دفشارتنقیص:**

دداخلې طب آرشیف په ۲۰۰۰ میلادی کال کې دزیتونو پردې اغېزو پوه شو اوهغه یی مطالعه کړی دی.

**د بدن دننه غړو لپاره یی ګټې:**

دزیتونو غوړی دګېډې دپړسوب ، ټپ اوتیزابی کیدو مخنیوی کوی . دصفرا کیفیت ښه کوی ، دصفرا بهروتل آسانوی اودصفرا ډبرې مخنیوی کوی . په هغه کې دموجودو کلورایدو له امله ځیګر سره مرسته کوی چې له بدن څخه زیان لرونکی مواد دفع کړی . پردماغی شریانونو هم مثبته اغېزه کوی دګلوګوز له کنترول سره مرسته کوی اودشکرې ناروغی مخنیوی کوی.
څه ډول مو چې ولیدل پوهان په خوړو کې دزیتونو دخوړو دزیاتولو توصیه کوی. زیتون باید دهروخوړو اساسی برخه وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زړه د رګونو عملیات

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ٱلَّذِىٓ أَنقَضَ ظَهْرَكَ

آيا ستا سينه مو شرح نه کړه اوهغه بار چې ستا شايی درنه کړې وه اوچت مونه کړ (الشرح 1-3).

دژوند ددوام لپاره وينه اړين مواد دی اووينه دزړه عضلو ته درګونو له لارې چې Coronary نومېږی رسېږی. درګونو دجدار دکلکيدو په صورت کې په رګونو کې دوينې دغونډيدواوټينګېدو لامل ګرځی اوپه پايله کې په سينه کې ددرد لامل ګرځی اودزړه حملی مينځته راوړی.
"الم نشرح لک صدرک" ممکنه ده چې درګونو دپاکولو دعملياتو په ماناوی (والله اعلم). ځکه "نشرح" يعنی دغوښې يا دمشابې شيانو پرې کول يا پراخول. دزړه په عملياتو کې هم سينه څيرې کېږی اودرګونو بندښت لرې کېږی اوپراخېږی څوچې وينه په آسانی سره وبهېږی . اومهمه داده چې دالشرح دسروې په تعقيب بيا دالتين سوره راغلې. دالتين په سوره کې دزيتونو په اهميت ټينګار شوی چې هغه ددزړه اورګونو لپاره ډېر اهميت لری.

## د خوځښت ، وينځلو اوڅښلو روغتيايی ګټې

په قرانکريم کې مودې ته پام کېږی چې ايوب (ع) ته دناروغی په وخت کې داسې توصيه کېږی:

وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلشَّيْطَٰنُ
بِنُصْبٍ وَعَذَابٍ ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ هَٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ

اوياد کړه زما بنده ايوب کله چې يی درب دربارته عرض وکړ چې شيطان زه په کلک زحمت اوعذاب کې اچولی يم .(هغه ته مو وويل) پښه پرځمکه ووهه دا سړې اوبه د غسل اودڅښلو لپاره دی. ( ص 41-42).

الله (ج) ايوب (ع ) ته دناروغی په وخت کې توصيه کوی چې پښې ووهه چې اشاره همغه ورزش يا سپورت ته ده . دسپورت له کبله په تيره بيا دپښو دخوځښت له کبله دوينی بهير ښه کېږی اوپه کافی کچه اکسيجن دوجود حجراتو ته رسېږی . نو شخص ځواکمنېږی اوآسانی سره مضره مواد له خپله ځان څخه لرې کوی. دميکروبونو په وړاندې مقاومت زياتېږی . هغه خلک چې سپورت کوی پاک اوپراخ رګونه لری چې دا درګونو دبنديدو مخنيوی کوی اودزړه اونورو ناروغيو مخنيوی کوی.
منظم سپورت دشکر ، ځيګر ، دوينو دغوړو ، اسکليتی ناروغيو اودنورو ناروغيو دوقايی لپاره ډېر ګټوروی . په لوڅو پښو تګ لکه دبرېښنايی توکو(Earth line) دآرت کرښه دبرېښنا بهير چې په وجود کې ذخيره شوی وی آزادوی. دځان وينځل هم په بدن کې دذخيره شوې برېښنا دآزادولو لامل ګرځی چې وروسته بيا دارواېی دباو دپوستکو دناروغيو زړه تنګوالی اوتبې دله مېنځه تلو لامل ګرځی.
داوبو څښل دټول ځان لپاره ګټور وی دبدن دنورو غړو فعاليت لکه ګېډه ،کولمې ، پښتورګی اوپوستکی نيغه په نيغه دهغو اوبو سره اړيکه لری چې موږ يی دورځی څښو. دغو غړو پوری اړونده ناروغی له ورځنی عادت نه ډېر داوبو څښلو ته اړتيا لری . برسيره پردې ستومانی اوګنګس توب هم داوبو په څښلو رفع کېږی.
ددغو دريو توصيو عملی کول زموږ دروغتيا لپاره ډېر ګټور دی . الله (ج) فرمايی:

وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ

هغه څه مو چې په قرآن کې راولېږل هغه رحمت اوشفا ده لپاره دمؤمنانو(الاسراء 83).

## مکروسکوپيك ژوند

هغه څه يی پيدا کړل چې نه پوهېږی (النحل 8).

وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ

سُبْحَٰنَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلْأَزْوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلْأَرْضُ وَمِنْ أَنفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک دی هغه چې هرڅه یی جفت پیدا کړل ، څه نبات ، انسان اوڅه هغه څه چې نه پوهیږی(یس 36).

دغه آیتونه هغو ژووته اشاره کوی چې خلکو دقران دنزول په وخت کې نه پېژاندل . کله چې میکروسکوپ جوړ شو انسانان دډیرو وړو موجوداتو په لیدو بریالی شول چې مخکې یی هغه نه پېژندل .په داسې حال کې چې الله (ج) په سلګونو کاله مخکې دهغوی پام ورته راګرځولی وو.
دمیکروسکوپیکو ژوو شمېره شل ځلې دهغو ژوو څخه زیاته ده چې د ځمکې پرمخ شته. داعبارت دی له باکتریاګانو ، ویروسونو ،الجی اوفنجی ، پرازیتونو ، ریکتسیا ، اکارینا اونوروڅخه. ددغو موجودیت نه یواځې داچې دناروغیو لامل ګرځی بلکې دژوندانه دتوازن دساتنې لپاره هم ارزښتاک وی . لکه فنجی ګان چې له خاورونه دمنرالودلېږد په برخه کې دنباتاتو په ریښه کې مهمه ونده لری . زموږ په ژبه کې موجودې باکتریاوی په غوښه اونورو سبوکې دزهرجنو موادو مخنیوی کوی . ځینې باکتریاوی اوفنجی دفوتو سنتېز په عملیه کې چې دځمکې دژوند لپاره اړین وی مرسته کوی . ځېنې اکارینااوی عضوی مواد تجزیه کوی دنباتاتو لپاره یی په غذایی موادو بدلوی. اوپه دې ټولو خبرو موږ اوس اوس پوه شوی یو حال داچې قرآن کریم په سلګونه کاله مخکې هغو ته اشاره کړې ده.

## د حیواناتو(ژوو) ټولنې

وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا طَٰٓئِرٖ يَطِيرُ بِجَنَاحَيۡهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمۡثَالُكُم

په ځمکه کې نشته هېڅ یو خوځېدونکی اونه هم الوتونکی چې والوزی په وزرنومګر لکه ستاسو د ټولنو په شان
(الانعام 38).

د حیوان پېژندنې دنوې پوهې په رڼاکې پوهېږو چې ټول ځاروی اوالوتونکی په ټولنو کې ژوند کوی .ډیرو مطالعو ښودلې چې دحیواناتو په منځ کې ځانګړی نظام شتون لری.
لکه دشاتو موچۍ چې دهغو ټولنیز ژوند پوهان حیران کړی دی ، خپله ځاله داسې دونو په سوریو اونورو ځایو کې پټوی چې ډیره ځانګړې بڼه لری . دمچیو ټولنه له ملکې څو سوه نارینه مچیو اوله څوسوو نه تر اتیا زره کارکوونکو پورې جوړه شوی وی. دملکې دنده هګۍ اچونه اوهداسې مواد افراز وی چې دټولنې یووالی ساتی . دنارینه وو دنده یواځې دملکې القاح کول وی نورکارونه لکه دکورجوړول ، دکندو جوړول ، ځای پاکونه ، دخوړو ټولونه ، له ځالې دفاع اونور دکارکونکودنده وی.
مېږیان هم دمنظمو ټولنو درلودنکی وی : لکه ټکنالوژی ، حشر یا ګډکار ، پوځی ستراتیژی ، پرمختللی ارتباطی اړیکې یا کمونېکیشن Communication, دمراتبو سلسله, مقررات او پلان جوړونه. مېږیان په ټولنه یا Colony کې ژوند کوی اودانسانانو په څېر مشابه مدنیت لری.
مېږیان خواړه مومی ، توښه کوی یی دماشومانو ساتنه کوی ، اوددښمن په وړاندې جګړه کوی . ددوی ځېنې ټولنې کالی ګنډی ، کرنه کوی داړیکو ډیره څواکمنه شبکه لری . دمېږیانو ټولنیز نظام د نورو ژووپه پرتله ډیر اوچت دی. دالوتونکو ټولنې هم دخطر په وخت کې ګډ عمل سرته رسوی . کله چې یوه ډله الوتونکی ځنګله ته ننوځی هلته کوچنی الوتونکی یو ډول غږ کوی چې دسیمې نورو الوتونکی پرې خبرېږی .
دالوتونکو ډله ییزه الوتنه هم ددوی دامن لپاره وی ، لکه یوه ډله الوتونکی چې په څېاره ډول الوځی دباز په لیدو سره یوبل ته نږدې کېږی. شبدې لرونکی هم دخطر دلیدو په وخت کې په ډله ییزه توګه په داسې حال کې چې خپل کوچنی یی په مینځ کې ساتلی وی تک کوی . دولفین هم له دښمن نه دتېښتې په وخت ډله ییز عمل کوی.
دځارویو اوالوتونکو بېشمېره بېلګې شته چې لاهم پېژندل شوی نه دی . اودغه موضوع ګانې وروسته له ډېرو څېړنو څرګندې شوی خو بیاهم وینی چې قرآن عظیم الشان هغه ډېر پخوا بیان کړی .

## له حیات نه تقلید: د طرحو لپاره د ژوو له جوړښت نه الهام اخستل

وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗ

اوستاسو لپاره په اهلی حیواناتو کې عبرت دی (النمل 66 و المؤمنون 21).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان مخکې له دی چې څه شی جوړکړي په نړۍ کې شتو موجوداتو ته کوری دهغوی خانګړنی څېړی اوله هغو څخه په تقلید خپل دنظروړشیان جوړوی اوله دې لاری خپله ټکنالوژی دبشردچوپړ لپاره کاروی. په پورتنی آیت کې دعبرت کلمه دزده کړې ، پند مشورې اهمیت اونمونې په مانا ده . بیو متریک هغه اصطلاح ده چې له طبیعت نه دتقلید پربنسټ جوړه شوې. پوهان اړتیا لری چې د Robot یامصنوعی خوځیدونکی دجوړیدو لپاره له طبیعی جوړښت نه تقلید وکړی.
جنین بنیوس په مونتانا کې دلومړی ځل لپاره دبیو متریک نظریه په هکله خبرې وکړې اوبیا نورو پوهانو هغه ته پراختیا ورکړه.
له طبیعی حیات نه تقلید دبیو متری په نامه یادېږی . پوهانو په چټکۍ سره دغې پوهې ته وده ورکړې اوپه دې توګه یی ډیر ښه شیان جوړکړی دی . دحیات دتقلید په هکله یوه ورځپانه داسې لیکی : له طبیعت نه په تقلید سره موږ کولای شو له هغه څه نه چې لرو یی هم پاییدونکی ټکنالوژی جوړه کړو. جنین بیوس لاندې بېلګې یادوی:
مچ خوړونکی مرغه دمکسیکو خلیج ددرې ګرامو محروقاتو په مصرف وهی.
بمبیرک څرخ لرونکی ملخ له ډیرې ښې څرخی الوتکې نه هم خپل عملیات په ښه توګه ترسره کوی.

– دوینې ( موریانه ) دتودوخې اوهوایی تهویی سیستم دانسانانو له لوری دجوړو شوو وسیلو څخه ډیر ښه اودانرژۍ په لږ مصرف کارکوی.
– دآسمان ځکالی (خفاش) ټرانسمیتر له ډیرو ځواکمنو رادارونو نه هم ښه کارکوی.
– جلبک یا درناچینجې له بېلابېلو کیمیاوی موادوسره یوځای کېږی څو چې ځان روښانه کړی.
– دشمال سمندر کبان اوچونګښې په ژمې کې کنګل کېږی اوپه دوبی کې بیا فعالېږی اوخپل عضویت له سرو نه ساتی.
– خړتمی یا بوقلمون (فیل مرغ ) اویو ډول کب دځان رنګ محیط سره برابروی.
- دشاتو موچې ، شمشتی یا کیشو ، اوالوتونکی پرته له دې چې ځان سره نقشه ولری خپله لاره مومی.
– نهنګان اوپنګوینونه پرته له دې چې ځان سره داکسیجن ماسک ولری داوبو لاندې تګ کوی.

موږ یو څو حیرانوونکی طبیعی بېلګې یادې کړی داهغه بېلګې دی چې دټکنالوژ یکې طرحو لپاره الهام ښښونکې وی. اوزموږ دپوهې دودې اولوړیدو لامل ګرځی.
ټول ځاروی داسې ځانګړنې لری چې انسان په تعجب کې اچوی څښنې داسې وی چې په آسانی سره په اوبو کې تګ کوی ، څښنې نورداسې حواس لری چې زموږ لپاره دباور وړنه دی .په دې ټولو ځانګړنو په دې وروستیو کې پوهان پوه شوی . دکمپیوټر ، انجینری ، برېښنا ، الکترونیک ، ریاضی ، فزیک ، کیمااود بیالوژۍ څانګې پوهان سره یوځای شوی څو چې دیو ژوندی بېلګې نه تقلید وکړی.
دهغه څه په هکله چې ورځ په ورځ دژوو په هکله کشفېږی پوهان حیران شوی دی اوغواړی له هغو الهام واخلی او دبشر دخدمت لپاره نوې ټکنالوژی جوړه کړی. دې ته په پام سره چې کارول شوی تخنیکونه په ژوو کې ډیربشپړدی په راتلونکی کې به وګوری څو په لږې انرژۍ اوکارسره نورې پرمختللې ټکنالوژی هم رامېنځته شی.
جنین بینوس وایی: "دطبیعت په څېر عمل کول موږ په دې توانوی چې دکرنې په تګلاره دناروغیو ددرملنې ، دانرژۍ دمصرف دمعلوماتو دساتلو اوسوداګری په چاروکې نورې پرمختیاوې ترلاسه کړو.".
په نولسمه پېړۍ کې دهنر ،ښایست او انځورتقلید له طبیعت څخه کیدو خو نورې ځانګړنې یی په شلمه پېړی کې څرګندې شوې پوهان اوس له ژوو نه زده کړه کوی خو قرآن څوارلس پېړۍ مخکې ویلی.

## د ملخانو ډلې

له کبرونو لکه دخورو وروملخانو په څېر بهر راوځی (القمر 7).

يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ

په دې آیت کې فرمایی چې په قیامت کې خلک داسې سرونه له کبرونو راباسی لکه ملخان چې سرونه رواباسی اوخورېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دملخانو په هکله د ډیرو کوچنیو کمروله لارې ډیر معلومات په شلمه پیړۍ کې ترلاسه شول . دملخانو یوه ډله دېشمېره ملخانو نه جوړه وی چې دورېځې دټوټې په څېر ښکاری اوڅوکیلومتره سور اواوږدوالی لری. دبېلګې په ډول ددښتو دملخانو څېل یوزرودوه سوه کیلومتره مربع پراخوالی لری اوله ۵۰ نه تر ۹۰ میلیارده ملخان په هرڅېل کې وی.

بل مهم ټکی دادی چې ملخان دشکو لاندې هګۍ اچوی اولاروآکان یې هلته وده کوی . ښځینه ملخ له لس ترپنځلسو سانتی مترو پوری ځمکه کینی اودېنځه نوی نه تر یوسلواتوپنځوسو پورې هګۍ په هغه کې اچوی . ښځینه ملخان درې ځلې په خپل ټول ژوند کې هګۍ اچوی . دځمکې دتودوخې په پام کې نیولو سره لاروا له لسو نه ترپنځه شپېتوورځو پورې پخېږی اوبیا وروسته ټول یوځای له ځمکې سر راپورته کوی. چې هرمترمربع زر ملخه لری . اوداچې دملخانو یوخیل ډیره ځای نیسی نو له دې کبله یې دهګې اچولو ساحه هم ډیره پراخه وی . اوپه یوه وار دومره ملخان له ځمکې سرراپورته کوی اوپه هواکې خورېږی چې عجیب ښکاری او دا پېښه مشابه له همغې پېښې سره ده چې دقیامت په ورځ انسانان له کبرونو سرراپورته کړی.

دملخانو په هکله دغه څېړنې یواځې دنوې ټکنالوژۍ په مټ ترسره شوی اودامریکې دخلایی څېړنو مرکز ناسا هم  په دې اړوند ډیرې څېړنې کړې خو قران ۱۴ پېړی مخکې دابېلګه یاد ه کړې . آیا داپه خپله دقرآن یوه معجزه نه ده؟

## د مېږیانو د اړیکو سیستم

قرآن فرمایی کله چې حضرت سلیمان (ع) له خپل لښکر سره له یوځای نه تېریده مېږیانو یو له بل سره خبرې کولې اوحضرت سلیمان په هغه پوه شو:

کله چې دمېږیانو سېمې ته ورسېدل یو مېږی وویل: ای مېږیانو ټول کورونو ته ولاړشی داسې نه چې سلیمان اولښکریی په ناپوهی سره تاسو ترپښولاندې کړی. (النمل 18).

حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمۡلُ ٱدۡخُلُواْ
مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ

دمېږیو اوسنۍ څېړنې داجوتوی چې دغه ژوی ډیر منظم ټولنیز ژوند لری اویوه ډیره مغلقه داړیکو شبکه لری ، دبېلګې په توګه ملی جغرافیه داسې رپوټ ورکوی: " یو مېږی په خپل غټ سر کې بېلابېل حواس لری چې بصری اوسمعی انګېزې اخلی اودمېږیو ټولې ټولنې ته  چې په هغه کې په میلیونونو مېږیان شته هغه لېږدوی. چې داټول ښځینه مېږیان دی ".

دمېږی دماغ نیم میلیون عصبی حجرې لری ، دمېږی سترګې مرکبې دی ، دمېږی ښاخ یا آنتن دیږې ، دګوتو دسر اودلامسې دحس پرځای کارکوی ، دخولې لاندی وتلې برخه خوند حس کوی ، ویښتان هم کله چې ورسره تماس ونیول شی له ځانه غبرګون ښیی.

مېږیان دخپلو اړیکو لپاره بیلابیلې لارې لری دوی خپل غړی تل کاروی : لکه دخوړو موندلو ، دښکارموندلو ، دکورجوړولو اوډله ییزو جګړو لپاره . ددوی په دوونه تر دریو ملی مترو پورې جسامت کې پنځه سوه زره عصبی حجرې شته چې دحیرانوونکی داړیکو دسیستم لارښوونه کوی. غبرګون دهغوی په اړیکو کې بېلابېلې ځانګې لرې: آلارمونه یا خبرداری ، په کارتوظیفول ، ساتنه ، دلاړو اودمقعد په مېنځ کې راکړه ورکړه ، ټولنیز کار ، پیژندنه ، دموقف ټاکل اونور. مېږیان چې دخپلې ټولنې له دغو غبرګونونو سره ځان تنظیموی په خپل مینځ کې دخبرونو په راکړې ورکړې سره ګډ ژوند کوی. دمعلوماتو دراکړې ورکړی لپاره کله هم داسې دقیقې اړیکې کاروی چې انسان یې په خبرو کولو نشی کولای . لکه دتولید و لپاره ، ګډولو لپاره ، پاکولو اودفاع لپاره. دمېږیانو اړیکې دکیماوی موادو له لاری تامینېږی ، دغه نیمه کیمیاوی مواد دفرومون  په نامه یادېږی چې دافرازشوو غدو اوداوریدو اوبوی کولو دحس له لاری اخستل کېږی. اودا دمېږیانو دژوند دتنظیم په برخه کې ډیر مهم رول لری ، کله چې یو مېږی یو فرومون افراز کړی بل مېږی هغه دېوزې اوخولې له لارې اخلی اودهغه مطابق غبرګون ښرګندوی.

دفرومون ډول داچې څه ډول پیغام استوی توپیر لری. دغه راز دفرومون چټکوالی دپیغام په مهم والی پورې اړه پیداکوی . له دې نه ښکارې چې  مېږی باید دکیمیا دپوهې په اړوند کره معلومات ولری څوچې یو دبل په منظورپوه شی اودادقرآن عظیم الشان بله معجزه ده چې په سل ګونه کاله مخکې یې بیان کړې خو ساینس اوس پرې پوه شوی دی.

## د خوړو دوران

إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ

الله دانه اوهسته سوری کوی اوله مړې نه ژوندی اوله ژوندی نه مړی پیداکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(الانعام 95).

په دې آیت کې زموږ پاملرنه دخوړو دوران ته راړول کېږی چې دقرآن دنزول په وخت کې خلک پرې نه پوهېدل. کله چې یو ژوند ی جسم مری میکروبونه په چټکۍ سره هغه تجزیه کوی ، بیا دغه مړجسم په عضوی مالیکولونو اوخاورو بدلېږی. دغه لومړنی غذایی مواد لومړی نبات بیا ژوی اوانسانان جوړوی ، که چېرې دغه دوران نه وای دځمکې په سره به ژوند ناممکنه وای.
باکتریا دمنرالونو دجوړولو اودټولو ژوو اړین غذایی موادبرابروی .هغه حیوانات اونباتات چې په ځمې کې کنګل کېږی په ټول ژمی کې دباکتریاوو له لارې خپل دخوړو توکی برابروی. دژمی په بهیر کې باکتریاوې فضله مواد له حیواناتو اوانسانانو بېلوی اوهغه په منرالونو بدلوی. نوژووی ویده اوکنګل کېږی اوکله چې په پسرلی کې راویښ شی ، ډیرشمیر خوارکی توکی تیارشوی وی . نوځرنګه چې موولیدل مړه جسمونه دژوو دتغذیی لپاره اړین دی. نو داآیت هم بل قرآنی علمی اعجاز ګڼل کېږی.

## په خوب کې د غوږونو فعالیت

فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ فِى ٱلْكَهْفِ سِنِينَ عَدَدًا

بیا دځو کلونو لپاره مو ددوی غوږونه بند کړل (الکهف 11).

ددې آیت مفهوم دادی چې هرکله دکهف اصحاب ویده شول ددوی غوږونه دالله (ج) له لوری وتړل شول ځو چې غږ وانه وری . له دې نه چې دلته یواځې داوریدو حس باندې ټینګار شوی له ځانګړی اهمیت څخه برخمن دی .
نویو څېړنو ښودلې چې دغوږو آخذه دخوب په وخت کې هم فعاله وی له همدې کبله دویښېدو لپاره له زنګ لرونکی ګړی څخه کاراخلو.
ددوی غوږونه یی بند کړل چې په کلوکلوهم له خوبه اوچت نه شی.

## د خوب په وخت کې د خوځښت اهمیت

وَتَحْسَبُهُمْ أَيْقَاظًا وَهُمْ رُقُودٌ وَنُقَلِّبُهُمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ وَذَاتَ ٱلشِّمَالِ

هغوی مو ویښ وګڼل په داسې حال کې چې هغوی ټول ویده وواوموږ هغوی پر ښی اړخ اوکیڼ اړخ اړول رااړول(الکهف 18).

دغه آیت د اصحب کهف په هکله دی چې درې سوه کاله دغره په یوه سوری کې ویده شوی وو. الله (ج) فرمایی چې هغوی یی ښی لوراوکین لورته اړول راړول ، ددې موضوع اهمیت په دې وروستیو کې موندل شوی دی.
ځوک چې دډیر وخت لپاره په همدې وضیعت کې پاتې کېږی ډیری روغتیایی ستونزی به یی په برخه شی . لکه دوینی ددوران ناسموالی ، دبستر ټپ ، دوینې ټینګېدل ، اونور . کله چې یو ځوک په دوامداره توګه په یوه حال پاتې شی هغه برخه رګونه یی چې بستر سره اړیکه لری کېښودل کېږی اوکیدای شی وتړل شی ، چې په پایله کې اکسیجن اونور غذایی توکی نسج اوپوستکی ته نه رسېږی اودنسجونو دمړینې لامل ګرځی . لومړی به پوستکی له مېنځه ځی اوهرځورمره چې دوام وموی دپوستکی لاندې وازدې اوعضلې هم له مېنځه ځی . که چېر ې ددغو ټپونو درملنه ونه شی مکروب نیسی اوډیرې خطری رامینځته کوی اوآن چې دمړینې لامل ګرځی .
دهغو لپاره ډیره ښه روغتیایی وقایه دوضیعت بدلون ورکول دی . هغه ناروغان چې خپله خوځښت نه شی کولای باید دمرستندوی شخص له خوایی مرسته وشی اووروسته له هرو ددو ساعتونو له یوه اړخ نه بل اړخ ته واړول شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په شپه کې د خوځښت کمښت

وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنًا

اوشپه یی دسکون لپاره جوړه کړه(الانعام 96).

د "سکنا" عربی کلمه یعنی استراحت ، دوقفې ،وخت, دشاته تګ اوآرامښت په مانا ده . څه ډول چې الله (ج) فرمایی شپه یی دآرام اواستراحت لپاره پیداکړې . په شپه کې د دمیلاتونین Melatonin هورمون افرازېږی چې دبدن خوځښت دکراریدو ، دستوماني داعصابو دآرامښت اوخوب لامل ګرځی . دخوب په وخت کې دزړه خوځښت اوسا کښل کرارېږی دويني فشار کمېږی . سهار مهال ددغه هورمون افراز درېږی اودانسان بدن ته وېښیدل تنبیه کېږی.

دخوب په وخت کې دبدن عضلې خپلې مړې حجرې ترمیموی داځکه چې دخوب په وخت کې دانرژی مصرف لږ وی ، بدن انرژی ذخیره کوی . دمعافیتی سیستم اودبدن دودې ډېر شمېرهورمونونه هم په شپه کې افرازېږی .

دبېخوبی له کبله دمعافیت سیستم کمزوری کېږی اوشخص په آسانی سره ناروغه کېږی . که څوک پرله پسې دوه شپې ویده نه شی ښه تمرکز نه شی کولای اوډېرې تیروتنې کوی ، که څوک درې شپې پرله پسې ویده نه شی ښه فکر نه شی کولای اوخیالاتی کېږی.

(Hallucination یعنی داسې څه وینی اواوری چې اصلاًشتون نه لری ).

شپه دانسانانو اونورو ژوو لپاره داستراحت وخت وی . الله (ج) داچې شپه دآرامښت لپاره پیداکړې ده اوډېر فعالیتونه په دې وخت کې کمېږی نو ځکه دې مسالې ته اشاره کوی. په داسې حال کې چې موږ په سترګو ډېر داسې بدلون نه شو لیدلای ، دبېلګې په ډول دفوتو سنتېز عملیه په نباتاتو کې چې دلمر په راوتو سره پیلېږی . دشپې له خوا تودوخه کمېږی نباتات خولې نه کوی اواستراحت کوی . که شپه نه شی ډېر نباتات به ومری یعنی داچې شپه دنباتاتولپاره هم داستراحت اودځواک دنوی کولو وخت وی.

دمالیکولونو فعالیت هم دشپې له خوا کمېږی ، دلمر وړانګې دروځې دمالیکولونو اواتومونو دفعالیت لامل ګرځی. په تیاره کې مالیکول اواتوم لږه انرژی لری اودوړانګو په له لاسه ورکولو پیل کوی.

.

## په لوړو سیموکې د سینې انقباض

انسانان دژوند لپاره داکسیجن اودهوا فشارته اړتیا لری. له هوانه داکسیجن اخستل اودهغه رسول هوایی کېسوته په سږو کې صورت نیسی . څومره چې دیوې سیمې لوړوالی ډېر وی دهوا فشار هلته کمېږی ، له همدې کبله ساه ایستل ستونزمن کېږی اوینې ته داکسیجن رسېدل کمېږی. دسږو هوایی کېسې انقباض کوی اوتنګېږی اوموږ داسې فکر کوو چې سا نه شو اخستلای . که چېرې دبدن دارتیا لپاره دوینې داکسېجن کچه لږه وی ټېلانبلې نښې په انسان کې لکه ستومانتیا ، دسردرد ، ګنګستوب ، زړه بدوالی پیداکېږی اوناسم قضاوت له انسان نه سروهی . کله چې یوټاکلی لوړوالی ته ورسېږو په دې صورت کې دسا اخستل ناممکنه کېږی له همدې کبله په ډېرو لوړو ځایو کې داکسیجن کڅوړې اوماسک ته اړتیالرو. دسمندر له سطحې نه پنځو نه تر

وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِ

اووه نیم مترو پوری که څوک پورته ولاړشی دساایستلو دستونزو له کبله کیدای شی دکوما حالت پرې راشی. له همدې کبله په الوتکو کې داکسیجن کڅوری وی دغه راز په الوتوکو کې داسې وسیلې شته چې فشار کنټرولوی .کله چې انساجو ته اکسیجن ونه رسېږی دې حالت ته انوکسیا Anoxia وایی. د اکسیجن کموالی له درې زره نه تر څلورنیم زره متره لوړوالی نه پیلېږی ، ویل کېږی چې په دې لوړوالی کې انسان شعور له لاسه ورکوی. پوهانو دغه حقیقتونه اوس موندلی چې په لاندې آیت کې روښانه شوی.

هرڅوک چې وغواړی لاروکی یی کړی دهغه سینه تنګوی اونیسی یی داسې لکه چې دآسمان په لوری پورته کېږی(الانعام 125).

-

وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوموږ دابېلګې ددې لپاره خلکوته وایو څو پرته له پوهانو نورخوک په هغه کې فکر نه کوی (العنکبوت 43).

## د قرآن وړاندوینې

دقرآن بل اعجاز دهغو پېښو وړاندوینه ده چې کټ مټ پېښې شوی دی چې بېلګې يې دادی:

## د روم بری

دقرآن کریم په دوهم سورت کې دختیز روم بری ددې کتاب يوه وړاندوینه ده.

روم ماته وخوړه په ډیره ټیټه ځمکه کې ، اوهغوی به وروسته له دې ماتې نه له دريو نه تر نهوکلوپه موده کې بريالی شی (الروم 1-4).

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِى بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ ٱلْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِنۢ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾

دغه آیت په زېږدیز ۶۲۰ کال کې نازل شو يعنې وروسته دختیزروم ( ننی استانبول یا قسطنطنیه ) دعیسویانو له ماتې نه چې دپارسیانو له لوری يې وخوړه. کله چې رومیانو په زېږدیز ۶۱۳ کال په انتیوچ کې ماته وخوړه پارسیانو شام, سیلیسیا, تارسوس, آرمینه او بیت المقدس ترلاسه کړل. په تیره بیا دبیت المقدس له لاسه ورکول او دصلیب له مېنځه تلل رومیانو ته ډېر ستونزمن تمام شول. برسېره پردې پارسیانو ، آوارانو ، سلاوانو لمباردانو هم دروم امپراطوری ګواښوله ، له وخت نه په ګټې آوران دقسطنطنیې دیوالونو ته ورسیدل ، امپراتور هیراکلیوس فرمان ورکړ څو چې دکلیسا ګانو دټولو سرو اوسپینو زرو نه پیسې جوړې کړی چې لښکرته ورکړشی ، له دې نه چې داپیسې کافی نه وی دژېړو پیسې هم جوړې شوی . ډېرو والیانو دهراکلیوس پرضد پاڅون وکړ اونږدې وو چې قسطنطنیه سقوط وکړی . عراق, سوریه, مصر, ارمنیه , فلسطین او سلیسیا ټول دامپراطوری دله مېنځه وړلو په سوچ کې وو. خو قرآ ن وړاندوېنه وکړه چې له دريو نه ترنهو کلونو پورې به روم بیا بريالی شی. خو دعربو مشرکینو دانه منله چې داوړاندوینه به سمه وی اوحقیقت به شی. په ۶۲۲ز کال کې هیراکلیوس دپارس په وړاندې بريالیتوبونه ترلاسه کړل او ارمنیه یی ونیوله د۶۲۷ زېږدیز کال په وروستیو کې دواړه لښکر ددجلې دسیند په ختیزه برخه کې بغداد ته نږدې په جګړه اخته شول ، داځل هم پارسیانو ماته وخوړه اوڅو میاشتې وروسته پارسیانو له رومیانو سره سوله وکړه اوپه زورسره خپل هیواد ته ستانه شول.

په کال ۶۳۰ز کې دپارس دخسروپاچا په ماتې سره اودبیت المقدس په بیانیولو اودصلیب په لاسته راوړو سره په پارس باندې دروم بری په حقیقت بدل شواوڅه ډول چې قرآن وړاندوینه کړې وه له دريو نه ترنهوکلونوپوری روم په پارس غالب شو.

بل اعجاز لرونکی ټکی په دې آیت کې يو جغرافیایی مثل دی چې دهغه وخت پوهې سره د اټکل وړنه وه . رومیانو دځمکې په ډیره ټیټه برخه کې ماته وخوړه.

"ادنی الارض" په ډېرو تفسیرونو کې نږدې ژباړل شوی په داسې حالی کې چې اصلی مانای یې دځمکې ډیره ټیټه برخه ده . مفسرینو دجګړې دسیمی نږدې والی دعربو دژوندانه له سیمې سره په پام کې نیولی . حقیقت په دې کې دې چې جګړه په بحر میت کې په کال ۶۱۳ – ۶۱۴ ز کې پېښه شوې . دغه سیمه ۳۳۹ متره دسمندر له سطحې نه ټیټه ده اودځمکې پر سر ډیره ټیټه وچه ده . دبیت المقدس ښار هم دهمدی بحرالمیت سره نږدې دی . جګړه دسوریې ، فلسطین او اردن دتقاطع په ځای کی شوې اودځمکې ددې سیمې ډیر ټیټ والی يواځې اوس اوس دپرمختللو وسیلو له لاری تثبیت شوی اوهغه وخت یی په قران کې ذکر ددې الهی کلام یوه بله معجزه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فرعون د بدن ساتنه

څه ډول چې پوهېږو دمصر فرعون دخدايي دعوه درلوده ، او حضرت موسی [ع] چې د الله[ج] بنده ګی ته يی خلک رابلل ترګواښ اوتيری لاندې ونيو. اودې حال ترهغه وخته دوام وموند چې فرعون ډوبېدوه ته نږدې شوی ؤ. چې په دې وخت کې يی دفعتا" په الله[ج] ايمان راوړ اودخپل خلاصون دعايی وکړه ، خو دده توبه دمړينې په وخت کې قبوله نه شوه الله[ج] ده ته په خطاب کې وويل:

فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗ

له نن نه ( وروسته له ډوبېدو) ستا بدن دخلکو دعبرت لپاره ساتو (يونس 92).

دغه معلومات چې دفرعون جسد به وساتل شی دې ته اشاره ده چې دده جسد به نه خرابېږی . ددغه ظالم حاکم جسد وروسته له ډوبېدو ساحل ته ورسېد اومصريانو هغه موميايی کړ دغه جسد اوس هم دقاهرې په موزيم کې دخلکو دعبرت لپاره شته اوساتل کېږی.

## د مکې فتحه

لَّقَدۡ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءۡيَا بِٱلۡحَقِّۖ لَتَدۡخُلُنَّ ٱلۡمَسۡجِدَ
ٱلۡحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمۡ وَمُقَصِّرِينَ
لَا تَخَافُونَۖ فَعَلِمَ مَا لَمۡ تَعۡلَمُواْ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ
فَتۡحٗا قَرِيبًا

البته الله[ج] دخپل رسول خوب رينښتيا کړ که الله غوښتې وی مسجدالحرام ته به په امن سره ننوځی په داسې حال کې چې ( دحج لپاره) به سرونه وخريیی اويا به يی لنډ کړی له ډاره پرته. . الله[ج] پوهېږی په هغه څه چې تاسو نه پوهېږی برسېره پردې به ډېره ژر بل بری هم ولری (الفتح 27).

يو شپه حضرت محمد[ص] خوب وليد چې مؤمنان مکې ته ننوځی اودمسجدالحرام په شاوخوا راګرځی . سهار يی خپل دغه خوب مهاجرو ته ووايه. وروسته دغه آيت نازل شو او ډاډ ورکړ شو چې خوب به يی په حقيقت بدل شی . هغه وخت لا مکه نه وه فتح شوې چې وروسته له هغه په لږه موده کې دحديبيی سوله اودمکې فتح وشوه اومؤمنان مسجدالحرام ته ننوتل . الله [ج] وښوده چې دا دده اراده وه چې رسول دخدای خوب وليد.

که چېرې ځير شو دابه ومومو چې په دې آيت کې يوې بلې فتحې ته چې مخکې دمکې له فتح به واقع شی هم اشاره شوې اودا دخيبر فتح ده چې ډېر ژر وروسته دمکې له فتحې وشوه. هغه وخت خيبرکلا ديهودانو په واک کې وه چې ترې آزاده شوه.

حضرت محمد [ص] په زېږديز ۶۳۰ کال کې مکه فتح کړه اودوه کاله وروسته ټولو کفارو مکه خوشې کړه څه ډول چې الله [ج] فرمايلی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهم ټکی دلته دی چې کله  محمد [ص] ددې سوبې زېری مسلمانانو ته ورکړ ، حالات داسې وو چې هیڅا داباورو نه درلود چې مسلمانان به دومره ژر مکې ته ننوځی اوهغه به فتح کړی اوان ځینې مسلمانان چې مذبذبه ول ددې وړاند وینې په وړاندې یی شک وکړ. خو بیاهم حضرت محمد(ص) هغوی ته کومه پاملرنه ونه کړه اوالهی وحیه یی تولو ته تبلیغ کړه  . الله[ج] خپلې خبرې په عملی توګه تایید کړې اوبری ډیر ژر راغی.

## دبنی اسراییلو قوم به ډیر کبرجن شی

وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ فِى ٱلْكِتَٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى ٱلْأَرْضِ
مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيرًا ﴿٤﴾ فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ أُولَىٰهُمَا بَعَثْنَا
عَلَيْكُمْ عِبَادًا لَّنَآ أُو۟لِى بَأْسٍ شَدِيدٍ فَجَاسُوا۟ خِلَٰلَ ٱلدِّيَارِ
وَكَانَ وَعْدًا مَّفْعُولًا ﴿٥﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ ٱلْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ
وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَجَعَلْنَٰكُمْ أَكْثَرَ نَفِيرًا ﴿٦﴾

اوپه کتاب کې موبنی اسراییلو ته خبرورکړو چې تاسو به دوه ځلې په ځمکه کې فساد ته پاځېږی اوکبر اوسرکښی به کوی . کله چې لومړنی پړاو راشی کلک جګړه مار اوځواکمن بنده ګان به تاسو ته راپاڅوو څو چې ستاسې کورونه هم ولټوی اوزموږ وعده هرومرو ترسره کیدونکې ده . اوبیا تاسو دهغوی په لور راګرځوو اوپه ډیرو مالونو اواولادونو سره به ستاسو مرسته وکړو اوستاسو شمېر به ډېر کړو. (الاسراء 4-6)

په دې آیتونو کې فرمایی چې بنی اسراییل به دوه ځلې دفساد لامل شی چې هرځل به ډیر متکبره اوسرکښه شی  .ا والله [ج] به ځواکمنه قوه ددوی پرضد راواستوی . لومړی ځل کله چې یهودانو یحیی [ع] وواژه اوزیار یی وایست چې عیسی [ع] هم ووژنی ډیر کبرجن شول .خو بیا ژر په ۷۰ زیږدیز کال کې رومیانو هغوی له  بیت المقدس نه وویستل اووروسته له هغه یهودان په ټوله نړی کې تیت اوپرک اوسرګردانه شول .
ددغو آیتونو دنزول په وخت کې یهودان په بېلابېلاو سیمو کې په ډیرې خوارۍ سره ژوند کاوه له ځانه یی کوم هیواد نه درلود. الله [ج] بنی اسرائیلوته وویل چې یو ځل بیا به خپل ځواک اوتکبر ترلاسه کړی په هغه وخت کې چا دافکر نه کاوه چې داکار به ترسره شی.
وروسته له څو سوه کلونو په ۱۹۴۸ زېږدیز کال کې یهودان فلسطین ته راوګرځېدل اوداسراییلو دولت یی جوړ کړ . نن اسراییل ډیرپوځی اواقتصادی ځواک لری اوپه ډېر کبر سره یی مسلمانان اوعیسویان ځورولی . دا دبنی اسراییلو دفساد دوهمه دوره ده.
نوهغه وخت کله چې هېڅا هم فکر نه کاوه  دبنی اسراییلو قوم په داسې حال کې چې ډیر کبرجن شوی وو اوپه ځمکه کې یی فساد خور کړی وو خدای خوار اوذلیل کړ ، اودادی اوس یی په تیره سلیزه کې بیا ځواک وموند اودځمکی پرسر دفساد دخورلو سرچینه شو.

«خدای پاک قادر دی چی داسراییلو اوسنی کبر اوفساد ته هم داسې قوم راپاڅوی څه ډول یی چې پخوا راپاڅولی وو اودوی به انشاالله بیرته خوار اوذلیل کړی اوځمکه به ددوی له شر څخه پاکه کړی». ژباړن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلایی څېړنې

دانسانانو له خوا خلایی څېړنو هغه وخت پراختیا وموندله چې دلومړی ځل لپاره روسی پیلوټ یوری ګاګارین دسپوتنیک مصنوعی سپوږمکی له لاری د۱۹۵۷ کال داکتوبر په څلورمه نېټه دځمکې له فضا نه ووت . وروسته " امریکایی نیل آرمسترانګ لومړی انسان وو چې د۱۹۶۹ز کال دجولای شلمه نېټه یی دسپوږمۍ په کره قدم کېښود. په داسې حال کې چې الله (ج) دغه پرمختګ له وړاندی په قرآن کریم کې یادکړی وو.

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ

إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ

ای پیریانو اوانسانانو که کولای شی دآسمانونو اوځمکې چاپیریال ته نفوذ وکړی ، نفوذ نه شی کولای مګر په یوه ښکاره صلاحیت سره (الرحمن 33).

دسلطان کلمه چې په ښکاره صلاحیت ژباړل شوی دقوې ، ځواک ، قانون ، تکلوری ، بهروتلو ، استدلال ، ثابتولو ، حاکمیت اوسلطنت په ماناهم دی.

په دقیقی مطالعې سره پردې پوهېږو چې په دې آیت کې دځمکې اوآسمانونو په لور پرمختګ ته اشاره شوې خو په هغه صورت کې چې ښه ځواک به لری. اودغه ځواک همدغه ننی ټکنالوژی ده چې پوهان یی توانولی چې دځمکې په مینځ اوخلاکې نفوذ وکړی.

## د سپوږمۍ سفر

وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٖ

قسم په سپوږمۍ ، کله چې تمامه شی.پړاوپه پړاو به پورته شی (الانشقاق 18-19).

دسپوږمۍ له یادښت نه وروسته دپړاوپه پړاو پورته تلو یادونه شوې د "ترکبن" کلمه له مراکبې نه دپورته کیدو ، ګام پورته کولو ، تعقیب ، سورېدو ، یوځای کیدو اوحاکمیت په مانا ده ، ددې ماناو په رڼا کې امکان لری چې ددې آیت موخه دسوریدواولېږد واسطه وی.

دخلاوهلو واسطه هم پړاو په پړاو دځمکې دچاپیریال له پوړونو نه تیره شوه او دسپوږمی دجاذبې ساحې ته ورسېده. اوبیا دڅو پوړونو په وهلو سره سپوږمۍ ته ورسېده.

اوپه سپوږمۍ قسم یادول پردې ټکی ټینګار کوی یعنې چې دا آیتونه کیدای شی دسپوږمۍ پرلورسفر ته اشاره وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروفیسر آرمسترانگ  لومړنی امیریکانی خلاوهونکی چې پرسپوږمۍ یې پل کېښود وایی: په یقین سره داموضوع دساینس له اړخه ډیره ستونزمنه ده چې بیان شی ، هغه څه چې موږ ولیدل له هغه څه نه ډیر اوچت دی چې یو عادی سړی وکولای پرهغه پوه شی اوڅه پرې ولیکی.

### د لېږد رالېږد عصری وسایل

وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً ۚ وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ

آس اوکچره اوخر یې تاسوته دتجمل اوسوربدولپاره اونورشیان چې تاسو پرې نه پوهېږی خلق کړی دی. (النحل 8).

دغه آیت جوتوی چې له یادوشوو څارویو برسېره دلېږد رالېږد نوروسایل  چې دهغه وخت خلک پرې نه پوهېدل لکه موټر ، الوتکه اونوروته هم اشاره شوې . دغه بل آیت هم کیدای شی مدرنودلېږد رالېږد وسایلو لکه کښتۍ  ته په کې اشاره شوې وی:

وَآيَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ

نورې نښې ددوی لپاره دادی چې دانسان نژاد مو په کښتیوکې ولېږداوه اوهم مودهغو غوندې نور دلېږد وسایل پیداکړل (یس 41-42).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الوتکې ټکنالوژی

وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِى بِأَمْرِهِۦٓ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِى بَٰرَكْنَا فِيهَا

اوسلیمان ته مو ددې توان ورکړ چې له چټک باد سره چې دده په واکی ده دځمکې لورته حرکت وکړی اوهغه مو مبارک وګرځاوه. (الانبیا 81).

څه ډول چې آیت روښانوی الله (ج)سلیمان (ع) ته داتوان ورکړ چې له باد نه په خپل واک کې دلېږد رالېږد دوسیلې په توګه کارواخلی اوپه زیات ګومان له باد څخه دسلیمان (ع) دغه ګټه اخستنه دالوتکې دجوړولو لپاره اشاره ده.

اوباد مو دسلیمان په واک کې ورکړچې دیوې میاشتې سفر په سهارکې اویو یومیاشتنی سفر په مازدیګر کې ووهی (سبا 12).

وَلِسُلَيْمَٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ

یو میاشتنی سفر په سهار کې اویو یو میاشتنې سفر مازدیګر مهال دسلمیان (ع) ډیر چټک تګ ته اشاره ده ، په همدې توګه دغسې سفرونه نن دالوتکې له لارې چې دباد دقوی پراساس کارکوی په چټکۍ سره ممکن دی (والله اعلم).په ډیره ګومان سره پورتنی آیتونه دانسان له لارې دالوتکې اختراع ته اشاره کوی.

## د تصویر لېږد

قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ

اوهغه څوک چې په علم اوکتاب باندې پوه ؤ ویې ویل چې زه هغه ( دسبادملکې تخت) مخکې له هغه چې ستا سترګې راوګرځی راوړم (النمل 40).

څوک چې پوه ؤ سلیمان (ع) ته یی وویل چې دسبا ملکې تخت ډیر ژر دسترګو په رپ کې راوړم . دغه موضوع کیدای شی دتصویر لېږد ته اشاره وکړی چې پرننیو وسایلو یی کولای شو ترسره کړو.

نن هرلیک ، تصویراوفلم کولای شو دانترنت تلویزیون اوفاکس له لارې دڅو ثانیو په موده کې ولېږدوو اوددری بعدی تصویر لېږد هم دانترنت له لارې شونی دی.

پوهان په دی اند دی چې په راتلونکې کې به داتومونو ، مالیکولونو اوجسمونو لېږد هم ممکن شی . دا کیداشی داسې وشی چې دجسم ځانګړنې له یو ځای نه بل ځای ته واخستل شی اوبل ځای ته ولېږدول شی اوهلته به بیاوورغول شی . ددغې ټکنالوژی په بری سره به دلېږد لپاره زمان اومکان کومه مانع نه وی اوهرڅه به دڅو شېبو په موده کې هرځای ته ولېږدول شی.

په کال ۱۹۹۸ کې اروپایی پوهان اودکالفورنیا دټکنالوژی انستیتوت په دې وتوانېدل چې یو فوتون ولېږدوی . پوهان داتومی جوړښت په مطالعې سره دیو فوتون کاپی جوړه کړه اویو متری واټن ته یی ولېږدوله . دغه راز پنګ کوی لام داسترالیا دپوهنتون غړی وکولای شول چې دلایزر وړانګۍ ځای ته بدلون ورکړی. اودڅو مترو په واټن کې یی تجزیه اوبیایی جوړه کړی. پنګ کوی لام وایی: "تراوسه نه دی توانیدلی چې جسمونه پر اتومونو تجزیه کړی اوبل ځای ته یی ولېږدوی خو دغه کار به په راتلونکې کې شونی شی."

موږ خپلې نښې په افاق اوانفس کې ددنیا ښکاره کوو څو چې خلکو ته ښکاره شی چې ټول پرحقه سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ دی (فصلت 53).

دغه ټکنالوژی دهغو شیانو یوه برخه ده چې قرآن بیان کړې اودغه ټول دقرآن اعجاز دی.

## د بوی لېږد

وَلَمَّا فَصَلَتِ ٱلْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّى لَأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلَآ أَن تُفَنِّدُونِ

ځکه چې کاروان له (مصرنه ) بهرراغی پلاریی یعقوب (ع) وویل: زه دیوسف بوی مومم اوتاسو زما عقل کمزوری ګڼی (یوسف 94).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان په دې باوردي چې دتصویر په څېر دبوی لېږد هم لرو ځایو نو ته ممکن دی . دیوسف (ع) پلار وایی چې دیوسف بوی له بل ښارنه ماته رارسېږی ، پوهان وایی لکه دری بعدی تصویر په شان دبوی لېږدول هم امکان لری په همدې خاطر دغه آیت د پرمختللی تکنالوژۍ وړاندوینه کوی.

لکه زموږ نورحواس بوی هم په دماغ کې جوړېږی اوهمدلته یی تشخیص کېږی . دبېلګې په ډول دلیمو دپوستکی مالیکولونه پوزې ته رسېږی اودپوزې آخذه تحریکوی . دغه آخذې معلومات په الکترونیک ډول دماغ ته لېږدوی خو څېله دلیمو مالیکول دماغ ته نه ننوځی .بناپردې پوهان عقیده لری چې دغه ډول الکترونیکی معلومات په مصنوعی ډول هم جوړیدلای شی . یعنی دالکترونیکی پوزې دجوړیدو امکان په نږدې راتلونکې کې شونی دی.

دمسلکی کسانو پوزې تر لسو زرو ډولونو پورې بویونه احساسوی . مسلکی عطر جوړونکې دیوې کیمیاوی مادې په بویولو سل ډوله جزونه یی پېژندلای شی ، دانسان په پوزه کې دغه ډول خارق العاده جوړښت پوهان دې ته هڅولی دی چې له هغه سره یوه مشابه آله جوړه کړی.

دانسان دپوزې آخذې له پروتینو نه جوړې شوی. الکترونیکه پوزه دکیمیاوی آخذې درلودونکی وی ، هره آخذه یواځې یو ډول بوی اخستلای شی ، نو هرڅومره چې ددغې پوزې تشخیصیه قوه ډیره مصنوعی شی ، ډیروآخذوته اړتیا لری اوبیه یی هم ګرانېږی. آخذو ته رسیدونکې علامې په الکترونیکی کود بدلېږی اوکمپیوتر ته لېږدول کېږی .

دعصبی تارونو معادل الکترونیک سیستم دپوزې اودماغ ترمنځ وی اوکمپیوتر ددماغ دنده ترسره کوی . کمپیوتر داسې تنظیم شوی چې معلومات اخلی اواخستل شوی کودونه تعبیروی.

الکترونیکه پوزه ددرمل جوړولو ، خوراکی توکو ، عصرونو ، اوکیمیاوی

صنایعو دجوړولو لپاره په کارېږی.

وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ ٱلْقِطْرِ

## له برېښنا نه ګټه

اودده لپاره مو دویلې شوو مسوچینه جاری کړه (سبا 12).

دالله (ج) یو ستر نعمت دسلیمان (ع) لپاره دویلې شوو مسو چینه وه ، اودا په څو مانا ګانو تعبیریدلای شی . له ویلې شوو مسونه منظور چې روان وی کیدای شی دبرېښنا ټکنالوژی وی ، مس دبرېښنا اوتودوخې ډیر ښه لېږدونکی دی بنا پردې دبرېښنایی صنایعو بنسټ جوړوی اودجاری کولو اشاره کیدای شی دبرېښنا په مزو کې دبرېښنا بهیر ته اشاره وی. (والله اعلم).

## د ارتیزن څاه

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ ۖ فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا

او موسی (ع) ته مووحی وکړه چې په څپله لکړه ډبره ووهه بیا دولس چېنې ترې وبهېدې (الاعراف 160).

دموسی (ع) قوم له ده نه اوبه وغوښتلې اوبه دې توګه دوی ته دڅښاک اوبه تیارې شولې اودا هغه خلک وو چې داوبو له کمښت سره مخامخ ول.

داوبو قحطی اوس هم شته یو میلیارده خلک روغتیایی اوبو ته لاس رسی نه لری. اودوه نیم میلیارده خلک پرته له مناسب تشنابه ژوند تیروی ، داسې اټکل کېږی چې په دوه زره پنځه ویشتم زیږدیز کال کې به پنځه میلیارده خلک داوبو له کمښت سره مخامخ شی. هرکال دولس میلیونه خلک دابو دکمښت له کبله مړه کېږی دهغو له ډلې نه دری میلیونه یی هغه ماشومان دی چې دککړو اوبو دکارونې له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دځمکې لاندې اوبه دلويو ذخيرو په توګه ۹۰ په سلوکې داوبو زېرمې جوړوی له دې کبله ډېرې مهمې دی اودنړۍ ددوومیلیاردو انسانانو اړتیاوې پوره کوی . په منځنۍ توګه په امریکا کې پنځوس په سلوکې په ښارونو اوپنځه نوی په سلوکې په کليو کې دڅښاک اوبه دځمکې لاندې سرچينو څخه لاسته راځی ، برسېره پردې ددې اوبو له طبيعی حرارت نه ګټه اخستنه د تودوخې دانرژۍ لګښت راکموی.

کله چې اوبه خاورته جذبېږی داسې ځای ته رسېږی چې نور ښکته نه شی تلای هلته سره ټولېږی اوداوبو زیرمې جوړوی . دغه اوبه د ارتيزين Artesian څاه له لارې دځمکې سرته رسېږی ، دارتېزن چینې درسوبې ډېرو له لارې چې دځمکې لاندې اوبه زېرمه کوی جوړېږی.

دا حقيقت چې دارتيزن څاه ګانې له ډېرينو سميو نه لاسته راځی دقرآن آيت په دې اړوند ورته مطلب بيانوی . کله چې الله (ج) موسی (ع) ته امر وکړ چې خپله لکړه په ډېره ووهه داوبو دلاسته راوړلو دې طريقې ته اشاره ده (و الله اعلم). د اضرب کلمه دوهلو ، پورته کولو اوخلاصولو په مانا ده. نو ددې آيت مانا داهم کيدای شی چې اوبه کولای شی دلکړې له لارې دډېرې په اوچتولو سره جاری شوې. اواوبه په فشار سره دباندې راووتې ( دانجست کلمه ) دانجست دتوییدو ، بهیدو ، جاری کیدو په مانا ده چې دارتېزن څاه کې هم همدا ډول بهيرسرته رسېږی. کله چې پوره فشاروی اوبه پرته داوبو له پمپه بهيږی.

مهم ټکی دادی چې په اوسنی عصر کې داوبو دکمښت دمخنيوی لپاره دځمکې لاندې اوبو څخه ګټه اخستل کېږی اوګټوره لاره يې همدا دارتيزن څاه ده يعنی موږ په داسې حال کې چې نه پوهېږو دموسی (ع) په طريقه روان يو.داعراف دسورې ۱۶۰ آيت دارتيزن څاه ته اشاره لری چې په کال ۱۱۲۶ زېږديز کې لومړی ځل په فرانسه کې له هغه نه ګټه واخستل شوه.

## په ټکنالوژۍ کې د مېږيانو لښکر




څو چې د مېږيو وادی ته ورسېدل ، يو ه مېږی نوروته وويل چې ای مېږيانو ټول خپلو کورونو ته ننوځی داسې نه چې دسليمان لښکر تاسو په ناپوهی سره ترپښو لاندې کړی. (النمل ۱۸).

دمېږيو وادی دمشخصو مېږيو ځانګړې ځای ته اشاره کوی برسېره پردی دمېږيو پرخبروباندې دسليمان (ع) پوهيدل په ټکنالوژۍ کې يوه بله وړاندوينه ده. دنړۍ دټکنالوژۍ مرکز دسليکان دوادی Silicon valley په نامه يادېږی . په زړه پوری ده چې دسليمان (ع) په وخت کې دمېږيو له وادی نه خبرې کېږی ، کيدای شی الله (ج) زموږ پاملرنه په راتلونکې کې دټکنالوژۍ پرمختګ ته راګرځولی وی.

دمېږی اونورو ژوو ماډل په مصنوعی روبات Robot کې هم په ډېره کچه کارول کېږی. دمېږی دماډل ښه بېلګه د مصنوعی مېږيودلښکر پروژه ده چې دنړۍ په بېلابېلو هيوادونو کې شته. دامريکې دويرجينيا پوهنتون پوهان په دې هڅه کې دی څو چې دمصنوعی کوچنيوژوو لښکر چې ارزانه اوآسانه وی جوړ کړی ، دغه پروژه چې په رسمی ډول پرمخ بېول کېږی داسې روښانوی: "دغه مصنوعی ژوی په ډېيزه توګه هوډ کوی اوکړنه سرته رسوی.ددغو ژوو برېښنايی اوميخانيکی جوړښت دمېږيو دټولنې دکارډډول له مخې جوړه شوې دغه لښکر دمصنوعی مېږيو Army-Ant Robot په نامه يادېږی".

په لومړی سرکې دغه لښکر دلېږد رالېږد لپاره جوړشوی وو ، هغوی دنده لری څو چې په اتفاق سره يودروند شی له يوه ځای نه بل ځای ته ولېږدوی اووروسته څرګنده شوه چې دنورو دندو لپاره هم کارترې اخستل کيدای شی.دبېلګې په ډول په لاندې کارونو کې کارترې اخستل کيدای شی:

- دهستوی انرژۍ پاکول او له هغه نه دفضله موادو لرې کول.
- ماين اېښودنه
- ماين پاکونه
- دسيارو له سطحې نه څېړنه
- ساتنه يا پهره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسرائیل واگنر په دې هکله داسې وایی: "مصنوعی مېږیان ساده مخلوقات دی چې دیوه کنټرول کوونکی له لاری اوهم مخکی له مخکې دپروګرام ورکولو له لارې نه تنظیمېږی اوورکړشوی دندې سرته رسوی. دریمه لار داده چې دغه مېږیان داسې جوړېږی چې یو له بل سره دهمکاری حس ولری اوپرته له مخکینی پروګرام نه یوله بل سره کاروکړی. په بېلابېلو اړخونو کې په دې اړوند څېړنې دوام لری اودغه مخلوقات بېلابېل کارونه لکه دکورونو ، پاکونه دماین پاکونه او هم نورو سیارو کې څېړنې سرته رسولی شی ".

دبېلګې په ډول مو ولیدل چې دمېږیانو ټولنیز ژوند دننیوډېرو پروژو بنسټ جوړوی . له همدې کبله الله (ج) دمېږیو دوادی موضوع په قرآن کې یاده کړې ده. دمېږیونوم اخستنه کیدای شی دې ته اشاره وی چې انسانان دهغوی ژوندانه ته په پام سره ټکنالوژی جوړه کړی (و الله اعلم).

## اتومی انرژی اوانشقاق

إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلْحَبِّ وَٱلنَّوَىٰ ۖ يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ ٱلْمَيِّتِ مِنَ ٱلْحَيِّ ۚ

الله (ج) دانه او هسته بېلوی اوژوندی له مړی اومړی له ژوندی نه راباسی. (الانعام ۹۵).

د حب (دانه) بېلول یا سوری کول اود نوی (هسته) کیدای شی داتوم انشقاق ته اشاره وی. دنوی عربی کلمه دهستې مرکز اوداتوم دهستې په ماناده . برسېره پردې دغه موضوع له ژوندی نه دمړی راویستل او دهغه برعکس کیدای شی دې ته اشاره وی چې الله (ج) انرژی له مادې نه اوماده له انرژۍ نه مینځ ته راوړی. له ژوندی منظور ماده ده او له مړی منظور انرژی ده ځکه دې مادې په مینځ کې اتومونه اواجزاوی یی دی ځکه په خوځښت کې وی اوانرژی خو خپله په خپل مېنځ کې خوځښت نه لری. پوهان انرژی دکارکولو دځواک په مانا پېژنی . ټول مواد له مالیکولونو جوړ دی اومالیکولونه له اتوم نه جوړشوی چې خوځښت یی کولای شو ترالکترونیکی میکروسکوب لاندې ووینو . دشلمې زیدیزې پېړۍ په لومړیو کې البرت اینیشتین نظر ورکړ چې ماده په انرژۍ بدلېدلی شی اووی ویل چې ماده اوانرژی داتوم په سطح یو له بل سره اړېکې لری . نو له مړی نه دژوندی راویستل کیدای شی له مادې نه دانرژی راویستل وی.

اوس پوهان کولای شی چې اتوم اوهسته یی ماته کړی ، دانشتین له فرضېې څخه په الهام اخستلو پوهان وتوانیدل چې هسته شق کړی او له هغه نه ډیره انرژی آزاده کړی . دفالق کلمه دهستې دشق کولوپه مانا ده چې له کبله یی ډیره انرژی لاسته راځی .

دالانعام دسورې د ۹۵ آیت ټاکنه ډیره په پوهې سره شوی اوکیدای شی دا به اتومی چاودونو اودانرژی نه ګټې اخستنې ته اشاره وی. (و الله اعلم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن تاريخی اعجاز

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هامان او د مصر اهرام

قرآن د موسی(ع) دژوند په هکله مفصل توضیحات لری ، دفرعون او بنی اسراییلو دښمنیو ته په اشارې سره دمصر په هکله هم معتبر معلومات وړاندې کوی. ددغو معلوماتو ډیری اهمیت په دی وروستیو کې څرګند شوی. دقرآن دحکمت یوه بېلګه په دې کتاب کې دهامان یادښت دی دده نوم شپږ ځلی دفرعون دنږدې کسانو په توګه یادشوی. دحیرانی ځای دادی چې په تورات کې د موسی(ع) دکیسې په هیڅ ځای کې هم دهامان یادښت نه شو موندلی. یوهامان نومی ډیر وروسته له فرعون نه یعنی دموسی (ع) له زمانې نه یوزروسل کاله وروسته په عهد عتیق کې دبابل دیوه پاچا دمرستیاالانو له ډلې نه هم یو څوک دی . خو قرآن له نویو موندنو سره په یوه ژبه له هامان نه دموسی(ع) په عصر کې یادونه کوی. دنامسلمانانو نیوکه پردې ده چې ولې د تورات اوقرآن اوعهد عتیق په مېنځ کې دغه اختلاف شته خو دوه سوه کاله مخکې دهروغلیف دلیکنې په لوستلو سره دغه ادعا ناسمه ثابته شوه ، داځکه چې دهامان نوم په مخکینو کتیبو کې وموندل شو . تر اتلسمې زېدیزې پېړۍ پوری مصری لیک چې له تورو نه بلکې دځېرو له انځورونو جوړشوی ؤ دلوستلو وړ نه ؤ ، دهروغلیف دلیک تصویرونه چې دمهمو تاریخی پېښو ثبتونکی دی په ډېرو باندی کښل شوی . په دویمه اودریمه زیږدیزه پېړۍ کې دعیسویت خپرېدل دپخوانیو عقیدو اودهیروغلیف دلیک دهېرېدو لامل شو. دهیروغلیف دلیک وروستی بېلګې په کال ۳۹۴ زېدیز کې لیکل شوی ، په پایله کې لرغون پېژندونکو ته تر اتلسمې پېړۍ پورې پر تاریخ اولیکل شویو معلوماتوپوهیدل ناشونی وو. په کال ۱۷۹۹ زېدیز کې دروزیتا ستون Rosetta Stone په نامه دیوې ډبرې په موندلو سره دهیروغلیف معما حل شوه .دغه ډبره په ۱۶۹ مخکې له میلاده پورې اړه لری. ددې ډبرې اهمیت په دې کې دی چې په درې ډوله لیک یعنی هیروغلیف ، دموتیک او یونانی باندې اغل شوې. نو دمصردغه پخوانی توری دیونانی تورو په مرسته وپېژندل شول. دهیروغلیف ژباړه دیوه فرانسوی ژبپوه ژان فرانسوا شمپولیون له خوا بشپړه شوه. په دې توګه دتاریخ ، دینونو ، دپخوانیو مصریانو اود ټولنیزژوندانه په هکله ډیر معلومات په لاس راغلل.

لرغون پېژندنکیو دهروغلیف په لوستلو سره دهامان نوم دمصر په پخوانیو کتیبو کې وموند. دغه کتیبه دویانا دهوف په موزیم کې شته چې دفرعون اوهامان ترمېنځ نږدې اړیکې بیانوی . دلغاتو په فرهنګ کې چې «خلک په نوی سلطنت کې» نوم لری هامان دډبرو توګولو(سنګتراشی) دکارکونکو دمشر په توګه یاد شوی. چې دغو څېړنو دقرآن دمخالفینو نظر رد کړ. هامان داسې څوک وو چې په مصر کې یی دموسی (ع) په زمانه کې له فرعون سره یوځای ژوندکاوه اوله فرعون سره نږدې وو اوتعمیراتی کارونو کې دخیل وو.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى فَأَوْقِدْ
لِى يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّى لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ

اوفرعون وویل ای زما دقوم مشرانو هیڅوک پرته له ځانه خدای نه ګنم ای هامانه اور پرخټه بل کړه اوزما لپاره یو لوړبرج جوړ کړه څو چې دموسی له خدایه خبرشم اوزه هغه دروغجن بولم
(القصص ۳۸).

په دې آیت کې فرعون له هامان څخه غواړی چې یو لوړ برج جوړ کړی چې تاریخی موندنې د قران له دې وینا سره اړخ لګوی ، او په دې موندنو سره دقرآن د مخالفینو نظر به بشپړه توګه رد شو.

## موسی(ع) او د سمندردوه ځایه کول

دمصر پاچایانو ته هغه وخت فرعون ویل کیدل چې خلکو په خپلو عقیدو کې هغوی خدایان ګڼل. کله چې هغو اوهام پرستیو کې خلک غرق ول ، الله(ج) دخلکو دهدایت اودبنی اسراییلو دخلاصون لپاره موسی(ع) راولېږه. فرعون او دمصر قاضیانو اوټولو خلکو دموسی (ع) نظر رد کړ چې هغوی یی دیوه الله بنده ګې ته رابلل. خو هغوی موسی لیونی ، جادوګر اودروغجن وباله اوخپل ظلم یی دبنی اسراییلو پرقوم لاډیر کړ. د الله (ج) خدایی یی ونه منله او موسی(ع) یی شوم اودمصر دمصیبتونو لامل وګاڼه ، له همدې کبله یی هوډ وکړ چې هغه یا ووژنی یا یی له مصرڅخه دباندی وباسی.

څه ډول چې قرآن فرمایی دبنی اسراییلو قوم تښتی اودفرعون لښکر یی تعقیبوی اونږدې وو چې له سیند سره ونیول شی. .

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library




فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ ﴿٦١﴾ قَالَ
كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب
بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٦٣﴾
وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾
ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾

اوهغوی یی دختیزلوری ته تعقیب کړل . بیا دموسی دوستان وډار شول او وی ویل اوس به هلاک شو . موسی وویل هیڅکله هم نه بلکې زموږ رب به موږ ته لارښوونه وکړی .بیا مو موسی ته وحی ولېږله چې خپله لکړه په سیند ووهه سیند دوه ځایه شو اواوبه یی دوو خواووته لکه سترغر پورته شوې . اونور مو هم دهغه لورته راوستل نوموسی اوملګروته مو خلاصون ورکړاونورچې دوی یی تعقیبول ټول مو غرق کړل (الشعرا 60-66).

په دې اړه دفرعون دزمانې له کتیبې نه لاندې معلومات لاسته راغلی : دامنا مونی دمانۍ دسپینې کوټې دساتنې دکتابونو دمشر له خوا میرزانپترهورته :
" کله چې دغه لیک تاته ورسېد اوټکی په ټکی دې هغه ولوست ، ستا په زړه به زورو درد راشی ، لکه یوه پاڼه چې دتوپان په لاس کې وی ځکه چې په سیند کې به دډوبیدو له ناوړه پېښې خبر شی. پېښې داسې وواهه چې دتېښتې توان یی نه درلود . فکر وکړه چې دالاهې له مېنځه تلل ، دقومونو له مېنځه تلل ، اودختیز اولویدیز دپاچا له مېنځه تلل . خوب په اوبو کې له یو ستر شی نه یو وړوکې اوناچاره کس جوړکړ کوم خبر به له دې معلوماتو سره چې تاته دروړسېدل برابروی ".
د الله (ج) دا معجزه چې بنی اسراییل یی سم سلامت له سره سمندرګی څخه تیر کړل تر ډیرو څېړنو لاندې راغلې . لرغون پېژندونکی نه یواځی له مصر نه دسره سمندرګی لورته دبنی اسراییلو دتېښتې تګلوری بلکې دهغوی دیو ځای کیدو ځای یی هم دفرعون له لښکر سره موندلی چې غرونو راچاپېر کړی . دغه غر دجبل موسی په نامه یادېږی اودسینا په ټاپووزمه کې دسره سمندرګی په ساحل کې واقع دی.
پوهانوله ډېرو څېړنو وروسته دسره سمندرګی داوبو ددوه ځایه کیدو په هکله عجیب معلومات لاسته راوړل . دڅېړنو پایلې هغه ډول وې څه ډول چې قرآن عظیم الشأن بیان کړی دی.
دوو روسی ریاضی پوهانو نوم ولزنګر او الکسی اندروسوف ثابته کړه چې موسی (ع) په رېښتیا هم وکولای شول چې سمندر دوځایه کړی . نورو پوهانو ددې احتمال په خلاف فکر کاوه خو دغه دوه ریاضی پوهانو هغه شرایط چې ددغې معجزې لپاره یی شرایط مساعد کړی مطالعه کړل اودا بیا دمعجزی دثابتېدو لامل شول.
دروسیی د ساینس اکادمی دڅېړونی له نظره په سره سمندرګی کې داسې داوبو مخنیونکې یوه غونډۍ شته چې چې داوبو له سطحې سره نږدی ده. په دې ځای کې پوهانو دباد لوری اوچټکتیا چې وکولای شی دغه اوبه نیونکی دجذراومد له اغېزې وچ کړی محاسبه کړ ، په پایله کې څرګنده شوه داسې یو باد چې په ثانیه کې دیرش متره چټکتیا ولری دغه داوبو غونډۍ وچولای شی . نوم ولزنګر چې دروسېې دساینس اکاډمۍ دسمندری څېړنو په دیپارټمنت کې یی کارکاوه داسې وویل: "که چېرې سبایی باد ټوله شپه د ۳۰ مترو په ثانیه کې په چټکوالی په سمندرګی وچلېږی اوبه له اوبه نیونکی نه لرې کېږی اوهغه وچوی. اودبنی اسراییلو لپاره چې په ډیر ګمان شپږلکه تنه به وو څلورساعته یی ونیول څو چې ددو ساحلونو په مېنځ کې دسمندرګی اووه کیلومتره واټن ووهی ، اووروسته له نیم ساعت نه اوبه بیا بهېږی". ولزنګر او دده ملګری اندروسوف دغه مسأله دنیوتن دقانون له لا رې مطالعه کړه اوبیا یی داسې وویل: " زه ډاډه یم چې الله (ج) دځمکې کره دفزیک دقانون له لارې اداره کوی".
باید پام مووی چې دداډول طبیعی پېښې اټکل هروخت کېدای شی. که الله (ج) وغواړی هروخت چې دباد مناسب ځای ، مناسب وخت اومناسبه چټکتیا سره راټوله شی دغه معجزه تکراریدلای شی. دموضوع اهمیت په دې کې دی چې معجزه هغه وخت پېښه شوې چې موسی (ع) اوملګری یی له سمندرګی نه تیرشول. اوبه هغه وخت بېرته یوله بل سره یوځای شوې کله چې فرعون اولښکر یی دسمندر په مېنځ کې دغه ځای ته رسېدلی وو. اودا دعاقلانو اومؤمنانو لپاره ستر عبرت دی. برسېره پردې په داسې ستونزمن حالت کې د الله (ج) پرحکم باندې د موسی (ع) باور دمعنوی ارزښتونو یوه ښه بېلګه شمیرل کیدای شی.

قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ

وې ویل هېڅکله نه ، رب له موږ سره دی اوموږ ته لارښوونه کوی(الشعرا ۶۲).



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه ستونزې چې فرعون اود ده ملګرې ورسره مخامخ شول

دمصرخلک اوفرعون داسې په اوهامو اودخوخدایانو په عبادت کې غرق ول چې دموسی (ع) حکمت اومعجزو ونه شو کولای ددوی زړونه نرم کړی اوله خرافاتو نه یی لرې کړی.

وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ

اووی ویل که که داسې آیتونه دې راوړې وی چې موږ جادوکړی ، موږ به هیڅکله هم ایمان رانوړو (الاعراف ۱۳۲).

نظریه دومره کبر سره الله [ج] ډیر مصائب دوی ته راولېږل څوچې دوی تنبیه شی اوکواکې اصلاح به شی . لومړنی ددغو مصایبو وچکالی وه چې دقحطۍ لامل شوه

وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ

اوفرعونیان مو په وچکالۍ اوقحطۍ اخته کړل څو ګواکې پاملرنه وکړی(الاعراف ۱۳۰).

دمصر کرنه چې دنیل په سیند پورې تړاو لری ډیره اغېزمنه شوه ، په داسې حال کې چې چې فرعون اودوستان یی دالله[ج] اوپیغمبر په ردولو سره اغېزمن شول ، خوبیایی هم دغه حالت دموسی[ع] له بد شاګوم نه وګاڼه بیا الله [ج] په نوروآزموینتنو کې واچول.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ

بیا مو توپان او ملخان او سپږۍ اوچونګښې اووینه چې یو له بله بېلې نښې وې پرهغوی را ولېږل بیا هم هغوی کبر وکړ اوګناه کوونکی قوم ؤ(الاعراف ۱۳۳).

ددغو ټولوطبیعی پېښو تفصیل چې په قرآن کې یادشوی دپیپروس په کتیبو کې راغلی . موږ له دغو پېښو دقرآن له لارې خبر شوی یو. خو دغه معلومات په نولسمه زېږدیزه پېړۍ کې دمصر دتاریخ په موندلو سره نورو پوهانو څرګند کړی. کله چې په ۱۹۰۹کال داپیور پیپروسونه وموندل شول دهالند دلایدن موزیم ته واستول شول ، ګاردینیر یو مصر پېژندونکی دغه لیکنې وژباړلې.
په پیپروس کې دقحطۍ ، وچکالۍ ، اوله مصرنه دمریانو دتښتې پېښې یادې شوی. برسېره پردې دپیپروسونو لیکوال چې یو مصری (Ipuwer) حکیم دی په خپله یی دغه پېښې په سترګو لیدلی اوداسې لیکی:
"طاعون په ځمکه خور شو ، ټول ځایونه وینې ونیول ، سیند وینه دی . الحق هغه چې پرون لیدل شوی له منځه تللی . ځمکه داسې ستومانه ده لکه لو چې پرې شوی وی ، کوز مصر ژاړی ... په ټوله مانۍ کې د راتلو څه نشته په هغه پوری غنم ، وربشې ، مولخ اوکبان تراولری په ریښتیا سره غلې هرڅېرې له منځه تللی. ټوله ځمکه ډاروونکونارو اولالهاندی نیولې ،... نه له مانۍ نه دورځې څوک وتلی او نه هم چا دخپل ملګری مخ لیدلی ... ښارونه دجزر اومد له لاسه له منځه تللې ... پورتنی مصر وران شو...هرلورته وینې ... طاعون په ټول هیواد کې ... هېڅوک دبابیلوس شمال لورته کښتۍ نه لېږی ... خپلو دصبر ونو او موم کړای شووسره څه وکړو ؟...طلا نشته . انسانان له انسانیت نه بېزاره دی ، او یو غړپ اوبو ته تږی دی. هغه زموږ اوبه دی . نو موږ څه وکړو.هرڅه وران شول . ښارونه وران شول ، پورتنی مصر وچ شوی . په شبېه کې اوسېدل بل مخ شول ".
ددغولرغونو یادښتونو پربنسټ هغه ناوړه پېښې چې مصر پرې واووښت هغه څه دی چې قرآن یادکړی.
د پیپروس په کتیبو کې موسی[ع] دیوه جادوګر په توګه معرفی شوی. (دغه کتیبې دانګلستان په موزیم کې ساتل کېږی) خو فرعونیان په خپلو ټولو هڅو سره چې ویی کړی پر موسی (ع) اوبنی اسراییلو بریالی نشول.
دجادوګر تورپه پرموسی [ع] د الاعراف دسورې په ۱۰۹ آیت کې یاد شوی:

قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ

دفرعون دقام لویانو وویل چې دایو پوه جادوګر دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قرآن کې د فرعون کلمه

په عتيق عهد کې سپېڅلی کتاب (انجيل) دمصر پاچايان د ابراهيم (ع) او يوسف (ع)، په وخت کې دفرعون په نامه يادول. په واقيعت کې دفرعون کلمه ددې دووپيغمبرانو له وخته کارول شوې ده. قرآن کريم د يوسف (ع) په وخت کې دملک کلمه کارولې.

ملک وويل هغه ماته راولی. (يوسف ۵۰).

وَقَالَ ٱلْمَلِكُ ٱئْتُونِى

دمصر پاچا دموسی (ع) په وخت کې دفرعون په نامه يادشوی ، دکلمو دغه توپير چې په قرآن کې شته په عتيق عهد کې په نظر نه راځی . په انجيل کې دفرعون کلمه دمصر ټولو پاچايانوته کارول شوې. په داسې حال کې چې قرآن کلمې ډيرې سمې کارولی دی .
دفرعون لقب دمصرپاچايانو ته کاريده دغه لقب مخکې له ميلاده په څوارلسمه پېړۍ کې د څلورم اينهوتپ په واکداری کې کاريده. په داسې حال کې چې يوسف (ع) حد اقل دوه سوه کاله مخکې له دغې واکمنۍ نه ژوند کاوه.
دبريتانيا دايرة المعارف ليکی چې فرعون دنوې واکمنی لپاره يو دروند لقب وو چې داتلسمولړيو پاچايانو (۱۲۹۲ – ۱۵۳۹مخکې له ميلاده) اوددوه ويشتمې لړۍ پاچايانو له ( ۷۳۰ – ۹۴۰ مخکې له ميلاده) کاريده اودپاچا دکلمې ځای ناستی شو. دامريکا علمی دايرة المعارف هم ددغې کلمې کارونه په همدغه پړاو کې سمه ګڼی.

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ

دغه راز ستا لپاره دپخوانيو خبرونو نکل کوو (طه ۹۹).

څه ډول چې وينو دفرعون کلمه دمصر دتاريخ په يوه ټاکلی پړاوکې دود وه. اوداچې قرآن دمصردپاچايانو لقبونه په بېلابېلو تاريخی پړاوونو کې تشخيص کړی ددغه کتاب له عظمت اوبل اعجاز نه پرده پورته کوی.

## د نوح(ع) توپان

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ
إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ

اونوح مو دخپل قام لپاره ولېږه چې پنځوس کم زرکاله ددوی په مېنځ کې ؤ اوهغوی توپان ونيول ځکه چې ظالمان ول (العنکبوت ۱۴).

نوح (ع) دخپل قام دلارښوونې لپاره ولېږل شو. خو دده قام له ده نه لرې والی وکړاوپه خپل شرک باندې ثابت پاتې شول . نوح (ع) په ډير متانت سره خلک ديوه خدای بنده ګۍ ته راوبلل اوهغوی يې دخدای له نيولو وډارکړل. خوبياهم خلک له ده نه بېزاره شول. الله (ج) نوح (ع) ته وويل چې دالله (ج) منکران به ډوب کړی اومؤمنان چې دحق دين يې قبول کړی هغوی ته به خلاصون ورکړی اوبه يې ساتی.

وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ

اوهغه کسان چې زموږ آيتونه يې دروغ وګڼل ډوب موکړل(الاعراف ۶۴).

اوکله چې دسزا ورکولو وخت راورسېد دځمکې اوبه له سختو بارانونو سره يو ځای شوې اودسېلاولامل شوې ، مخکې له دسېلاو راتلو الله (ج) نوح (ع) ته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا
وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن
كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ
مِنْهُمْ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ

نو وحیه مووږته کړه چې زموږ ترنظرلاندې بېړۍ جوړه کړه اوکله چې زموږ فرمان ورسېد او اوبه دځمکې له سوریو راووتلې په هغه (کښتۍ )کې له ځان سره له هرډول نه یوه جوړه اوخپل اهل واخله ،پرته له هغو کسانو چې مخکې دهغو په هکله درته ویل شوی دی اود ظالمانو له شفاعت نه ماته خبرې مه کوه چې هغوی ټول ډوبېږی. (المْؤمنون 27).

پرته له هغو چې له نوح (ع) سره په بېړۍ کې ول نورټول ډوب شول ان دنوح (ع) زوی هم غرق شو چې دده اطاعت یې نه ؤ کړی اوغره ته تېښتېدلی ؤ .
اوویل شول چې ای ځمکې اوبه لاندې یوسه اوای آسمانه باران بس کړه اواوبه وچې شوې اوامر پایلې ته ونه رسېد اوبېړۍ دجودی غره دپاسه ځای ونیو(هود ۴۴).

وَقِيلَ يَٰٓأَرْضُ ٱبْلَعِى مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقْلِعِى وَغِيضَ ٱلْمَآءُ وَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ

یاد شوی معلومات په قرآن کې چې دالله(ج) لاس نه خوړلی کلام دی له تورات اونورو سرچینو نه معتبره دی ، تورات چې تحریف شوی دی وایی چې توپان په ټوله نړۍ کې پېښ شوی ؤ ، خو قرآنی آیتونه بیا داپه ډاګه کوی چې دنوح توپان په یوه ځای کې پېښ شوی اویواځې هغه قام چې نوح (ع) یې نه ؤ منلی هغه یې له مېنځه وړی. په قرآن کې هېڅ داسې نښه نشته چې له هغه نه په

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ إِنِّى لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ

ټوله نړۍ کې دتوپان پېښېدل جوت شی .

اوموږ نوح دده دقام دلارښوونې لپاره ولېږه اویې ویل چې زه ستاسو لپاره ښکاره ډاروونکی یم(هود ۲۵).

(شعیب وویل) ای زما قامه ستا سو ضد له ما سره ددې لامل نه شي چې تاسو ته هم مصیبت
وَيَٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِىٓ أَن يُصِيبَكُم مِّثْلُ مَآ أَصَابَ قَوْمَ نُوحٍ
ورسېږی کوم
چې دنوح قام ته رسېدلی ؤ(هود ۸۹).

څه ډول چې وینو قرآن وایی چې یواځې د نوح [ع] قام له مېنځه تللی نه دځمکې په سره دهغه وخت ټول خلک .
په هغه ځای کې چې اټکل کېږی دنوح (ع) قام اوسېده ، لرغون پېژندنې داجوته کړې چې یو ځواکمن توپان د عراق دخاورې دډوبېدو لامل ګرځېدلی اوتوپان په ټوله نړۍ کې نه دی پېښ شوی.
"کله چې اوبه لرې شوې بېړۍ دجودی پروچه کېناسته ". دجودی کلمه دیوه غره له نامه نه اخستل شوې چې جودی نومیده په داسې حال کې چې جودی په عربی کې دلوړې سطحې یا غونډی په مانا ده. نو د توپان اوبه دځمکې ټیټې برخې لاندې کړې اوتریوه ټاکلې کچې لوړې شوی . یعنې دځمکې دسر ټوله وچه اوټول غرونه یې نه وو نیولی.

## د نوح(ع) د توپان لرغونې نښې

کله چې طبیعی پېښې ، جګړه اوټولیز مهاجرتونه دیوه مدنیت دله مېنځه تلو لامل ګرځېدلی وی ، دهغه مدنیت نښې نښانې ساتل کېږی .څکه دخلکو کورونه اواسباب یې ژر تر خاورولاندې خښېږی . اوپه هغه صورت کې چې په هغو لاس ونه لګېږی دډېرو مودو لپاره خوندی ساتل کېږی اودغه آثار دلرغون پېژندنې لپاره ښې نښانې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسني عصر کې تاریخ پوهانو اولرغون پېژندونکو د نوح د توپان په هکله کره اوبشپړ مدرکونه موندلي . اټکل کېږي چې دغه توپان به درې زره کاله مخکې له میلاده دسیمې ټول مدنیت له منځه وړی وی. چې د دغه مدنیت آثار زرګونه کاله ترخاورو لاندې پاتې وو.

د دجلې اوفرات ترمنځ دښتو کې ددغه توپان دڅېړنې لپاره ډېر کارشوی. کیندنې ددغه توپان آثار د عراق په څلورو ښارونو کې ښیې : د ار ښار ، د ارچ ښار ، د کیش اوشوریاک ښارونه. کیندنې جوتوی چې دغه ښارونه درې زره کاله مخکې له میلاده توپان له منځه وړي.

د ار د ښار د مدنیت تاریخ چې د تل المقیار په نامه یادېږي اووه زره کاله مخکې له میلاده اټکل کېږي . اودا د بشر د مدنیت له پخوانیو ځایونو څخه دی اونور ډېر مدنیتونه هلته رامنځته شوی اوله منځه تللي .

لرغون پوهانو دخاورو دڅېړنې نه پوه شوی چې دلته داسې یو مدنیت وو چې دیوه ستر توپان له کبله له منځه تللی اوپرځای یی بیا په پراویز ډول بل مدنیت رامنځته شوی. لیونارد وولی د انګلستان د موزیم اود پنسلوانیا دپوهنتون دکیندنولارښوونه دبغداد اودفارس دخلیج ددښتو په منځ کې په غاړه درلوده ، آلمانی لرغون پېژندونکی ورنکلر دوولی دڅېړنو په هکله لیکی:

"د وولی څېړنې دسومریانو له معبد نه لری دیوه غونډی لاندې داسې کبرونه وموندل چې دکبرونو ترډبرینو تختو لاندې واقعی خزانې وې لکه ، ګران بیه پیالې ،ښکلی جکونه ، صراحیانې ، دڅېرو میزونه ، دمروارېدو تختې لاجورد او سپین زر چې ترځمکې لاندې خښ شوی وو اودسازآلې په دیوالونو کې ځوړندې وی.

وروسته له څوورځو دوولی کارکونکو غړ وکړچې موږ دځمکې پرسطح یو ، وولی هلته کوزشو ترڅو هغې سطحې ته ورشی اوځان ډاډه کړی ،وولی فکر وکړ اوبه پای کې ... دادی: دځمکې سطح کې دسیند شګه وه ، هغوی هوډ وکړ چې کیندنو ته دوام ورکړی اوڅا نوره هم وکینی . بیل یی واهه ، درې فټه ،شپږفټه ، لاهم خاوره اوبه پای له لسوفټولاندې خاوره پای ته ورسېده اوله هغو لاندې یی دانسان داوسېدو ځای وموند...."

د ار دښار په غونډې کې ددومره خاورې اوشګویواځینی لامل ډېرې اوبه کیدلای شی چې ددوو مسکونی پوړونو په منځ کې حایل شوی. میکروسکوپیکو څېړنو ښوولې چې دغونډی لاندې دغه دختو پوړونه دسېلاو له لارې جوړ شوی اودومره ستر اوپراخ دی چې دسومریانو مدنیت یی له منځه وړی . دګلمګش حماسې اودنوح د داستان نښې دواړه دعراق دصحرا په کیندنو کې وموندل شوی .

مکس مالوان د لیونارد وولی خبره تاییدوی چې داډول یو رسوبی پوړ یواځې د ستر اوناببره سېلاو له امله جوړیدلای شی. دغه راز وولی ددغې سیمې په کیندنو کې د ار ښارپاتې شونې دالعبید له ښاره چې اوسېدونکویی رنګین کلالی لوښی کارول تشریح کړی دی.

دغه حقیقتونه داجوتوی چې د ار ښار داسې یو ځای ؤ چې دسېلاو له امله بشپړ وران شوی . آلماني لرغون پېژندونکی ورنر کلر هم ددغو کیندنو اهمیت بیان کړی . دی وایی چې دلرغون پېژندونکوڅېړنې ښیې چې دعراق په دغه سیمه کې یو ستر سیلاو پېښ شوی دی.

دعراق بل ښار چې دسېلاو له کبله له منځه تللی دسومریانو دکیش سیمه ده ، چې اوس دطال الاحمر په نامه یادېږی . دسومریانو پخوانی لیکنې دغه ځای وروسته له توپانه دپاچاهی ځای ثبت کړی دی. د شورو پاک ښار چې دعراق په سویل یا بین النهرین کې موقیعت لری اونن دطال الفرح په نامه یادېږی ، هم دیوه پخوانی سېلاونښې لری. دلرغون پېژندنې څېړنې چې په کال ۱۹۲۰ — ۱۹۳۰ز کې د پنسلوانیا پوهنتون داریک شمید له خواسرته رسېدلی دغه کیندنې دخلکو داوسیدودرې پوړونه وښودل چې دماقبل تاریخ په وروستیو پړاوونو کې د پاچایانو تر دریمې لړۍ پورې (۲۱۱۳ نه تر ۲۰۰۴ مخکې له میلاده ) وې. ډیروښانه موندنې دکوردجورښت داداري اسنادو په مخروطی لوحوباندې لیکل شوې کلمې وې چې دډېر پرمختللی مدنیت ښکارندویی کوی چې څه ناڅه درې زره کاله مخکې له میلاده لرغون توب لری.

کله چې ددغو پوهانو نظرېې مطالعه شی روښانه کېږی چې یو ځواکمن توپان د ۲۹۰۰ نه تر ۳۰۰۰ مخکې له میلاده لګیدلی دی. دشمېرنو پربنسټ کله چې مالوان له څلورونه ترپنځو مترو شمید نومی ځای ورسبد نوهلته یی دیوې ژېړې ختې چې شګو اوخاورو پوړې رسېدله دیوه سېلاو نښه وموندہ . دغه پوړ دغونډې سطحې ته نږدې اوچارچاپېره لیدل کېږی چې دشمید دنظر مطابق دسمدت دپاچاهی دورته رسېږی . بل ځای چې دسېلاو له لارې اغېزمن شوی د ارک ښاردی چې دشوریاک جنوب کې موقیعت لری . نن دغه ښار دطال الور په نامه پېژندل کېږی . لکه دنورو ښارونو په شان دلته هم ۲۹۰۰ نه تر ۳۰۰۰ کاله مخکې پورې دسېلاو نښې موندل شوی.

ددجلې اوفرات سیندونه عراق له یوه سرنه تربل سره پوری ویشی . داسې په نظرراځی چې دتوپان په وخت کې دغه دواړه سیندونه ډک شوی اوبه ترې زیاتې شوې چې له بارانونو سره یو ځای یی ستر سېلاو جوړکړی .

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ ۝ وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ

دآسمان ورونه مو په چټکو بهیدونکو اوبوپرانستل اوپه ځمکه کې مو داوبو چینې روانې کړې څو په هغه امر چې ټاکلی مو وو دواړه اوبه سره یو یوځای شوې (القمر 11-12).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دلرغون پېژندنې نبنې وارزول شی څرګندېږی چې تول بین النهرین دسېلاو اوبونیولی ؤ . د ار ، ارک ، شورپاک اوکېش ښارونودسېلاو پاتې شونې لاهم په ځان کې ساتلی چې تول په یوه تکلوری کې قرار لر ی . دبین النهرین ځمکو له اوس نه درې زره کاله مخکې له میلاده ډیر توپیر درلود . دفرات دسیند داوسنی ځای په ختیز کې ؤ اود ار ، ارک ، شورپاک اوکیش ښارونو له تکلوری تېریده نو ښکاره ده چې دفرات دسیند سېلاو په خپلو ساحلونو کې ښارونه له منځه وړی.
الله (ج) د نوح (ع) توپان اودهغه پاتې شونې دځمکې په سر زموږ دعبرت لپاره پرایښی . دپیغمبرانو اوکتابونو له لارې یې تولنو ته لارښوونه کړې . خو هرځلې دالله (ج) ویناوې خلکو تحریف کړی . خلکو نورې موضوع ګانې له خپل فرهنګ ، عقیدو اودودونو اخستی اوپه هغه کې یې نغاړلې اودنوح (ع) داستان یې مغشوش کړی. پاک قرآن له دې نه چې دالله(ج) کلام دی اوده یې په خپله دساتنې ژمنه کړې نو له همدې کبله دلرغون پېژندنې په هکله ډیر دقیق معلومات وړاندې کوی.

## د ارم ښار

دنړۍ نومیالیو ورځپاڼو په کال ۱۹۹۰ کې اعلان وکړ چې دعربو ورک شوی ښار وموندل شو. مهم ټکی دادی چې دغه ښار په قرآن کې یاد شوی دی. ډیر خلک په دې باور وو چې داسې ښار یواځې یو نکل دی اوهېڅکله به هم ونه موندل شی ددې ښارپه موندلو سره خلکو هم ونشوکړای چې دخپلې حیرانی مخنیوی وکړی.
نیکولای کلپ دمستندوفلمونو یو جوړونکی او یو وتلی لرغون پېژندونکی همدغه ښار چې په قرآن کې یادشوی وموند. دعربو دتاریخ دڅېړنو په بهیر کې ده یو په زړه پورې کتاب وموند ، دغه کتاب دانګلیسی توماس برتمن له خوا په کال ۱۹۳۲ زېږدیز کې د Arabia Flix تر سرلیک لاندې لیکل شوی ؤ. Arabia Flix عرب فلیکس دعربو دټاپوسویل ته رومی مقرری وه چې نن دیمن اودعمان یوه برخه ده . یونانیانو دغه ځای عرب یودیمون اوعربی پوهانو په منځنیو پیړیو کې هغه دالیمن السعید په نامه یاداوه ، چې دواړه دغه کلمې دیمن خوښ مانا ورکوی ځکه چې ددې سیمو خلک دهند اوعربستان ترمنځ دګرانبیو مصالو په سوداګری بوخت ول. دغو خلکو کندر چې یو ډول عطر دی له ونو نه لاسته راوړل اوبیا به یې خرڅول.
توماس ددغو سیمو دمیشتو قبیلوپه هکله ډیر په تفصیل سره لیکلی ، دی وایی چې دپخوانیو ښارونو لرغونی آثار یې موندلی . دغه ښار دصحرامیشتو عربو له خوا د اوبر په نامه یادېده. په یوه سفر کې دغو صحرامیشتو هغه لاره چې دعربو یوه وران پخوانی ښارته تله وروښووله . توماس مخکې له دې چې داوبر په هکله خپلې څېړنې بشپړې کړی مړ شو.
نیکولاس کلپ داده ؤ چې یاد شوی ښار د توماس په کتاب کې حقیقت لری ، اوډیر ژر یې دتوماس مطالعې تعقیب کړې . ده داوبر دښار دثبوت لپاره له دوو طریقو نه کارواخست ،لومړی یې دصحرامیشتو خلکو نښې ناسا یا دامریکې دهوایی څېړنو ادارې ته ورکړې څوچې دمصنوعی سپوږمکۍ له لارې یې ځای ومومی اوپه ډیر تینګار سره یې مسولین دې ته وهڅول چې له سیمې نه عکسونه واخلی. برسېره پردې پخوانی قلمی لیکنې اونخشې چې دامریکې دکالیفورنیا دهوتنګتون په کتابون کې وې مطالعه کړې. اوډیر ژر یې یوه نخشه وموندله چې دده دمطالعې لاندې ځای هم په کې وموندل شو. دغه نخشه یونانی مصری جغرافیه پوه پتولمی په دوه سووم زېږدیزکال کې جوړه کړې وه چې په همدې تکلورې کې یې دیوه زاړه ښار موقیعت څرګنداوه.

دده څېړنو د هغوعکسونو له لارې چې له مصنوعی سپوږمکۍ نه اخستل شوی وو مرسته ترلاسه کړه . په دې عکسونوکې دکاروانونو تکلوری چې په سترګو دپېژندلو نه دی دکلپ پام ځان ته راوګرځاوه . داتکلوری له پاسه په آسانۍ سره لیدل کیدای شی کله چې دغه عکسونه ددوهمې میلادی پېړۍ له نخشې سره پرتله شوې کلپ وموندله چې دغه تکلوری په یوه سترځای کې یوله بل سره نښلی چې پخوا یو ښار ؤ.
په پای کې دتوماس ، کلپ اوناسا دمطالعې له برکته دغه لرغونی ښار چې عربانو یې په هکله ډېرې کیسې درلودې وموندل شو. وروسته له لږې مودې کیندنې پیل شوی اودلرغونی ښار پاتې شونې وموندل شوې. اودغه ورک شوی ښار دشګو داتلانتیس په نامه ونومول شو.
له څېړنوخلک په دې یوه شول چې داهمغه دعاد د ښار پاتې شونې دی . پوهانو د ارم هغه ستنې چې په قرآن کې یادې شوې وې وموندلې ، چې دلوړو برجونو په څیر د عاد په ځمکه کې لیدل کېږی. داکتر جورینس زریتس دڅېړنو دپلاوی یوه غړی وویل: نظر پردې چې دغه برجونه د ابر دښار نښې دی اوهم ارم دبرجونو یا ستنو درلودونکی په قرآن کې یادشوی نو دا ټکی پردې دلالت کوی چې ابر همغه د ارم ښاردی چې په عمان کې دی.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ

آیا ودې نه لیدل چې ستا رب له عاد سره څه وکړل چې په ارم کې د ستنو درلودونکی وو هغه چې دهغه په شان مو په نورو ښارونوکې نه وو پیدا کړی (الفجر ۸-۶).

لیدل کېږی چې له قرآن نه لاسته راغلی معلومات چې شوارلس پېړۍ مخکې ویل شوی کټ مټ دتاریخی معلوماتو غوندی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سدوم او گموره ښارونه

حضرت لوط(ع) له ابراهیم(ع) سره په یوه وخت کې ژوند کاوه. هغه دخپل قام دلارښوونې لپاره د ابراهیم(ع) په ګاونډ کې ولېږل شو. دقرآن دشرحې پربنسټ دهغه قام فاحش اولوطی عادتونه ول ، کله چې لوط(ع) د الله (ج) لارښوونه هغوی ته واوروله څو له دې سترې ګناه نه واوړی هغوی له دې نه انکار وکړ چې ګواکې لوط (ع) پیغمبر دی اوخپل دغه ناوړه عمل ته یې دوام ورکړ . په پای کې دغه قام له کلک عذاب سره مخامخ شو اوله منځه ولاړ.

اولوط خپل قام ته وویل چې آیا ناوړه عمل چې هېڅا مخکې له تاسو نه ؤ کړی کوی یې . دښځو پرځای له نارینه ووسره جنسی اړیکه کوی اوتاسو فاسد قام یاست.
(الاعراف ۸۱-۸۰).

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ

اوپه هغوی مو باران واوراوه نو ووینه چې دګناه کوونکو پای څه دی (الاعراف ۸۴).

اوداسې نښې مو له هغوی نه پرېښودې چې دعاقلانو لپاره عبرت وی (العنکبوت (۳۵).

وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ

هغه ښار چې په هغه کې لوط(ع) ژوند کاوه اوبیا وروسته وران شو په پخوانۍ زمانه کې دسدوم په نامه یادېده . داسې په نظر راځی دغه قام چې د سره سمندرګې په شمال کې یې ژوند کاوه اوهغه دول چې قرآن وایی له منځه تللی . دلرغون پېژندنو کیندنو ښوولی چې دغه ښار دبحرمیت سره نږدې داسراییلو اواردن په مېنځ کې واقع دی. پوهان وایی چې په دغه ځای کې دسلفرو سترې زېرمې شته . بنا پردې په دغه ځای کې نه د انسان اونه هم د نورو ژوو ژوند ممکن دی . سلفر داسې عنصردی چې داورغوځونونکو له لارې مېنځته راځی . قرآن دا روښانوی چې ددې ښار ورانېدل دزلزلې او اور غورځونکو له اغېزی دی. آلمانی لرغون پېژندونکې ورنرکلر ددې ځای په هکله وایی:

"له قاعدې سره یوځای دغه ستر درز دصدم او ګمورې له درې سره یوه ورځ په دوزخ بدل شول. ددغو ښارونوله مېنځه تلل دیوې زلزلې له امله رامېنځته شوی چې له برېښنا اوچاودونو سره یوځای وه اویو ستر اوریی هم له ځانه سره درلود. دغه مسأله داورغورځونې لامل شوی چې دهمدې درې په اوږدو کې یې وجود درلود. اوس هم داورغورځونې له کبله سوری اودمذابو اوچونې ډبرو نښې داردن په پورتنیو لمنو کې له شن سره نږدې لیدل کېږی.

داوبلنوډبرودغه پوړ اوتورې ډبری دذلزلې اواورغورځونې ښکاره نښې دی په هرصورت دلوط سیند چې دبحرمیت په نامه یادېږی نیغ په نیغه د ذلزلې مېنځ اوملاکې قرارلری.

دبحر میت قاعده په یو لاندې ځای کې پرته ده . دغه دښته دطبری سیند دشما ل اودعرابه د دښتې دجنوب په مېنځ کې ځای لری .

ددې فاجعې تخنیکی اړخ چې دلوط قام یې له مېنځه یووړ دجیولیوجیستانو له خوا وڅېړل شو. هغوی وښوده چې زلزله په یوه اوږده کرښه کې پېښه شوې. داردن سیند په خپل ۱۹۰ کیلومتری تګلوری کې ۱۸۰ متره لاندې ځی. داردن دسیند دغه ځوړی اود سمندر له سطحې نه لاندې د بحرمیت ټیټ واقع کیدل دیوې سترې جیولوژیکی پېښې څرګندویی کوی.

د اردن د سیند تګلوری یواځې دماتېدلو یوه برخه ده چې په سیمه کې واقع ده دغه ماتېدل دتوروس له غرونو پیل اود سوېل لوری ته د بحرمیت له ساحلونو نه تېرېږی دعرب د دښتې لورته ترعقبې خلیجه پورې په هغه ځای کې چې سورسمندرګی دافریقا په پای کې پرې کوی ادامه لری. داورغورځونې ځواکمن فعالیت دهمدې کرښې په دوام کې شتون لری . په واقیعت کې داورغورځونې تورې ډبرې داسراییلو دګالیلې په غره کې ، داردن په لوړوسطحوکې ، دعقبې په خلیج اونورځایونو کې لیدل کېږی. تولې دغه نښې جوتوی چې په بحر میت کې یوه ستره فاجعه رامېنځته شوې.

دملی جغرافیې مجله د۱۹۵۷ کال ددسمبر دمېاشتې په ګڼه کې داسې لیکی:

"دسدوم لامزروع غونډۍ لکه دیوې څوکې په څېر دبحرمیت په سره لوړه شوې . هېڅا دسدوم اوګمورې دښار آثار نه دی موندلی. پوهان په دې عقېدې دې چې دا دصدم په دره کې ددې سوریو په مقابل کې ول ، اوممکنه ده چې یوې زلزلې اوسېلاو له ځانه سره وړې وی.".

په قران کې موجود معلومات داڅرګندوی چې دغه ښارونه اوس هم د مهم تګلوری په سرکې شته . جیولوجیستانو هغه لاره چې دبحرمیت له سویل ختیزنه پیل اودعربو ترټاپووزمی پوری ترسوریې اومصر پوری دوام لری دهغه دپاره ټاکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَجَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
لَآيَاتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ

اوددوی ښارمو لاندې باندې کړی او له کلکې اوسریښناکې ختې نه موپردوی ډبری واورولی .اوپه دې کې دبصیرت دخاوندانو لپاره دعبرت نښې دی. اودا دلاری په اوږدو کې شته (الحجر ۷۴-۷٦).

## د سباخلک او د عرم سېلاو

پېرۍ پېرۍ وړاندې دسبا ټولنې دعربستان ستر مدنیت جوړاوه. تاریخې سرچینې وایی چې سبا دفنیقیانو غوندې فرهنګ درلود. ډیر په سوداګریزو کړنو بوخت ول . دسبا خلک فرهنګی اومدرن خلک ول . دسبا دخلکو په کتیبوکې دبیاروغاونې ، وقف اوجوړښت کلمې ډیرې کارول شوې . دمعرب بند چې ددوی یو تاریخی اثر دی ددوی دټکنالوژی ښه بېلګه ګڼل کېږی.
دسبا دولت په خپله سیمه کې ځواکمن لښکر درلود . دسبا دپوځی ځواک په هکله په قرآن کې هم یادونه شوې . دسبا دیوه قوماندان پر ځان باور دسبا ملکې ته په ځواب کې موندلی شو:

قَالُوا نَحْنُ أُولُو قُوَّةٍ وَأُولُو بَأْسٍ شَدِيدٍ وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ

وی ویل چې موږ دبشپړ ځواک اوځواکمنو جګړه مارونارینه ووڅخه برخمن یو. نو هوډ ستاسو پرغاړه دی چې په څه شی امرکوی (النمل ۳۳).

دروم په پرمختللی تکنالوژۍ او دمعرب دبند په جوړېدوسره په سباکې ډېرې ځمکې کرل کیدې اوخړوبېدې. دښوځمکو اودسوداګری لارو دوی ته ښه ژوند ورپه برخه کړی وو. خو دوی پرځای ددی چې له خدای څخه شاکره اومنندوی واوسی ناشکره اوسرکښه ول ، اوځه ډول چې قرآن ورته اشاره کوی دوی ته دعرم د بند په نړیدو اودسیلاوپه راتلو سره سزا ورکړل شوه.
دسبا دپاچاهی پلازمینه معرب وه چې دخپل جغرافیای موقیعت په درلودو سره ډیر بډای شوی ؤ. دغه ښار داضحانه سیند ته نږدې ؤ ، هغه ځای چې دجبل بلق سیند ته رسېده دبند دجوړیدو لپاره ښه ځای ګڼل کیده . دسبا خلکو دلته یو بند جوړکړ اوخپل مدنیت ته یی پراختیا ورکړه. په پایله کې یی اقتصاد ډیر ښه شو. معرب دخپل وخت یو پرمختللی ښار ؤ. یونانی لیکوال پلیسی دغه ځای له نږدې لیدلی اودهغه ځای برم اوشین والی یی ستایلی دی.
ددغه بند جګوالی شپاړس متره اوسوریی شپېته متره او اوږدوالی یی شپږسوه شل متره ؤ. ددغه بند له لاری نه زره شپږسوه هکتاره ځمکه خړوبېدله . دسبا په کتېبوکې دغه ځای ددوو جلګو اومعرب په نامه یادشوی . دغه بند بڼونه اودانګوروتاکونه خړوبول . ددغه بند له برکته دغه سیمه ډیره شنه ، حاصل ورکونکې اودیمن ډیره وتلی سیمه شمېرل کیده. دوو فرانسویانو هریوه هولوی او آسترین ددتاریخی اسنادو پربنسټ ثابته کړه چې دغه بند له پخوازمانې نه دلته شتون درلود. دغه بند په کال ۵۴۲ میلادی کې مات اودعرم سېلاو زیاتې ورانۍ رامینځته کړې دانګوروتاکونه ، دمیوو بڼونه اوکښتونه چې سلګونه کاله دسبا دخلکو له خواکښته ترې اخستل کیده ټول له مېنځه لاړل . خلک بېوزلی شول اوپه پای کې دسبا حکومت له مېنځه ولاړ. دغو تاریخی واقعیتونو ته په پام سره کله چې عظیم الشأن قران ته وګورو دابه ومومو چودواړه یوله بل سره مطابقت لری.

لَقَدْ كَانَ لِسَبَإٍ فِي مَسْكَنِهِمْ آيَةٌ ۖ جَنَّتَانِ عَن يَمِينٍ وَشِمَالٍ ۖ
كُلُوا مِن رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوا لَهُ ۚ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ وَرَبٌّ غَفُورٌ
﴿١٥﴾ فَأَعْرَضُوا فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنَاهُم بِجَنَّتَيْهِمْ
جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ أُكُلٍ خَمْطٍ وَأَثْلٍ وَشَيْءٍ مِّن سِدْرٍ قَلِيلٍ
﴿١٦﴾ ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِمَا كَفَرُوا ۖ وَهَلْ نُجَازِي إِلَّا الْكَفُورَ ﴿١٧﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودسبا دخلکولپاره په خپل وطن کې نښې وې په کښ اوښې خوابښونوکي. وخوری دخپل رب له روزی نه اوله هغه منندوی واوسی ددې لپاره چې ستاسو ټاټوبی نعمت لرونکی اونیک ښاردی اوستاسو رب ښښونکی دی. سره له دې هم تاسو مخ وګرځاوه بیا موږ له بندنه سېلاو راولېږه اوددوی ښونه موپه دوو دترخو میوو لرونکی ، ګزاولږشمېر سدرباندې بدل کړل دغه ددوی دناشکری سزاوه اوپرته له ناشکرانه چاته سزانه ورکوو. (سبا ۱۷-۱۵).

په قرآن کې دسبا دخلکوسزا د "سیل العرم" په نامه یاده شوې . دغه کلمې دسېلاو ډول روښانوی. عرم دبند یا خنډ په مانداه. دالعرم سېلاو یعنی هغه سېلاو چې دبند دماتیدو له کبله مېنځ ته راځی . اسلامی پوهان ددغه سیلاو ځای اووخت هم ښکاره کړی علامه مودودی فرمایی:

"د العرم په سېلاوکې ، دعرم کلمه دبند په مانا ده څه ډول چې دعربستان دسویلی برخې په خبرو کې کارول کېږی . هغه کېندنې چې په یمن کې سرته رسېدلی دورانیو پاتې شونې په وار وارسره په همدې مانا موندل شوی . لکه هغه لیک چې دیمن باچا دمعرب ددیوالونو جوړونکی ابرهه ته په ۵۴۳ او ۵۴۲ میلادی کې ورکړی ، همدغه دعرم کلمه دبند په مانا کارول شوې . له همدې کبله دالعرم سېلاو یعنې هغه سېلاو چې دبند دماتېدو له امله مېنځته راغلی . سېلاو تېوله سیمه ونیوه هغه کاناالونه چې دسباخلکو کیندلی وو اوهغه دیوال چې دبند لپاره ددو غرونو په مېنځ کې جوړشوی ؤ ، وران شواوداوبو لګلولو سیستم یی له مېنځه ولاړ. په پایله کې هغه هیواد چې له ښونو ډک ؤ په داسې یوه شاړه بدل شوی چې یو لږ شمېر ترخې اوتروې اود سدرونې په کې وې.

ورنر کلکر عیسوی لرغون پېژندونکی اود (( سپېڅلی کتاب حق ؤ)) لیکوال دامنلې چې دعرم سېلاو هغه ډول چې قرآن یادکړی پېښ شوی دی . دداډول یو بند شتون او دهغه ماتېدل اودټول هیواد اوښونو ورانېدل چې په قرآن کې یادشوی ټول حقیقت لری.

دعرم له سېلاووروسته دسبا خلکو خپل عاید له لاسه ورکړی ، دهغوی ځمکې ورانې شوې هغو خلکو چې له الله (ج) یی مخ ګرځولی وو پرده یی ایمان رانه وړ اوناشکری یی وکړه نوهمداسې سزا ورکړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحجرخلک

د ثمود خلک داسې يوه قبيله ده چې په قرآن کې ياده شوې اود دوی په هکله ډير لږ معلومات شته . تاريخی سرچېنې ښيې چی کلونه مخکې د ثمود په نامه خلکو شتون درلود . داسې ويل کېږی چې دحجر خلک هغه ډول چې په قرآن کې يادشوی ثمود دی څکه چې دثمود بل نوم اصحاب الحجر دی. شايد ثمود د قبيلی نوم اوحجر دهغه ځای نوم دی چې دوی په کې اوسېدل. په حقيقت کې داسمه ده چې يونانی جغرافيه پوه پلنی هم ليکلی چې دثمود خلکو ددوموثې اوحگرې په ښارونوکې چې اوسنې حجر دی ژوندکاوه.

پخوانی سند چې په هغه کې دثمود نوم شته دبابليانو په حکومت پورې اړه لری . دغه سند په اتمه مخکې له ميلاده پېړۍ کې پريوقوم باندې د بابليانو ددوم سارګون باچا د بری په اړه دی . سارګون په يوه جګړه کې هغوی ته دعربستان په شمال کې ماته ورکړه. ددغه قوم ټولې نبې نبانې دپيغمبر حضرت محمد (ص) له زېږېدومخکې له مېنځه تللی. ديونان په پخوانيو يادښتونو کې دهغوی نوم دثمودپه نامه راغلی.

وَلَقَدْ كَذَّبَ أَصْحَابُ الْحِجْرِ الْمُرْسَلِينَ ﴿٨٠﴾ وَآتَيْنَاهُمْ آيَاتِنَا فَكَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ
﴿٨١﴾ وَكَانُوا يَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا آمِنِينَ

اودحجرخلکو پيغمبران دروغجن وګڼل . اوهغه نښې مو چې هغوی ته لېږلی وې له هغوټولونه يې مخ وګرځاوه. هغوی په غرونو کې باامنه کورونه جوړول (الحجر ٨٢-٨٠).

داردن دروم په دره کې اوس هم ددوی دکورنواوظريفو توګل شووډېرو نښې اوځايونه شته چې دپترا په نامه يادېږی . قرآن هم دکورونو په جوړولو اودډېروپه توکلوکې ددغوخلکو استعدادته اشاره کوی.

## په قرآن کې د رياضې معجزې

### په قرآن کې دکلمو تکرار

برسېره پرهغو معجزو چې تر اوسه مو وشمېرلې ، درياضی له نظره نوری معجزې هم په قرآن کې شته ، چې ډيرې بېلګې يې ليدل کېږی اوپه يو شمېر ويې پوهان پوه شوی. يوه له دغو بېلګوځنې دځينو مشخصوکلمو حيرانوونکی تکراردی چې په لاندې توګه يې يادونه کوو:.

- اووه آسمانونه په قرآن کې اووه ځلې يادشوی اودآسمانونو پيدايښت هم اووه ځلې يادشوی..
- دورځې کلمه (يوم) ٣۶۵ ځلې په مفرده توګه اود ورځوکلمه په جمعې ډول (ايام) ٣٠ ځلې ياده شوې . دمياشتې کلمه دوولس ځلې ياده شوی .
- دکرلوکلمه او دونې کلمه هريوه ٢۶ ځلې ياده شوې.
- دمکافات کلمه ١١٧ ځلې اودبخښلوکلمه ٢٣۴ ځلې چې دمکافاتو دوه برابره کېږی ياده شوې.
- دووايه کلمه اووواييی هريو ٣٣٢ ځلې ياده شوې.
- ددنيا کلمه او آخرت کلمه هريوه په مساوی ډول ١١۵ ځلې ياده شوې.
- دشيطان کلمه اوملاييکه کلمه هريوه ٨٨ ځلې ياده شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دایمان اوکفر کلمه هریوه ۲۵ ځلې یاده شوې.
- د دوزخ او جنت کلمې هریوه ۷۷ ځلې یاده شوې.
- دذکات اوبرکات کلمه هریوه ۳۲ ځلې یاده شوې.
- دنیکو خلکو (ابرار) اوبدو(فجار) کلمې هریو درې درې ځلي یادې شوی.
- د تاوده اوړی اوساړه ژمی کلمې هره یوه په مساوی توګه ۵ ځلې یادې شوی.
- دخمراونشې کلمې هریوه ۶ ځلې یادې شوی.

- دپوهېدواوروښنایی کلمې هریو په مساوی توګه ۴۹ وارې یادې شوی.
- دوعظ اوژبې کلمې هریوه ۲۵ ځلې یادې شوی.
- دسود اوفساد کلمې هریوه ۵۰ ځلې یادې شوی.
- داجر اوفعل کلمې هریوه۱۰۷ ځلې یادې شوی.
- دمحبت اواطاعت کلمې هریوه ۸۳ ځلې یادې شوی ،
- دتکلوری یا مسیر اوابداً کلمې هریوه ۲۸ ځلې یادې شوی.
- دمصیبت اوشکر کلیمی هریوه ۷۵ ځلې یادې شوی.
- دشمس اونور کلمې هریوه ۳۳ ځلې یادې شوی.
- دلارښوونې کلمې اودرحمت کلمې په مساوی توګه هریوه ۷۹ ځلې یادې شوی.
- دستونزو کلمه اودآرامښت کلمه هریوه ۱۳ ځلې یاده شوې.
- دښځې اونر کلمه هریوه ۲۳ ځلې یادې شوې چې دواړه ۴۶ کېږی.
- دنارینه (هګې) اودښځې (چر) هریو یواځې ۲۳ کروموزومه لری کله چې سره یوځای شی ۴۶ کروموزمه لری .
- دخیانت اوخبیث کلمه هریوه ۱۶ ځلې یاده شوې.
- دبشر اوانسان کلمه ۶۵ ځلې اودانسان دپراختیا پړاوونه هم ۶۵ کېږی . تراب یا خاوری ۱۷ ځلې ، نطفه ۱۲ ځلې ،علق ۶ ځلې ، اولحم یا غوښه ۱۲ ځلې چې ټول ۶۵ ځلې کېږی یادشوی.
- دصلوات یا لمانځه کلمه ۵ ځلې یاده شوې چې په شپه اوورځ کې پنځه ځلې لمونځ هم فرض دی.

## د ځمکې د وچې او اوبو انډول

د بر یا وچې کلمه ۱۳ ځلې اوبحر ۳۲ ځلې یاده شوې چې ټول ۴۵ کېږی او که دهغو فیصدی وشمېرو دځمکې ۲۸ اعشاریه ۸ په سلوکې وچه ده او ۷۱اعشاریه ۱ په سلوکې اوبه دی ، دحیرانتیا خبر داده چې په همدې انډول وچه اوسمندر دځمکې پرمخ شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په قرآن کې د ابجدشمېرې

دعربی هریو توری یو حسابی ارزښت لری . یعنی هریو توری یوه شمېره څرګندوی اوپه دې توګه دتوریو له مخې محاسبې کېږی. دغې پوهې ته جمل حساب یا ابجد وایی: خلک له دغې پوهې نه په ښلاښلو ځایو کې ګټه اخلی چې یوه ښلکه یی دجفر پوهه ده.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | ٢ | ٣ | ٤ | ٥ | ٦ | ٧ | ٨ | ٩ |
| ا | ب | ج | د | ه | و | ز | ح | ط |
| ١٠ | ٢٠ | ٣٠ | ٤٠ | ٥٠ | ٦٠ | ٧٠ | ٨٠ | ٩٠ |
| ی | ک | ل | م | ن | س | ع | ف | ص |
| ١٠٠ | ٢٠٠ | ٣٠٠ | ٤٠٠ | ٥٠٠ | ٦٠٠ | ٧٠٠ | ٨٠٠ | ٩٠٠ |
| ق | ر | ش | ت | ث | خ | ذ | ض | ظ |
| ١٠٠٠ | | | | | | | | |
| غ | | | | | | | | |

جفر دوړاندوینې پوهه ده . پوهان دکلمو حسابی مانا تعبیروی . دابجد اوجفر په مېنځ کې توپیر دادی چې ابجد پېښ شوی حالت اواوسنی حالت ښکاروی اوجفر دراتلونکو پېښو احتمال بیانوی.
دغه علوم دقرآن کریم له نازلېدو سلګونه کاله وړاندې دخلکو په مېنځ کې رواج درلود. دعربو خلکو تاریخی پېښې دابجد په توریو لیکلی اودهرې پېښې نېټه یی ثبتوله اوبیا وروسته دعددی مانا په زیاتولو سره یی کولای شول نېټه ومومی.
که قرآنی ځینې آیتونه دابجد له نظره مطالعه کړو داسې رقمونه موترسترګو کېږی چې د آیت له موضوع سره اړیکه لری . کله پوهېږو یوه پېښه سمه په هغه وخت کې شوې چې دابجد له لاری له

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ

قرآنه استنباط شوې پوهیږو چې دا دیوه رمز په شانې پېښې ته یوه اشاره ده. (والله اعلم). په کال ١٩٦٩ میلادې کې دسپوږمۍ په کرې باندې دپل اېښېدوپه هکله قرآن کې داسې راغلی:
هغه ګړۍ نږدې شوه اومیاشت شق شوه (القمر ١).

په عربی کې دانشقاق کلمه دسوری کیدو ، شق کیدو ،دیوشی دلوړیدو لامل ، دځمکې کیندل اوکولبه کولو په مانا ده.
بیا مو ځمکه شق کړه اوله هغه نه مو حبوبات راشنه کړل. (عبس ٢٧-٢٦).

ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾

وینو چې انشقاق دشق کولو یادځمکې د څیرلواوکولبه کولو په مانا هم کارول شوې ده. ددې موضوع په پام کې نیولو سره د "الشق القمر" موضوع کولای شی په کال ١٩٦٩ کې دسپوږمۍ په کرې باندې دښکته کیدو اودسپوږمۍ په خاوره باندې څېړنوته اشاره وی. (والله اعلم).
په زره پورې داده چې دابجد له نظره په دې موضوع کې هم ١٩٦٩ آیت لاسته راځی.
پام باید وکړو چې دابجد په طریقه کې ډیر بې ارتباطه رقمونه هم لاسته راتلای شی. اودمناسبو رقمونو موندل ډیر لږ دی خو بیاهم له دغه آیت نه لاسته راغلی عدد ډیره عالی پایله په لاس راکوی.
په کال ١٩٦٩ کې امریکایی خلاوهونکو دسپوږمۍ کره په ښلاښلو وسایلو کینلې وه اوخاوره یی دڅېړلو لپاره ځمکې ته راوړې وه.
داهم باید روښانه کړو چې دسپوږمۍ شق کول زموږ دپیغمبر حضرت محمد(ص) معجزه هم وه. خلکو له رسول الله (ص) وغوښتل څوچې یوه معجزه دوی ته وروښیی څو چې دوی ایمان راوړی ، محمد(ص) دګوتې په اشاره سپوږمۍ دوه ټوټې کړه اودهغه په مینځ کې دحرم دغره دوه څوکې لیدل کېدې (بخاری). له دې آیت نه منظور د رسول اکرم(ص) معجزه هم کیدلاشی . خوداچې قرآن داسې یو کتاب دی چې په ټولو زمانو پورې اړه لری نو ځکه په عین وخت کې دسپوږمۍ پرکرې څېړنو ته هم کې اشاره کیدلای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې عددونو ټولګه ۱۳۹۰ کېږی او ۱۳۹۰سپوږمېز هجری کال برابر ؤ له ۱۹۶۹ میلادی کال سره.

## په قرآن کې د نولس عدد معجزه

بله معجزه په قرآن کې د۱۹ عدد معجزه ده په لاندې آیت کې پردې عدد ټینګارشوی.

اوپرهغه نولس تنه ګمارل شوی دی (المدثر ۳۰).

عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ

- بسم الله الرحمن الرحیم له نولسو تورو جوړشوی.
- قرآن ۱۱۴ سورې یعنی (19×6) لری.
- لومړنۍ سوره چې نازله شوې ۹۶ سوره ده چې دقرآن له پایه دپیل لورته تردې سورې پورې ۱۹ سورې کېږی.
- لومړی ځل دشپږنوی یمې سورې لومړنۍ پنځه آیتونه نازل شوی چې دعلق سوره ده . دغه آیتونه ۱۹ کلمې لری.

اقرا باسم ربک الذی خلق * خلق الانسان من علق * اقرا و ربک الاکرم *

۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲

الذی علم بالقلم * علم الانسان ما لم یعلم *

۱۳ ۱۴ ۱۵ ۱۶ ۱۷ ۱۸ ۱۹

څه ډول مو چې ولیدل دغه پنځه آیتونه ۱۹ کلمې لری .د (و ، د ، ب) توری کلمه نه شمېرل کېږی نوځکه نه دی شمېرل شوی.

دقران لومړنۍ سوره یعنې دعلق سوره ۱۹ آیتونه لری اوټول ۲۸۵ توری لری چې (19×15) کېږی.

- دقرآن وروستی سوره یعنې نصر ټول نولس کلمې لری.
- دنصرلومړنۍ آیت "اذاجاء نصر الله و الفتح" له نولسو تورو جوړشوی.
- بسم الله الرحمن الرحیم ۱۱۴ ځلې یعنی (19×6) په قرآن کې یاد شوی .دقرآن ۱۱۳ سورې په بسم الله الرحمن الرحیم پیل شوی اویواځې یوه سوره دتوبې په خپل پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم نه لری. پرځای یی دنمل سوره کې دوه ځلې بسم الله الرحمن الرحیم شته. یو ځل دسورې په پیل کې بیا په ۳۵ آیت کې په زړه پورې داده که چېری دتوبې له سورې نه دنمل ترسورې پورې وشمېرو دنمل سوره نولسمه کېږی.
- که دنمل دسورې شمېره چې ۲۷ ده دهغه آیت له شمېرې سره چې په هغه کې بسم الله الرحمن الرحیم راغلی یعنې ۳۰ آیت سره جمع کړو ۵۷ (19×3) به لاس راځی.
- دتوبې له سورې نه دنمل ترسورې پورې دشمېرو مجموعه ۳۴۲ (19×18) .

(۳۴۲+۲۷+۲۶+۲۵+۲۴+۲۳+۲۲+۲۱+۲۰+۱۹+۱۸+۱۷+۱۶+۱۵+۱۴+۱۳+۱۲+۱۱+۱۰+۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د الله (ج) دنامه مجموعه په ټولو آيتونو کې چې شمېره يې پر۱۹ پوره ويشل کېږی لکه ۱۹ ، ۳۸ ، ۵۷ ، ۷۶ و غيره) ۱۳۳ کېږی يعنی (19×7).
- ديونس ،هود ، يوسف ، ابراهيم ، الحجر دسورې لومړی کلمه "الر" ده.

ددغو تورو دشمېرمجموعه (الف ، لام و را) په دې سورو کې داسې ده:
۲۴۸۹ (19×131) ، ۲۴۸۹(19×131) ، ۲۳۷۵(19×125) ،
۱۱۹۷(19×63) او ۹۱۲(۴۸×۱۹).

- دپيل دتوروشمېر يعنی الف ، لام ، ميم او را مجموعه ۱۴۸۲(19×78) ځلې ده. الف ۶۰۵ ځلې ، لام ۴۸۰ ځلې ، ميم ۲۶۰ ځلې او را ۱۳۷ ځې راغلی.
- د قاف ، حا ، يا ، عين او صاد توری يواځې دقرآن په يوه سوره کې راغلی . په دې سوره کې ق ۱۳۷ ځلې ، ح ۱۷۵ ځلې ، ی ۳۴۳ ځلې ، ع ۱۱۷ ځلې ا و ص ۲۶ ځلې راغلی. چې مجموعه يې ۷۹۸ (19×42) کېږی.
- د "واحد" ارزښت په مانا ديوه ۱۹ عدد دی. دغه کلمې له نوروبېلابېلو کلموسره په قرآن کې کارديدلې خو دالله له کلمې سره ۱۹ ځلې يادشوی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| و | ا | ح | د |
| ۶ | ۱ | ۸ | ۴ |

- دهغو سورو اوآيتونو دشمېرې مجموعه چې د "واحد" کلمه نولس ځلې په کې واقع شوې ۳۶۱ (19×19) دی.
- د "وحده" " عربی کلمه يعنې يواځې د الله بنده کې وکړه په ۷۰آيت ، د ۷ سورې ۴۵ آيت د ۳۹ سورې ، ۱۲ آيت ۴۰ سورې ، ۸۴ آيت د ۴۰ سورې او ۴ آيت د ۶۰ سورې ياده شوې ده. ددغو عددونو مجموعه ۳۶۱ (19×19) کيږی.
- دآيتونو شمېر له لومړنيو مقطعاتو تورو (الم دبقرې دسورې په پيل کې) تر وروستيو (ن د القلم په سوره کې) ۵۲۶۳ (19×277) دی. ددې دواړوسورو په مينځ کې ۳۸ (19×2) سورې چې د مقطعاتو توری نه لری شته. درحمن کلمه ۵۷ ځلې (۱۹×۳) په قرآن کې شته.
- ديرش بېلابېل عددونه په قرآن کې يادشوی چې ټولګه يې (19×8534) کېږی.

۱۰۰۰۰۰+۵۰۰۰۰+۵۰۰۰+۳۰۰۰+۲۰۰۰+۱۰۰۰+۳۰۰+۲۰۰+۱۰۰+۹۹+۸۰+۷۰+۶۰+۵۰+۴۰+۳۰+۲۰+۱۹+۱۸+۱۷+۱۶+۱۵+۱۴+۱۳+۱۲+۱۱+۱۰+۹+۸+۷+۶+۵+۴+۳+۲+۱=۱۶۲۱۴۶ (۸۵۳۴× ۱۹)

- برسېره پردې ديرش عددونو په قرآن کې اته کسری عددونه هم يادشوی (۱/۲ ، ۱/۱۰ ، ۱/۸ ، ۱/۶ ، ۱/۵ ، ۱/۴ ، ۱/۳ ، ۲/۳) يعنی ټول عددونه ۳۸ (۱۹x۲) کېږی.
- لومړنۍ سوره چې ۱۹ آيتونه لری دانفطار سوره ده چې دالله په کلمې پای ته رسېږی . اودا دپای له لوری نولسمه دالله کلمه ده. د "ق" سوره ۵۷ دق توری لری يعنی(۱۹×۳) دی. دغه راز دشوری سوره هم چې دق په مقطعه پيلېږی ۵۷ دق توری لری چې بياهم (۱۹× ۳) کېږی.
- د ق سوره چې پنځوسمه سوره ده او ۴۵ آيتونه لری ، نو مجموعه يې ۹۵ (۱۹×۵) کېږی.
- د شوری سوره چې دوځلويښتمه سوره ده ا و ۵۳ آيتونه لری چې ټولګه يې بياهم ۹۵ يعنی (۵×۱۹ ) کېږی.
- د مجيد کلمه چې د "ق" سورې په لومړنی آيت کې راغلی دابجد له نظره ۵۷ کېږی اوپه دې سوره کې دق توری ۷۵ ځلې راغلی چې ۵۷ هم معادل دی له (۱۹×۳) کېږی.
- په قرآن شريف کې دق توری مجموعه ۷۹۸ کېږی چې مساوی دی له (۱۹× ۴۲) کېږی او دق سوره ۴۲ سوره ده چې دمقطعاتو توری په کې راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "ن" دقلم سورې په سره کې راغلی چې ټول ۱۳۳ (۱۹× ۷) عدده "ن" په دې سوره کې شته .
- د (ی) او (س) توری دیس سورې په سرکې راغلی . "س" په دې سوره کې ۴۸ ځلې او د ی توری ۲۳۷ ځلې راغلی چې ددواړو مجموعه مساوی ده له ۲۸۵سره یعنی(۱۹× ۱۵) .
- د "الم" دمقطعاتو توری دشپږو سورو په سرکې راغلی . په البقره ، ال عمران ، العنکبوت ، الروم ، لقمان او السجده کې. د الف دتوری شمیر دلام اومیم هریو په دې سوره کې د۱۹ ضریب دی . ددغو تورو ټولګه په دغو سورو کې ، ۱۹۸۷۴ (۱۹×۱۰۴۶) کېږی.

۹۸۹۹ (۱۹×521)، ۵۶۶۲ (۱۹× 298)، ۱۶۷۲ (۱۹×88)، ۱۲۵۴ (۱۹× 66) و ۸۱۷ (۱۹×43)

- کله چې دهغو سورو دآیتونو شمېر چې ضریب یی۱۹ کېږی له بسم الله سره جمع کړو لاندې عدد ترلاسه کېږی. ۱۹× ۱ نولسمه سوره یا دمریم سوره ۹۹ آیتونه
۱۹× ۲سوره ۳۸ یا ص ۸۹ آیتونه

۱۹× ۳ ، ۵۷ سوره یا حدید ۳۰ آیتونه
۱۹× ۴سوره ۱۱۴ یا ناس ۷ آیتونه

چې ددې سورتونو دآیتونو شمېر ۲۶۶ (۱۹× 14) کېږی.

- دفرمان یوسه کلمه نولس ځلې .
- د عبد ، عابد او اعبدو کلمې مجموعا ۱۹۲ (۱۹× 8) ځلې یادې شوی.
- د الله نوم الواحد دابجد له نظره ۱۹ دی.
- الجامع نوم دابجد له نظره ۱۱۴ (۱۹×۶) دی.

**۱۹یوخارق العاده عدد:**

نولس د۹ او ۱۰ په توان دیو مجموعه ده . د۹ او ۱۰ په توان د ۲ مېنځ کې توپیر هم ۱۹ کېږی .

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | ۹+۱۰ | $10^1$ |
| ۱۹ | ۸۱-۱۰۰ | $10^2$ |

- لمر ، سپوږمۍ اوځمکه وروسته له هرو ۱۹ کلونو دیوې مستقیمې کرښې په سر واقع کېږی.
- دهالی لکۍ لرونکی ستوری وروسته له ۷۶ کلونو یعنې (۱۹×۴ ) له شمسی یالمریز نظام څخه تېرېږی.
- دانسان بدن ۲۰۹ ( ۱۱×۱۹ ) هډوکی لری.
- دانسان لاس ۱۹ هډوکی لری ( پرته دلاس له بنده)

**د پاسکال په مثلث کې د۱۹ ځای:**

- دپاسکال په مثلث کې دلومړنیو عددونو مجموعه ۳۸ یا (۲×۱۹) کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١
١ ١
١ ٢ ١
١ ٣ ٣ ١
١ ۴ ۶ ۴ ١
١ ۵ ١٠ ١٠ ۵ ١
١ ۶ ١۵ ٢٠ ١۵ ۶ ١
١ ٧ ٢١ ٣۵ ٣۵ ٢١ ٧ ١

- د پاسکال د مثلث د۱۹ لومړنیو عددونو ټولګه ۵۷( ۳×۱۹ ) کېږی.
- د پاسکال مثلث په ریاضی کې د احتمالاتو د محاسبې لپاره پکارېږی.
- نو د لومړنیو عددنو مجموعه او د پاسکال د مثلث د۱۹ لومړنیوعددونومجموعه دواړه په ۱۹ دتقسیم وړدی.

**دقرآنی ځینې آیتونو اوپاسکال مثلث په مبنځ کې یوشمېرابرېکې:**

- دعلق سوره چې لومړنۍ نازل شوې سوره ده له وروسته نه مخکې لورته نولسمه سوره ده . دغه سوره نولس آیتونه لری چې ټول له ۲۸۵ توری ده یعنې ( ۱۹ ضرب د۱۵) ددې آیت پنځه لومړنی آیتونه ۷۶ توری لری یعنی ۴ ضرب د۱۹ . د القلم د سورې لومړنی آیتونه چې دویمه نازل شوې سوره ده له ۳۸ کلمو نه جوړه شوې (۱۹×2).
- دریمه وحیه چې دمزمل سوره وه ۵۷ کلمې (۱۹×3) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادبیاتو له اړخه د قرآن کمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قرآن د تقليد ناشونتيا

د قرآن اعجاز مو د ساينس اوحساب اوتاريخ له اړخه تردې دمه وښووه . برسېره پردې د قرآن يوه ځانګړنه داده چې له ادب اوبلاغت نه ډکه بنه لری.چې تقليد ترې نه شي کيدلای. بايد ووايو چې قرآن د انسانانود هر عمر اوهرجنس ډلو ته خطاب کوی . قرآن په يوه روښانه او جامع ژبه خپلوويونکو ته په هرکچه زده کړې اوپوهه چې لری ليکل شوی.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

اوموږ قرآن آسانه کړ لپاره دیادولو(القمر ٢٢).

وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٣﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾

سره له دې چې قرآن يوه آسانه اوجامع بڼه لری خو کله هم د قرآن د بيان تقليد څوک کولای نه شي.

که تاسو په هغه څه کې چې موږ دخپلو بنده ګانو لپاره لېږلی شک کوی نو يوه سوره دهغه په څير جوړه کړی اوخپل شاهدان پرته له الله نه خپلې مرستې ته وغواړی که ريښتيا وايی. که ومو نشو کړای اوهيڅ کله هم نشی کولای نو وډار شی له هغه اورنه چې دسونګ توکی يې انسانان اوډبرې دی او دکافرانو لپاره يې وعده شوې. (البقره 23-24).

د قرآن يو اعجاز چې په پورتنيو آيتونو کې ورته اشاره شوې دادی چې هيڅ څوک هم نه شی کولای له هغه سره مشابه سورې اوآيتونه جوړکړی ، څومره چې د يوه کلام د تقليد امکان ناشونی وی په همغه کچه يې اعجاز ستر دی . بياکله چې ميلياردونه انسانان دسلګونو کلونو په ترڅ کې نه شي کولای د قرآن سره مشابه څه وليکی د دغه مبارک کتاب پر اعجاز باندې ټينګ دليل دی.

اربوتنات په خپل کتاب چې دانجيل اوقران د جوړښت ترنامه لاندی ليکل شوی داسې وايی:

" د ادبياتو له اړخه قرآن ديوې خالصې عربی ښلکه ده چې په نيمه شعری اونيمه نثری ډول ليکل شوی. ان دژبې استادان کله کله دخپلې ژبې دادبياتو قاعده اودستوردقرآنی آيتونو پربنسټ تنظيموی. سره له دې چې ډيرو خلکو زيار ايستلی خو هيڅوک هم پردې نه دی بريالی شوی چې په داسې ښکلې بڼه څه وليکی. ".

هغه کلمې چې په قرآن کې کارول شوی هم دمانا اوهم له روايی اړخه دځانګړی فصاحت ، اغېزې اودليکلودبڼې څخه برخمنې دی . په داسې حال کې چې هغه کسان چې نه غواړی په قرآن ايمان راوړی دځان لپاره ډيرې بانې لټوی هغوی دقرآن له ټولو ښکلاوو نه انکارکوی.

## په قرآن کې د قافيو عالی ماهيت

دقرآن تقليد ځکه هم ناشونی دی ، سره له دې چې عربی دی خو د مروجوعربی بيانونو ډول يې په کارنه دی وړی.

قافيې داډول په قرآن کې کارول شوی چې د قافيه لرونکی نثر په نامه يادې شوی اودهغوی دکارونې ډول دژبو پېژندونکو له لوری يو معجزه ګڼل شوې.

پروفيسر عادل عباس يو وتلی انګريز ساينس پوه د قرآن پرقافيو اوتورو ډېرې څېړنې ترسره کړی . هغه ډير حيرانوونکی حقيقتونه دقرآن د قافيو په هکله په خپل کتاب کې چې دساينس معجزې نومېری يادې کړی.

څه ډول چې څرګنده ده د قرآن ٢٩ سورې په مقطعاتو پيل شوی چې ټول څوارلس توری دی : ا ، ص ، ط ، ح ، ی ، س ، ق ، ل ، م ، ک ، ع ، ن ، ر ، ه.

له دې ډلې نه که د "ن" توری مطالعه کړو دقلم په سوره کې 88.8% آيتونه د الشعرا په سوره کې 84.6% آيتونه د النمل په سوره کې 90،32% آيتونه او القصص په سوره کې 92،5% آيتونه په نون باندې قافيه شوی.

ټول ټال په قرآن کې 50،58% آيتونه دنون په توری قافيه شوی په بل عبارت دقرآن له نيمايی نه ډير آيتونه دی چې قافيه يې په نون سره تړل شوې. ددنيا په هيڅ يوه ژبه کې او هيڅ کتاب کې دا شونې نه ده . چې له نيمايی کتاب نه ډير په نوم سره مقفی شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دقرآن قافيی په ټوليز ډول مطالعه کړو موږ وينو چې اتيا په سلوکې دهغوی يواځې په درې غږونو يعنی الف ، ميم ،او نون چې له ا ، م ، ن ، ی ، نه جوړشوی . که نون وويستل شی نو ۳۰ په سلوکې آيتونه په م ، ا او ی باندی مقفی شوی.

لاندې جدول پورتنيو څلورګونو يادشوو توروباندی دقافيې ترل راښيی :

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

ديوه اوږده قافيه لرونکی نثر جوړول چې له دوونه تر درې زروپورې کرښې له لړشمېر غږونو سره قافيه شوی وی دعالی کيفيت نښانه ده اوکافی ده چې د ادبې ډير اوچتو بېلګواتل وپېژندل شی.
دقرآن اوږدوخبروته په پام سره دغه قافيه ترل ډير خارق العاده کار دی.
قرآن په حقيقت کې د بېلابېلومعلوماتو اوماناو يوسمندر دی . دغومعلوماتو کې دينيات ، اخلاقيات ، عبرت ، د الله (ج) د پيغمبرانو پيغامونه ، ساينس ، تاريخ اونورشامل دی . خو دا سره له دی چې ډير روان بيان لری په قافيه لرونکی اوښکلی ډول راوړل شوی. هېڅ ډول انسانی هڅه نه شی کولای چې ټول دغه ډول معلومات په څو قافيو کې سره راټول کړی ، نو دحيرانتيا ځای نه دی چې دعربی ژبو پېژندونکودقرآن تقليد ناشونی بللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایله (نتیجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قرآن د الله (ج) کلام دی

ټول هغه څه چې مو په دې کتاب کې ولوستل یو څه روښانوی چې دغه خارق العاده کتاب چې د محمد(ص) مهر له ځانه سره لری د الهام اوپوهې سرچینه ده. دغه کتاب چې ډیرې موضوع ګانې په ځان کې رانغاړی دالله (ج) کتاب دی . هره پراختیا چې په ساینس ، ټکنالوژی ، تاریخ اولرغون پېژندنه کې مېنځ ته راځی ددغه کتاب حقانیت نورهم روښانوی. د قرآن له نازلیدو وروسته په ساینس کې داسې پرمختګونه رامېنځته شوی چې قرآن یی وړاندوینه کړې وه چې هیڅ کتاب په نړۍ کې داسې نشته چې دتیروپیښو بیان اودراتلونکی وړاندوینه یی په سمه توګه کړی وی. د قران ویناوی او وړاندوینې داوومې زېږدیزې پیړۍ دعربو دپوهې دکچې اوتکنالوژۍ نه ډیرې اوچتې وې دې موضوع ته په پام سره راځی له ځانه وپوښتو چې:

- آیا په اوومه میلادې پیړۍ کې څوک پوهیدل چې دځمکې فضا له اووپوړونو نه جوړه شوې ؟
- آیا په همدې پیړۍ کې دمور په رحم کې دماشوم دودې په پړاوونو څوک پوهېدل ؟
- آیا په دې پیړۍ کې څوک پوهیدل چې نړۍ تل دودې په حال کې ده ؟
- آیا په یاده شوې زمانه کې څوک پوهېدل چې دهرچا دګوتونښې یواځې په همغه شخص پورې اړه لری ؟
- آیا په دې پیړۍ کې کله چې دهروغلیف لیک دلوستلو وړنه وو څوک پوهېدل چې همان دفرعون له نږدې کسانو څخه ؤ.
- آیا په اوومه میلادی پیړۍ کې څوک پوهېدل چې دفرعون لقب یواځې څوارلس کاله وړاندې له میلاده کاریده اومخکې له هغه نه ؤ ؟
- آیاپه دې وخت کې دوربڅو اود ارم دستنوپه هکله چا معلومات درلود ؟

ددې ټولو سوالونو ځواب یودی: هغه داچې قرآن دالله جل جلاله برحقه کلام دی هغه الله (ج) چې هرڅه یی پیداکړی اوهرڅه دده په پوهې پورې اړه لری ، په قرآن کې هریو معلومات دقرآن داعجاز یوه نښه ده.

نو پرټولوانسانو لازمه ده چې هرڅه ژر دغه کتاب دخپل ژوند لارښود وګرځوی.

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا

آیا په قران کې فکر نه کوی . که دالله نه دغیر له لوری وای په هغه کې به یی ډیر اختلاف موندلای وای (النساء ۸۲).

وَمَا كَانَ هَٰذَا الْقُرْآنُ أَن يُفْتَرَىٰ مِن دُونِ اللَّهِ وَلَٰكِن تَصْدِيقَ الَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ الْعَالَمِينَ

اوداقرآن داسې نه دی چې غیر له الله نه بل چا جوړکړی وی. اونورکتابونه مو چې په لاس کې درلودل هغه تصدیقوی اوپه تفصیل یی بیانوی. له شک پرته دا(قرآن) دعالمیانو درب له لوری دی (یونس ۳۷).

وَهَٰذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ وَاتَّقُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ

اودامبارک کتاب دی. له هغه نه متابعت وکړی اوپرهېزکونکی شی څوچې پرتاسو رحم وشی(الانعام ۱۵۵).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژباړن  چاپ شوي کتابونه:
د هيلو غوټۍ شعري ټولګه
پراروايي ستونزو برې
اوسنی عصر
د قرآن اعجاز ژباړه (همدا کتاب)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**